د ۱۳۹٦ کال د جزا کود پر بنسټ د اختصاصي جزا حقوق

(۸، ۹ او ۱۰)

# د پیسو وینځلو جرمونه

Money Luandring Crimes

چنګاښ ۱۳۹۸

ترتیبوونکي: د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDOL)

کابل، افغانستان

وېبپاڼه:www.idlo.int

## د دې جزوې په اړه

د دې جزوې ټول اړوند مواد او درج شوي موارد د افغانستان قوانینو سره سم ترتیب او جوړ شوي دي. د افغانستان قوانینو د نوو تعدیلاتو سره سم د ډاډ په موخه لازمه ده چې دغه جزوه وخت پر وخت بیا بیا وکتل شي. په دغه جزوه کې هر رنګه جزئی یا ټولیز بدلون د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) پورې اړوند او ځانګړی دی.

ټول هغه مواد چې د دې کتاب منځپانګه جوړوي ستاسی د ګټې اخیستنې او نه سوداګرۍ لپاره دي. د دې موادو طبع او خپرول د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) لپاره محفوظ دي.

**په دې کتاب کې کارول شوي قوانین او تړونونه:**

- د ۱۳۹٦ کال د جزا کود.
- د ۱۳۹۳ د پیسو د وینځلو او له دې جرم څخه د را پیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون.
- د ۱۳۹۳ کال د جزایي اجراآتو قانون.
- د ملګرو ملتونو د مخدره موادو او روان اړوونکو درملو د ناقانوني قاچاق پر وړاندې د مبارزې کنوانسیون، ویانا ۱۳٦۷.
- د ۱۹۸۸ کال د ویانا تړون.
- د ۱۹۹۰ کال د ستراسبورګ تړون.

# د مطالبو لړليک

**سريزه ........................................................................................................ ۱**

**لومړی برخه**

**د پيسو د وينځلو جرم کليات**

**لومړی مبحث: د پيسو د وينځلو مفهوم، مرحلې، طريقې او آثار: ........................................ ۱**

لومړی وينا: د پيسو وينځلو مفهوم:......................................................................... ۱

دويمه وينا: د پيسو د وينځلو مرحلې:........................................................................ ۱۳

درېيمه وينا: د پيسو د وينځلو ميتودونه:..................................................................... ۱۵

څلورمه وينا: د پيسو د وينځلو اغېزې:........................................................................ ۱۷

**دويم مبحث: د پيسو د وينځلو پر وړاندې د مبارزې حقوقي سرچينې او ملي او نړيوالې ادارې: ..........۲۰**

لومړی وينا: په افغانستان کې د پيسو د وينځلو حقوقي سرچينې او قواعد: .............................. ۲۰

دويمه وينا: د پيسو د وينځلو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د حقوقي قواعدو د مراتبو سلسله:........ ۲۶

درېيمه وينا: اړونده ملي او نړيوالې ادارې: ..................................................................... ۲۷

**د لومړی برخې پايليزه:.......................................................................................۳۷**

**دويمه برخه**

**د پيسو د وينځلو جرم عناصر**

**لومړی مبحث: د پيسو د وينځلو جرم قانوني عنصر: .................................................... ۲**

**دويم مبحث: د پيسو د وينځلو جرم مادي عنصر:........................................................ ۲**

لومړی وينا: د پايلې درلولو او مطلق والي له پلوه د پيسو د جرم ډول: ..................................... ۲

دويمه وينا: جرمي کړنه: ............................................................................... ۳

دریمه وینا: د پیسو د وینځلو جرم موضوع: ........................................................ ۹

څلورمه وینا: هغه اصلي جرم چې له هغه څخه وجوه او شتمني ترلاسه کېږي: ........................................ ۱۱

**دریم مبحث: د پیسو د وینځلو جرم معنوي عنصر: ........................................................ ۱۸**

لومړۍ وینا: د پیسو د وینځلو په جرم کې د معنوي عنصر ډول: ........................................ ۱۸

دویمه وینا: د جرمي قصد د رامنځته کېدو وخت: ........................................................ ۲۰

**د دویمې برخې پایلیزه: ........................................................ ۲۵**

## دریمه برخه

## د پیسو د وینځلو جرم پر وړاندې د مبارزې وقایوي او جزایي تدابیر

**لومړی مبحث: د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې وقایوي او د څارنې تدابیر: ........................................ ۲۹**

لومړۍ وینا: د پیسو د وینځلو د مخنیوي وقایوي تدابیر: ........................................ ۳۰

دویمه وینا: د پیسو وینځلو څخه د مخنیوي څارنیز تدبیرونه: ........................................ ۵۸

**دویم مبحث: د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې جزایي تدبیرونه: ........................................ ۶۲**

لومړۍ وینا: د پیسو د وینځلو جرم مجازات: ........................................ ۶۳

دویمه وینا: د پیسو د وینځلو جرم اړوند جرمونو مجازات: ........................................ ۶۹

**د دریمې برخې پایلیزه: ........................................................ ۹۰**

**آخځلیکونه: ........................................................ ۹۲**

## سریزه

د پیسو پرېمنځل یو ناقانوني فعالیت دی چې مجرمین هڅه کوي څو له دې جرم څخه را پیدا شوي عواید د یو لړ فعالیتونو په پایله کې د قانوني او مشروع عوایدو په بڼه وښيي.

**د موضوع اهمیت:**

د پیسو وینځلو جرم د مالي جرمونو د زیاتوالي سبب ګرځي ځکه چې دا زمینه ورته برابروي ترڅو مرتکبین مالي جرمونه لکه اداري فساد، نشه یي توکي، قاچاق او داسې نور د هغو له جرمونو څخه ترلاسه شوي عواید د مشروع شتمنیو په ډله کې واچوي، ورڅخه استفاده کوي. له بله پلوه، د پیسو وینځلو جرم په ټوله کې د هېواد اقتصاد او په ځانګړي ډول په بازار کې سالمه سیالۍ ته جدي زیان رسوي لکه د پیسو پرېمنځوونکي تر پانګونې پورې د خپلو شتمنیو ته د مشروعیت د ورکولو په هڅه کې دي؛ نو په اساسي برخو کې هیڅکله پانګونه نه کوي او د خپلو موخو په ترلاسه کېدو سره خپلې پانګونې دوباره له هېواد څخه باسي. همدارنګه دا جرم د سازمان شوو جرمونو څخه یو دی او له تخنیکي پلوه د هغه کشف او تحقیق خورا ستونزمن دی او که چېرې په هېواد کې خپور شي، د هغه باور د نړۍ په کچه زیانمنوي او د بهرنیو پانګونو د راکمېدو او حتی له هغه سره د نړۍ د بانکي اړیکو د قطع کېدو لامل ګرځي. له همدې کبله، دې جرم ته رسیده ګي د هېوادونو د لومړیتوبونو په سر کې راځي.

**د لیکلو موخه او ساحه:**

دا کتاب د دې لپاره لیکل شوی دی ترڅو په روزنیزو برنامو کې ترې ګټه واخیستل شي او ګډونوال وکولای شي څو د پیسو سپینول وپېژني، د هغه عناصر تشخیص کړي او مجازات یې د جزا کوډ له حکمونو سره سم پېشبیني او تعیین کړي. هغه اساسي پوښتنې چې په دې رساله کې ورته ځواب ورانډې کېږي له دې څخه عبارت دي چې د پیسو پرېمنځل او سپینول څه ته وایي؟ د هغه عناصر کوم دي؟ او د هغه د وقایې لپاره کوم تدابیر باید واخیستل شي؟ او د رامنځته کېدو په صورت کې د هغه مرتکبین په کومو جزاګانو محکومېږي؟ دا ټول موضوعات د (۱۳۹٦) کال د جزا کوډ او د (۱۳۹۳ کال) د پیسو وینځلو د مخنیوي قانون او د هغه د تعدیلاتو او هغه پورې د اړوندو مقرراتو او لوائحو په رڼا کې څېړل کېږي. دا رساله په ځانګړي ډول د پیسو وینځلو په جرمونو کې د کشف او څېړنې، د سیمه ییزو او نړیوالو همکاریو، د مجرمینو د استرداد او داسې نورو مسایلو په اړه بحث نه کوي.

**جوړښت:**

دا کتاب درې برخې لري چې هره برخه یې د یوې جلا روزنیزې رسالې په توګه د تدریس وړ ده:

لومړۍ برخه: د پیسو وینځلو جرم کلیات. په دې برخه کې د پیسو د وینځلو جرم تعریفېږي، مرحلې، طریقې او منفي آثار یې تشریح کېږي. د دې برخې په پای کې ملي او نړیوالې حقوقي سرچینې او همدارنګه مهمې ملي او نړیوالې ادارې چې د دې جرم پر وړاندې مبارزه کوي، معرفي کېږي.

دویمه برخه: په دویمه برخه کې د پیسو د وینځلو جرم مادي او معنوي عناصر په تفصیل سره تشریح کېږي.

درېیمه برخه: په درېیمه برخه کې د پیسو وینځلو جرم پر وړاندې وقایوي او جزایي تدابیر بیانېږي. داسې چې لومړی د مخنیوي تدابیر د پیسو وینځلو د مخنیوي قانون او د مالي عمل کاري ځواک (FATF) د وړاندیزونو په رڼا کې تشریح کېږي او په تعقیب یې د پیسو وینځلو مجازات او د هغه اړوند جرمونه د جزا کوډ په رڼا کې څېړل کېږي.

**د لیکلو میتود:**

په دې روزنیز کتاب کې له تحلیلي توصیفي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده. هڅه پر دې وه ترڅو نوموړې روزنیزه جزوه د قاضیانو، څارنوالانو او حقوقي مساعدینو لپاره عملي جنبه ولري. له دې کبله له ستومانوونکو، سستي رامنځته کوونکو او په بشپړ ډول نظري بحثونو یا هغه بحثونو څخه چې په ښوونیزو پروګرامونو کې یې طرح کولو ته اړتیا نه شته، ډډه شوې ده. خو په ځینو مهمو او اړینو مواردو کې نظري تحلیلي بحثونه د ځانګړي اهمیت پر بنسټ طرح شوي دي. هره برخه د موخو په طرح کولو او د عنوانونو د سرونو په ذکر کولو سره بحث پیلېږي، بیا په هغه کې شامل جرمونه څېړل او تشریح کېږي. په داسې ډول چې لومړی د جرم او یا په هغه پورې د اړوندو کلمو مفهوم تشریح کېږي او په تعقیب یې د هر جرم عناصر او مجازات بیانېږي. په هر درس کې یو شمېر فرضي قضیې، د ګروپي خبرو په موخه مباحثوي پوښتنې، صنفي فعالیتونه، او انتقادي تحلیل او تفکر شامل دي تر څو ګډونوال شننې او ارزونې ته اړ باسي او روزنه ګډونوال محوره وګرځوي. خو لازمه نه ده چې دا ټولې قضیې او پوښتنې په ټولګي کې تر مناقشې او شننې لاندې ونیول شي، بلکې روزونکی د ځانګړي کړل شوي وخت په پام

کې درلودلو سره د هغو ځخه یو ځو غوره کوي. د هر درس په پایله کې د هماغه درس پایلیزه او د ارزونې پوښتنې ذکر کېږي.

## لومړی برخه

## د پیسو وینځلو جرم کلیات

### موخې:

د نوموړې برخې په پای کې به ګډونوال په دې وتوانېږي چې:

- د پیسو وینځلو مفهوم، مرحلې، میتودونه او آثار واضح کړي.
- د پیسو د وینځلو جرم ملي او نړیوالې حقوقي سرچینې لیست کړي.
- د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې او له هغه ځخه د مخنیوي په برخه کې فعالې ملي او نړیوالې ادارې معرفي کړي.
- د افغانستان د مالي استخباراتو د واحد دندې، صلاحیتونه او د کار ډول تشریح کړي په ځانګړي ډول د پیسو د وینځلو په قضیو کې له هغوی سره همغږي رامنځته کړي.

**عنوانونه:**

۱. د پیسو د وینځلو مفهوم.
۲. د پیسو د وینځلو مرحلې.
۳. د پیسو د وینځلو طریقې.
٤. د پیسو د وینځلو آثار.
۵. په افغانستان کې د پیسو د وینځلو سرچینې او حقوقي قواعد.
٦. اړوندې ملي او نړیوالې ادارې.

# لومړۍ برخه

# د پیسو د وینځلو جرم کلیات

په دې برخه کې د پیسو د وینځلو جرم کُلي مسایل په دوو مبحثونو کې څېړل کېږي. په لومړي مبحث کې د پیسو د وینځلو جرم مفهوم، مرحلې، طریقې او آثار واضح کېږي او په دویم مبحث کې د پیسو د وینځلو پر جرم حاکمې ملي او نړیوالې حقوقي سرچینې او همدارنګه هغه ملي او نړیوالې ادارې چې د دې جرم پر وړاندې مبارزه کوي، معرفي کېږي.

## لومړی مبحث: د پیسو د وینځلو مفهوم، مرحلې، طریقې او آثار:

د پیسو د وینځلو اصطلاح چې په انګلیسي ژبه کې ورته (Money laundry) وايي، د لومړي ځل لپاره د شلمې پېړۍ په دویمه لسیزه کې د امریکا د متحده ایالتونو د شیکاګو (Chicago) په ښار کې وکارول شوه. ویل کېږي چې د نشه يي توکو مافیا د نشه يي توکو له قاچاق څخه د رامنځته کېدونکي عوایدو د مشروع ښودلو په منظور یوه " خشکه شويي" رامنځته کړې وه او د قاچاق عواید به يې د خشکه شويۍ له عوایدو سره یوځای کول او ټول به يې د خشکه شويۍ د عوایدو په توګه څرګندول.

د دې مبحث لاندې لومړی د پیسو وینځلو جرم تعریفېږي (لومړۍ وینا)، بیا د هغه مرحلې واضح کېږي (دویمه وینا) او په پای کې د پیسو وینځلو جرم منفي آثار څېړل کېږي (درېیمه وینا).

### لومړۍ وینا: د پیسو وینځلو مفهوم:

د پیسو پرېمنځل لومړی د افغانستان د قوانینو له نظره، بیا د مهمو نړیوالو تړونونو له نظره تعریفېږي.

### لومړی مطلب: د افغانستان په قوانینو کې د پیسو وینځلو مفهوم:

د ۱۳۹٦ کال په ۴۹۸مه ماده کې د پیسو وینځلو جرم داسې تعریف شوی دی:

**" (۱) د وجوهو او شتمنۍ د منشاء د غیر قانوني والي په هکله د (خبرتیا) آګاهۍ په لرلو سره د لاندې اعمالو ارتکاب د پیسو سپینولو جرم پېژندل کېږي:**

**۱- د غیر قانوني منشاء لرونکو وجوهو او شتمنۍ انتقال یا بدلون (تغییر).**

**۲- د جرم له ارتکاب څخه له را پیدا شوو قانوني عواقبو څخه د اصلي جرم د مظنون په تېښته کې مرسته.**

**۳- د وجوهو او شتمنۍ د واقعي ماهیت، سرچینې، موقعیت، د تصرف څرنګوالي، انتقال یا د مالکیت د حق د پېژلو یا شکل ته تغییر ورکول.**

**٤- له جرم څخه د راپیدا شوو وجوهو او شتمنۍ تحصیل، تصاحب یا استفاده."**

د پیسو له وینځلو او له دې جرم څخه د را پیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون[1]، د پیسو د وینځلو جرم یې د ۳مې مادې په ۱۱ جزء کې داسې تعریف کړی دی:

**« د پیسو وینځل: د دې قانون په څلورمه ماده کې د درج شوو اعمالو ترسره کول»**.

د نوموړي قانون د ۴مې مادې ۱ فقره داسې صراحت لري:

**«(۱) شخص د علم، خبرتیا یا شک په لرلو سره پدې اړه چې وجوه او شتمنۍ له جرم څخه را پیدا شوي عواید دي، په لاندې حالاتو کې د پیسو د وینځلو د جرم مرتکب ګڼل کېږي:**
**۱- د شتمنیو پېژول یا د وجوهو او شتمنیو د جرمي منشاء څخه د را پیدا شوو قانوني عواقبو د اصلي جرم د مظنون په تېښته کې مرسته کول.**
**۲- د وجوهو او شتمنیو یا نورو حقوقو د مالکیت د حق د واقعي ماهیت، سرچینې، موقعیت یا د لېږد پېژول یا د شکل د بدلولو په منظور اقدام کول.**
**۳- د وجوهو او شتمنیو په تحصیلولو، تصرف کولو یا ګټې اخیستنې اقدام کول.**
**٤- د جرم په ارتکاب کې ګډون، د اړیکې یا لاس لرلو او په هغه باندې اقدام کول او د دې فقرې په (۱، ۲ او ۳) اجزاوو کې له درج شوو جرمونو څخه د هر یو د ارتکاب په برخه کې هڅول د اسانتیاوو برابرول یا مشوره ورکول. "** (۴مه ماده).

**په جزا کود کې د پیسو وینځلو د درج شوي تعریف تشریح:**

**«(۱) د خبرتیا په لرلو سره د لاندې اعمالو ارتکاب ...»: د « خبرتیا په لرلو سره»** تعبیر ښیي چې د پیسو وینځلو جرم له عمدي جرمونو څخه دی. د دې جرم د عمدي والي پایله دا ده چې که احیاناً شخص له

[1] - د ۱۳۹۳ کال د زمري په ۱ نېټه په ۱۱۴۲ ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی.

جرم څخه را پیدا شوې شتمنۍ د هغه د جرمي منشاء له آگاهۍ پرته ولېږدوي او یا یې بڼه تغییروي، او یا هغه تحصیل، تصاحب او له هغه څخه استفاده کوي، د پیسو د وینځلو جرم مرتکب نه پېژندل کېږي، ولو که د هغه دا عمل د خطا له ډولونو څخه یو ډول سره یوځای وي لکه بې احتیاطي، د قوانینو او مقرراتو نا رعایت او داسې نور. د بېلگې په ډول؛ د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې قانون په ۵مه ماده کې درج شوې راپور ورکوونکې مراجع د متعددو تدابیرو په ترسره کولو مکلف دي تر څو چې د پیسو د وینځلو جرم واقع نه شي، که احیاناً نوموړې مراجع عامدانه او یا نا عامدانه د نوموړو تدابیرو د له ترسره کولو څخه سرغړونه وکړي او د هغه په پایله کې له جرم څخه را پیدا شوې شتمنۍ د شکل تغییر پیدا کړي او یا ولېږدول شي .... د پیسو د وینځلو جرم مرتکب نه پېژندل کېږي. البته دا چې سرغړونې یې له احوالو سره سم ښایي نور جرمونه رامنځته کړي چې د پیسو د وینځلو جرم پورې د اړوندو جرمونو په نوم پېژندل کېږي. په داسې حال کې چې که د پیسو وینځلو جرم له خطا جرمونو څخه وي، دا حالات د پیسو د وینځلو جرم لاندې به د تعقیب وړ وي. د یادونې وړ ده چې په ځینو هېوادونو کې د د پیسو د وینځلو جرم له عمدي جرمونو څخه نه دی.

« ... د وجوهو او شتمنۍ د منشاء د **غیر قانوني** والي په اړه...» : د **"غیر قانوني"** تعبیر دا څرگندوي چې مال په غیر قانوني ډول ترلاسه شوی دی. د افغانستان په پخوانیو قوانینو کې د پیسو وینځلو پر وړاندې د مبارزې قانون (۱۳۹۳) په گډون او همدارنگه په نړیوالو تړونونو کې او هغه تعریف چې د (FATF) اداري د پیسو د وینځلو جرم په اړه کړی دی، د « **له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو**» له تعبیر څخه استفاده شوې ده نه له «غیر قانوني عوایدو» څخه. د دې تعبیر توپیر په دې کې دی چې «غیر قانوني شمتني» خورا عامه ده ځکه چې له جرم څخه د را پیدا شوو شمتنیو سربېره له مدني او تجارتي تخلفاتو څخه را پیدا شوې شتمنۍ هم په کې شاملېږي. په داسې حال کې چې د «له جرم څخه د را پیدا شوو عوایدو» تعبیر کې یوازې هغه شتمنۍ شاملېږي چې جرمي منشاء لري لکه له رشوت څخه متحصل مال، د نشه یي توکو قاچاق او داسې نور جرمونه[1]. نو له جرم څخه راپیدا شوی هر عاید غیر قانوني شتمني ده خو هره غیر قانوني شتمني له جرم څخه راپیدا شوی عاید نه دی. خو آیا واقعاً قانون

[1] - له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو تعریف یې د پیسو د وینځلو او له دې جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون (۱۳۹۳) د ۳مې مادې د ۱ فقرې په ۱ جزء کې مطالعه کړئ.

جوړوونکي غوښتي چې خپل جزایي سیاست بدل کړي او د پیسو د وینځلو جرم ساحه له مدني او تجارتي تخلفاتو څخه را پیدا شوو مالونو ته پراخه کړي؟ او یا دا تغبیر غیر عامدانه وو او د سیاست په تغیر دلالت نه کوي؟ هغه څه چې لومړی نظر یې تائیدوي، د قانون جوړوونکی دی چې ویلي یې دي «غیر قانوني عواید». خو هغه چې دویم نظر یې تائیدوي، د «جرم» د کلمې ذکرول دي چې د جزا کود د ۴۹۸مې مادې د لومړۍ فقرې په ۲ جزء او همدارنګه په ۳ فقره کې کارول شوی دی. د ۱ فقرې ۲ جزء داسې صراحت لري: « ۲- د **جرم له ارتکاب** څخه له را پیدا شوو قانوني عواقبو څخه د **اصلي جرم** د مظنون په تېښته کې مرسته». د نوموړې مادې درېیمه فقره داسې وایي:« د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو وجوهو او شتمنۍ **د جرمي منشاء** اثبات **د اصلي جرم** د مظنون په پېژندنه یا محکومیت مشروط نه دی». په دې دوو متنونو کې د مدني او یا تجارتي تخلف په اړه بحث نه دی شوی. ځیني هېوادونه د پیسو د وینځلو جرمونو ساحه خورا تنګه کړې ده داسې چې له مالي جرمونو څخه یې یو لړلیک مشخص کړی دی او یوازې له هغه څخه راپیدا شوي عواید یې د پیسو د وینځلو جرم موضوع ګڼلې ده. په یوه بله کړنلاره کې، ځیني هېوادونه لکه فرانسه[1] د جرم د ډول پرځای یې د هغه شدت معیار ګرځولی دی داسې چې د جنایت او جنحې له جرمونو څخه راپیدا شوي عواید یې د پیسو د وینځلو جرم موضوع ګڼلې ده نه له قباحت څخه را پیدا شوي عواید یې یوازې د جرم د موضوع له نظره چې اداري فساد دی او یا سرقت او داسې نور.

د افغانستان د قوانینو دریځ: په افغانستان کې له جرم څخه راپیدا شوی هر ډول غیر مال د پیسو د وینځلو جرم موضوع ګرځېدلای شي.

| (۱) لومړی فعالیت |
| --- |
| **مباحثوي پوښتنه:** |
| هغه مالونه چې د قانوني تجارتي فعالیتونو په پایله کې ترلاسه کېږي خو مالیه یې ورکړل شوې نه ده، په کومه کټګورۍ کې راځي؟ غیر قانوني مال او یا که له جرم څخه راپیدا شوی مال؟ |

[1] - د ۱۹۹۶ کال د مۍ د میاشتې په ۱۳مه نېټه د ۳۹۲/۹۶ ګڼې قانون ۳۲۴مه ماده وګورئ.

**احتمالي ځواب:** له هغه ځایه چې د مالیې نه ورکول په خپله جرم دی، یوازې هماغه اندازه مال چې قرار وه دولت ته یې مالیه ورکړل شي، خو شخص هغه نه ورکوي، دا مال له جرم څخه راپیدا شوی مال پېژندل کېږي او بالتبع کېدلای شي د پیسو د وینځلو جرم موضوع وګرځي. خو نور هغه مالونه چې سوداګر د قانون تجارت په پایله کې ترلاسه کړي دي، د هغه قانوني مال پېژندل کېږي.

ګډونوال دې خپل نظر په ځانګړي ډول د پوښتنې او احتمالي ځواب په اړه مطرح کړي.

« **د وجوه او شتمنۍ منشاء..**»: له منشاء څخه مراد هغه فعالیت دی چې مال له هغه څخه ترلاسه شوی دی. د بېلګې په ډول، که احمد پر محمود جنس وپلوري او بیه یې له هغه څخه ترلاسه کړي. دواړه د شتمنۍ څښتنان کېږي. محمود د جنس څښتن کېږي او احمد د نغدو پیسو څښتن. د دوی د شمتنۍ منشاء د بیع قرارداد دی. احیاناً د وجوهو او شتمنۍ منشاء غیرقانوني او یا جرمي وي. د بیلګې په ډول؛ که کبیر سالم ته رشوت ورکړي، سالم د شتمنۍ څښتن کېږي او د هغه د شتمنۍ منشاء په دې حالت کې له رشوت څخه عبارت ده. نو د شمتنۍ منشاء له هغه عمل څخه عبارت ده چې له هغه څخه مال ترلاسه کېږي او ښايي مشروع اوسي او یا غیر مشروع او یا حتی جرم.

« **...وجوه او شتمني**»: وجوه او شتمني عبارت ده له: « **هر ډول مادي او غیر مادي، منقول او غیر منقول، عیني او غیر عیني، مشروع او غیر مشروع شتمنۍ او سندونه یا د الکترونیکي یا ډیجیټلي وسیلو په شمول وسیلې دي چې په دې ډول وجوهو یا شتمنیو کې مالکیت یا د ګټې لرل ثابت کړي او په نامقید ډول د پولي حوالو، ونډو (سهام)، بها لرونکو سندونو، د پور پاڼې، برات یا اعتبار لیک (لېټر آف کریډېټ)، ټکټانه، د ونډې ګټې، یا له دې ډول وجوهو یا نورو شتمنیو څخه نور پیدا شوي عواید یا لاسته راغلی ارزښت په کې شامل دي**[1]».

«**۱- د وجوهو او شتمنۍ انتقال یا تغییر...**»: **انتقال:** یعنې د مال د ځای بدلول که د هېواد دننه او یا بهر ته وي. **د شتمنۍ تغییر:** د شمتنۍ د بڼې بدلول لکه دا چې نغدې پیسې په جنس بدل کړي. او یا طلا ویلي کړي او بڼې ته یې تغییر ورکړي ترڅو له جرم سره د مبارزې ادارې د هغه رد پیدا نه کړي او یا افغانۍ په بهرنیو اسعارو او یا برعکس بدلې کړي.

[1] - جز ۲ فقرۀ ۱ مادۀ ۳ قانون جلوگیری از پول شویی(۱۳۹۳)

«۲- د جرم له ارتکاب څخه له راپیدا شوو قانوني عواقبو څخه د **اصلي جرم** د مظنون په تېښته کې مرسته.»: **اصلي جرم:** له هغه جرم څخه عبارت دی چې په هغه کې مال ترلاسه کېږي، لکه د نشه یي توکو جرم رامنځته کېږي او له هغه څخه مال ترلاسه کېږي، بیا دویم جرم چې د پیسو وینځل دي، واقع کېږي تر څو له اصلي جرم (په دې بېلګه کې مخدره توکي) څخه راپیدا شوي عواید پټ کړل شي او د رسمي اقتصاد په بدنه کې داخل شي. نو اصلي جرم له هماغه لومړني جرم څخه عبارت دی چې له هغه څخه مال ترلاسه کېږي. لکه څرنګه چې لیدل کېږي چې د افغانستان جزایي سیاست د اصلي جرمونو پر نه محدودیت بناء دی. نو هر هغه جرم چې له هغه څخه مال ترلاسه کېږي په اتوماتیک ډول د پیسو وینځلو جرم هم رامنځته کېږي. له همدې کبله، قاضیان او څارنوالان په مالي جرمونو کې باید د هغه پیسو د وینځلو اړخونه وڅېړي او پرې غور وکړي.

«۳- **د وجوهو او شتمنۍ د واقعي ماهیت، سرچینې، موقعیت، د تصرف څرنګوالي، انتقال یا د مالکیت د حق پټول یا شکل ته تغییر ورکول»: د «تغییر»** کلمه د ۴۹۸مې مادې په لومړي جزء کې هم ذکر شوې ده، دلته احتمالاً د «پټولو» کلمې د پیاوړتیا په منظور ذکر شوې ده ځکه چې د پټولو له بنو څخه یوه یې د شمتنۍ ..... په ماهیت، سرچینه، موقعیت، تحریف، د تصرف څرنګوالي کې د تغییراتو رامنځته کول دي. له جرم څخه د راپیدا شوې شتمنۍ پټول له اساسي کړنو څخه یو او د پیسو د وینځلو په جرم کې لومړی ګام ګڼل کېږي؛ ځکه چې مجرمین په لومړۍ مرحله کې هڅه کوي د پټولو له لارې د تورې شتمنۍ او جرم ترمنځ اړیکه پرې کړي ترڅو د هغه موندل ستونزمن شي او ترڅو وکولای شي د هغه په راتلونکو مرحلو کې د مشروع شتمنۍ په برخه کې څرګنده کړي او رسمي اقتصاد ته یې داخل کړي.

**٤- له جرم څخه د را پیدا شوو وجوهو او شتمنۍ تحصیل، تصاحب یا استفاده.**" : **تحصیل:** د موندلو او له ځان سره د درلودلو او په خپل حیازت کې د نیولو په معنی کارول کېږي. نو که شخص په دې اړه علم درلودلو سره چې شتمني له جرم څخه را پیدا شوې ده، هغه له ځان سره وساتي که په کور کې او یا ګودام او یا هر بل ځای کې وي، د پیسو د وینځلو جرم مرتګب پېژندل کېږي. **تصاحب:** د تملک په معنی کارول کېږي.

**استفاده:** له جرم څخه د راپیدا شوې شتمنۍ څخه استفاده، د پیسو د وینځلو جرم ګڼل شوی دی ځکه چې دا یو ډول پټول ګڼل کېږي. استفاده ډېر شکلونه لري لکه په کور کې اوسېدل، د موټر چلول، د طلا اغوستل او داسې نور. یوازې د هغه شرط دا دی چې استفاده کوونکی خبر وي چې مال له جرم څخه راپیدا شوی دی.

**په افغانستان کې چې د پیسو د وینځلو جرم د ساحې پراخوالی:**

په جزا کود او د پیسو د وینځلو جرم د مخنیوي په قانون کې د پیسو د وینځلو جرم د تعریف له تشریح څخه مشخص کېږي چې د دې جرم ساحه خورا پراخه ده او په دې سبب له نورو متعددو جرمونو سره تداخل پیدا کوي. د پیسو د وینځلو جرم د ساحې پراخوالی که څه هم د (FATF) د ادارې له تشویق سره یوځای دی[۱] خو له دې کبله د نیوکې وړ دی چې د پیسو د وینځلو جرمونو پر وړاندې د مبارزې پر کیفیت منفي اغېزه غورځوي[۲].

**(۲) دویم فعالیت**

**ګروپي فعالیت: په جزا کود او د پیسو د وینځلو د مخنیوي په قانون کې د پیسو د وینځلو تعریف پرتله کول:**

ګډونوال دې د پیسو د وینځلو جرم هغه تعریف چې په جزا کود او د پیسو د وینځلو د مخنیوي په قانون کې ذکر شوی دی، پرتله کړي او د هغوی ترمنځ توپیر دې څرګند کړي.

**لاندې پوښتنې او ټکي به له تاسو سره په پرتله کولو کې مرسته وکړي:**

**۱. د پیسو وینځل له عمدي یا خطا جرمونو څخه دی؟** په جزا کود کې د معنوي عنصر په برخه کې ویل شوي دي: " د وجوهو او شتمنۍ د غیر قانوني والي په اړه د **آګاهۍ په درلودلو سره د** لاندې اعمالو ارتکاب..." په داسې حال کې چې د پیسو د وینځلو د مخنیوي په قانون کې ویل شوي دي: "**شخص د علم، خبرتیا یا شک په لرلو سره** په دې اړه چې وجوه او شتمنۍ له جرم څخه را پیدا شوي عواید دي، په لاندې حالاتو کې..."

---

۱ - FATF اداره هېوادونو ته د اصلي جرمونو د محدودولو صلایت ورکوي، خو تشویقوي یې چې هېوادونه دې ساحې ته پراخوالی ورکړي.

۲ - فیض الله فیض و فرید احمد نوری، نقد و بررسی تطبیقی کود جزا، ص .

**۲. آیا لازمه ده چې وینځل شوي شتمنۍ دې حتماً جرمي منشأ ولري؟** د جزا کود وايي:« د وجوهو او شتمنۍ **د منشأ د غیر قانوني والي** په هکله د آګاهۍ (خبرتیا) په لرلو سره د لاندې اعمالو ارتکاب د پیسو سپینولو جرم پېژندل کېږي....." په داسې حال کې چې د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون وايي:" شخص د علم، خبرتیا یا شک په لرلو سره په دې اړه چې وجوه او شتمنۍ **له جرم څخه راپیدا شوي عواید** دي، په لاندې حالاتو کې د پیسو د وینځلو د جرم مرتکب ګڼل کېږي...".

**۳. آیا د هغو کړنو ترمنځ چې د پیسو د وینځلو جرم په توګه په دواړو قوانینو کې ذکر شوي دي، توپیر لري یا نه؟** د بېلګې په ډول؛ د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون د ۴مې مادې ۴ فقره تر پام لاندې ونیسئ.

## دویم مطلب: په نړیوالو سندونو کې د پیسو د وینځلو مفهوم:

په نړیواله برخه کې د پیسو د وینځلو جرمونو پر وړاندې د مبارزې په اړه ډېر شمېر سندونه د بېلابېلو ادارو لخوا تصویب شوي دي چې تر ټولو مهم هغه یې په لاندې ډول عبارت دي:

۱- **د ۱۹۸۸ کال د ویانا تړون:** (په ویانا کې د ۱۹۹۸ زېږدیز کال د ډسمبر په میاشت کې تصویب شوی د مخدره توکو او روان اړوونکو درملو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې لپاره د نړیوال سازمان تړون).

۲- **د ستراسبوګ تړون:** (د ۱۹۹۰ زېږدیز کال د نومبر په میاشت کې د اروپایي شورا لخوا تصویب شوی، له جرمونو څخه د ترلاسه شوو شمتنیو د تطهیر، تفتیش، تجمید او مصادرې تړون).

۳ ـ **د پالیرمو تړون:** (د سازمان موندلی جرمونو پر وړاندې د نړیوال سازمان تړون چې د ۲۰۰۰ زېږدیز کال د نومبر د میاشتې په ۱۵مه نېټه د ایټالیې په پالیرمو ښار کې تصویب شوی او نږدې ۱۸۰ هېوادونه د دې تړون غړي دي، خپل ځانونه د درې ډوله سازمان موندلی جرمونو پر وړاندې د اقداماتو ترسره کولو ته ژمن ګڼي چې د انسان قاچاق، د کډوالو ځمکنی، سمندي او هوايي قاچاق او د ګرمو وسلو قاچاق په کې شاملېږي، د هغه په اووم بند کې د پیسو د وینځلو پر وړاندې مبارزه هم د هغه له تر ټولو مهمو مواردو څخه یو تشکیلوي).[۱]

---

۱ http://hrlibrary.umn.edu/arab/CorgCRIME.html

https://www.didestan.com/video/d۸Dxp۳B۸

یادونه یې اړینه ده چې د پورته ذکر شوو سندونو له جملې افغانستان تر اوسه د ۱۹۸۸ کال د ویانا تړون، د ۲۰۰۰ کال د پالیرمو تړون او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې میثاق لاسلیک او تصویب کړي دي، ضمناً په "اګمونټ ګروپ" [۱] او "ایشیا پسیفیک ګروپ" [۲] کې د غړیتوب په پایله کې د "FATF" [۳] وړاندیزونو ته هم ژمن دی.

په پورته ذکر شوو نړیوالو سندونو کې درج مفاهیم په لاندې مطالبو کې ذکر کوو[۴].

**لومړۍ فرعه: د ۱۹۸۸ زېږدیز کال د ویانا په تړون کې د پیسو د وینځلو مفهوم:**

د ۱۹۸۸ زېږدیز کال تړون د مخدره موادو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې په اړه د دریمې مادې د (B) بند په (i) او (ii) فقرو او همدارنګه د (C) په (i) فقره کې له غړي دولتونو څخه غوښتي دي ترڅو یو لړ هغه اعمال چې د پیسو وینځل ګڼل کېږي، د جرم په توګه پېشبیني کړي. دا فعلونه په لاندې ډول عبارت دي:

۱- د مخدره موادو له جرمونو څخه د ترلاسه شوو مالونو او یا په نوموړو جرمونو له ګډون څخه د ترلاسه شوو مالونو تحویلول او نقلول، د دې موضوع په اړه په علم لرلو سره، او د مالونو د نامشروع سرچینې د پټولو په منظور او یا له مجازاتو او عدلي تعقیب څخه د تېښتې په موخه د نوموړي جرمونو له مرتکبینو سره د همکارۍ قصد درلودل.(B, i)

۲- د مال، د هغه د سرچینې، ځای، په هغه کې د تصرف طریقې، په هغه پورې د اړوندو حقوقو، د هغه ملکیت پټول، په دې اړه په علم لرلو سره چې د مخدره موادو له جرمونو او یا په هغوی (د دریمې مادې په (۱) بند کې درج جرمونه) کې له ګډون څخه ترلاسه شوي دي.(B,ii)

[۱] - Egmont Group.

[۲] - Asia Pacific Group.

[۳] - د مالي اقداماتو کاري ځواک یا **Financial Action Task Force** (FATF)، د پیسو د وینځلو او له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د دریمې مادې په ۳۰ بند کې داسې تعریف کړی دی چې: " هغه بین الحکومتي سازمان دی چې د پیسو د وینځلو، د تروریزم د تمویل او د ډله ایزې وژنې د وسلو د پراختیا پر وړاندې د مبارزې د معیارونو د ټاکلو په منظور جوړ شوی او فعالیت کوي". دا ډله په ۲۰۰۲ زېږدیز کال کې په ۳۱ غړو (۳۹ هېوادونه او دوه نړیوال سازمانونه) سره د پیسو د تطهیر پر وړاندې مبارزې لپاره څلوېښت وړاندیزونه وړاندې کړي دي چې د نړۍ له ۱۸۰ هېوادونو څخه زیات یې عملي کېږي. نوموړي وړاندیزونه په ۲۰۱۲ زېږدیز کال کې تعدیلات ولیدل او دا تعدیلات د ۲۰۱۲ زېږدیز کال د فبرورۍ د میاشتې په ۱۵مه نېټه د FATF د غړو لخوا تأیید او تصویب شول.

[۴] - د دې مطلب محتوی اخیستل شوې ده له: جرایم تطهیر پول در نظام حقوقی افغانستان، اثر نصیر الله خالد.

۳- د پورته مالونو اکتساب، استخدام او یا حیازت، د تسلیمۍ پرمهال په دې اړه د علم په لرلو سره چې د مخدره موادو له جرمونو او یا په هغوی (د درېیمې مادې په (۱) بند کې درج جرمونه) کې له ګډون څخه ترلاسه شوي دي.(C, i)

٤- د درېیمې مادې د جرمونو ارتکاب ته په علني ډول تحریکول او تشویقول چې د پیسو تطهیر د هغه له جملې څخه وي.(C, iii)

٥- په درېیمه ماده کې په درج شوو جرمونو کې ګډون او یا پیل چې د پیسو تطهیر د هغه له جملې څخه دی (C, iv).

له پورته تعریف څخه دا پایله اخلو چې د پیسو د وینځلو جرم په دې تړون کې لاندې ځانګړتیاوې لري:

أ. د مخدره موادو له جرمونو څخه د ترلاسه شوو شتمنیو او یا په د هغه کې په ګډون پورې منحصر دي، او په ترلاسه شوو شمتنیو سره نورو جرمونو پورې کار نه لري.

ب. د پیسو د وینځلو جرم له عمدي جرمونو څخه دی نه له خطاء څخه، ځکه چې د علم درلودل یې شرط ابښی دی.

ج. د مجرمینو دایره پراخه ده چې د اصلي جرم د مرتکبینو سربېره ټول هغه اشخاص په یو نه یو ډول د شتمنۍ د سرچینې د جرم والي په اړه معلومات ترلاسه کوي، په بر کې نیسي، لکه وسیط، دلال، تجارتي استازی او داسې نور، که څه هم په اصلي جرم کې یې ګډون نه وي کړی او احتمالاً له هغه څخه یې ګټه هم نه وي ترلاسه کړې.

د. همدارنګه د تطهیر مفهوم خورا پراخه دی داسې چې په عقار او یا منقول پورې اړوند مادي او غیر مادي ټول حقوق په کې شاملېږي.

ه. همدارنګه حقوقي تصرفات او هر هغه ډول فعل چې د مال د ذات د تغییر سبب لکه په چک د نغدو پیسو بدلول، او یا د مال د اکتساب ظروفو پټول لکه د بل تزویرول، د شکلي شرکتونو په جوړولو کې ونډه اخیستل او د مال د سرچینو پټول، ګرځي.

و. د پیسو د وینځلو په جرم کې ګډون او یا پرې پیل د جرم په توګه منل شوی دی.

ز. د درې مادې د جرمونو ارتکاب ته په علني توکه تحریکول او تشویقول جرم شمېرل شوی دی، په داسې حال کې چې د عمومي د جزا د حقوقو له قواعدو سره سم تحریک او تشویق هغه وخت په جرم کې ګډون شمېرل کېږي چې د هغه په پایله کې د پام وړ جرم واقع شي.

ح. د پیسو د وینځلو جرم له عام قصد سربېره، ځانګړي قصد ته هم اړتیا لري چې له د پیسو د جرمي سرچینې د پټولو او یا له عدلي تعقیب څخه د تېښتې په موخه له مجرمینو سره د همکارۍ له نیت څخه عبارت دی. د پورته مادې له درېیمې فقرې سره سم نوموړی علم او قصد د جرم له اوضاع او حالاتو څخه وېستل کېدلای شي.

**دویمه فرعه: د ستراسبورګ په تړون کې د پیسو د وینځلو مفهوم:**

د اروپا شورا د ۱۹۹۰ کال د نومبر په میاشت کې له جرمونو څخه د ترلاسه شوو شتمنیو د تطهیر، تفتیش، تجمید او مصادرې تړون لاسلیک کړ چې دا تړون د ستراسبورګ د تړون په نوم مشهور دي. هغه اړخونه چې دې تړون د پیسو د وینځلو پر وړاندې مبارزې په اړه رامنځته کړل، د پیسو د تطهیر مفهوم د دایرې پراخول دي. ځکه چې د مخکیني سندونو سره سم د پیسو د تطهیر جرمونه له مخدره توکو، او یا د انسان د قاچاق او داسې نورو په څېر د جرمونو له ځانګړو ډولونو څخه د ترلاسه شوو شمتنیو پورې منحصر وو، خو د ستراسبورګ تړون له ټولو جرمونو څخه ترلاسه شوي مالونه یې په دې کې شامل کړل.

د پورته تړون د لومړۍ مادې (E) فقرې اصلي جرمونه په لاندې ډول تعریف کړي دي:

"<u>اولي جرمونه</u>" له هغه جرمي عمل څخه عبارت دي چې د هغه په پایله کې عواید ترلاسه کېږي، هغه عواید چې کېدلای شي د دې کنوانسیون په شپږمه ماده کې د درج جرمونو موضوع وګرځي."

همدارنګه د پورته تړون شپږمه ماده داسې صراحت لري:

"۱. هر هېواد د دې تړون پر لور باید قوانین او تدابیر ترسره کړي چې د هغه په موجب دا ډول اعمال کله چې په عمدي توګه ترسره شي، جرم وګڼل شي:

**الف.** له جرم څخه د راولاړ شوو عوایدو په اړه د علم له شتون سره، د مالونو د نامشروع منشأ د پټولو، یا له هغه شخص سره چې د جرمي فعالیت مرتکب کېږي، د هغو اعمالو له عواقبو څخه د تېښتې په موخه چې ترسره کړي یې دي، د مرستې په منظور د مالونو تغییر، انتقال او سپارل.

**ب.** د مال د ماهیت، سرچینې، موقعیت، شکل، حرکتونو، په هغه پورې د اړوندو حقوقو، یا د هغوی مالکیت او نورو اړوندو مالونو پټول، په دې اړه د علم درلودلو سربېره چې د هغوی له حقوقي اصولو او

د حقوقي سیستم له اساسي حکمونو سره سم دا ډول عواید له جرم څخه را ولاړ شوي وي؛

ج. په دې اړه د علم درلودلو سربېره چې دا مالونه د جرم محصول دي، د مالونو ترلاسه کول، حیازت او یا استفاده؛

د. د ارتکاب په موخه اتحاد او توطئه یا ګډون، په ارتکاب اقدام کول، د هغو جرمونو چې له دې مادې سره سم تعریف شوي دي، په ارتکاب کې مرسته کول، تشویقول، اسانتیا برابرول او مشوره ورکول.

۲. د دې مادې د ۱ پاراګراف د تطبیق په منظور:

الف. دا امر مهم نه دی چې جرمي فعالیت دې د پر خوا هېواد د جزایي صلاحیت د محدودې تابع وي.

ب. امکان لري هغه جرمونه چې په دغه پاراګراف کې ذکر شوي دي، د هغو اشخاصو په اړه چې جرمي فعالیت یې ترسره کړی دی، صدق ونه کړي؛

ج. علم، قصد او نیت یا هدف د جرم د عنصر په توګه په نوموړي پاراګراف کې تصریح شوي دي، امکان لري له موخو او واقعي حالاتو څخه استنباط شي.

۳. د دې تړون د پر خوا هېوادونو څخه هر یو ښایي د اړتیا پرمهال داسې اقدامات ترسره کړي ترڅو ټول یا ځیني هغه اعمال چې د دې مادې په ۱ پاراګراف کې تصریح شوي دي، د هغوی د داخلي قوانینو لاندې جرم وګڼل شي:

الف. باید علم ولري چې مالونه د جرم محصول وي.

ب. د ګټو د ترلاسه کولو په موخه یې عمل کړی وي.

ج. د نورو راتلونکو جرمي اعمالو د ترسره کولو په منظور یې عمل کړی وي.

٤. د دې اعلامیې پر خوا له هېوادونو څخه هر د لاسلیک پرمهال یا کله چې سند تأیید، ومنل، تصویب شي یا خپل الحاق د اعلامیې ترڅنګ د اروپا عمومي منشي ته وړاندې کړي، په هغه کې یادونه وکړي چې د دې مادې ۱ پاراګراف یوازې د جرمي فعالیت یا د هغو جرمونو د کټګورۍ په اړه چې په اعلامیه کې درج شوي دي، د تطبیق وړ دي.

**درېیمه فرعه: د (FATF) له لید لوري د پیسو د وینځلو مفهوم:**

" د مالي اقداماتو کاري ځواک" (FATF) د پیسو وینځل داسې تعریفوي: هغه پروسه چې په هغه کې له جرمي فعالیتونو څخه را ولاړ شوي عوایدو ، د دې عوایدو د غیر قانوني منشاء د پټ ساتلو او د هغه غیر قانوني ګټو ته د مشروعیت بخښلو په منظور، شکل ته تغییر ورکول کېږي.

## دویمه وینا: د پیسو د وینځلو مرحلې:

که څه هم د مالي وجوهو د تطهیر میتودونه د ملاحظې وړ ډول متنوع او معمولاً خورا پېچلي دي، سره له دې، د پیسو وینځل عموماً لاندې درې مهمې مرحلې ترسره کوي[۱]:

### لومړۍ مرحله - ځای پر ځای کول:

په عمومي توګه، پولي یا مالي سیستم ته د غیر قانوني عوایدو ځای پر ځای کول، لومړنۍ مرحله ده. مالي سیستم ته د پیسو داخلول په بېلابېلو طریقو صورت مونداې شي، لکه دا چې تطهیر کوونکی د قیمتي توکو لکه د قیمت بها موټرو، جواهراتو او یا لرغونو او انتیکو شیانو په پېرودلو لاس پورې کړي. ځیني وخت هم په لږو اندازو سره پیسې چې د چا توجه جلب نه کړي، په یو بانک کې د بېلابېلو څانګو له لارې ذخیره او یو پولي واحد په بل پولي واحد بدل کړي.

همدارنګه د شک او تردید د مخنیوي په موخه، ځیني غیر قانوني مالي وجوه له مشروع او قانوني سرمایې سره ګډوي. او یا په چک یا حواله یې بدلوي. سربېره پردې، دولتي مقاماتو ته د خبر له ورکولو پرته او پرته له دې چې په مالي سیستم کې پیسې داخلې شي، له پولو څخه د مالي وجوهو انتقال د غیر قانوني پیسو د ځای پر ځای کولو لپاره یوه بله طریقه ده.

---

۱ - نک: محمد محیی الدین عوض، جرائم غسل الأموال، ص ۸۳-۸٤. چاپ اول، جامعة نایف، ریاض: ۲۰۰٤؛ عبد الرضا ملک و محبوبه مدنی اصفهانی، پول شویی و راه های مبارزه با آن، ص۵-٦ ؛ نصیر الله خالد، جرایم تطهیر پول در نظام حقوقی افغانستان، ص ۲٦-۲۸.

**دویمه مرحله - لایه جوړول یا پوښول:**

د لایې جوړولو مرحله، د معاملو د لایو رامنځته کولو لپاره د پیسو د تطهیروونکي هڅې د هغه له غیر قانوني سرچینې څخه د مالي وجوهو د جلا کولو په منظور ده او هغه غواړي ترڅو د مالي وجوهو د سرچینو پیدا کول ستونزمن کړي. تطهیروونکی ښایي د پانگونې له ابزارو څخه چې (ونډې او داسې نور) په آسانه توگه د انتقال وړتیا ولري، گټه پورته کړي، گران بیه فلزات او نور قیمتي توکي وپیري او بیا یې وپلوري. او یا مالي وجوه په ټوله نړۍ کې بېلابېلو بانکي حسابونو او یا بېلابېلو مالي ادارو ته انتقال کړي او په دې وسیله د مالي وجوهو د نښې او منشاء په پټولو سره تطهیروونکی هڅه کوي ترڅو د څېړنو د ترسره کېدو او د نوموړي مالونو د پیدا کېدو مانع شي.

**درېیمه مرحله: ادغام:**

له قانوني او مشروع پروژو او پانگو سره د غیر قانوني وجوهو یوځای کول او د تطهیروونکي په وسیله د هغه گډول، درېیمه مرحله یعنې " ادغام " تشکیلوي، چې دا کار ښایي د یو تجارت، مشروع عوایدو، د املاکو، غیر منقول مالونو یا قمیتي شیانو په پیلولو سره صورت نیسي.

ځیني وختونه هم امکان لري چې تطهیروونکی هڅه وکړي ترڅو "خیالي" شرکتونه یعنې له حقیقي او خارجي وجود پرته تأسیس کړي او غیر قانوني مالي وجوه یې په هغو پورې د اړوندو گټو او عوایدو له جملې څخه ښکاره کړي او هغه ته د پاک او مشروع مالونو بڼه ورکړي.

په پای کې باید یادونه وشي چې په دې سره چې ښایي پورته ذکر شوي درې گوني مراحل له یو بل څخه جلا او توپیر ورکړل شي، په ورته وخت کې په همزمان او متداخل ډول له یو او بل سره هم یوځای شي چې د دوی توپیر یا تداخل د ټاکلو مواردو پورې لکه د مجرمینو تسهیلاتو، شرایطو او او اوضاع، وړتیا او د معیارونو اغېزې ته د تطهیروونکي لاسرسی یا نا لاسرسی، او په پای کې له رسمي مالي سکتورونو څخه د څارنې د نظامونو رامنځته کول او د هغوی څرنگوالی؛ تړلي دي او ښایي و اوسي.[1]

[1] ـ غسيل الأموال فى ضوء الاجرام المنظم ۹۶- ۱۰۱ (باتصرف).

**درېیمه وینا: د پیسو د وینځلو میتودونه:**

د پیسو وینځل په بېلابېلو طریقو سره صورت مومي، چې له دې طریقو څخه مهم یې په لاندې ډولونو کې په ډلو وېشل کېږي:

**لومړی: د پیسو کوچني کول**

د پیسو کوچنیکول داسې طریقه ده چې د هغې له لارې نغدې پیسې څو کوچنیو حسابونو ته بدلېږي. له دې کار څخه موخه دا ده چې د پیسو پر وینځلو مبني هر ډول شک او ظن لرې کړي او فرد ملزم نه اوسي ترڅو د پیسو د وینځلو په اړه مقاماتو ته راپور ورکړي. د دې چالونو یوه برخه د پولي حوالو له جملې د ځینو بها لرونکو سندونو د پېرودلو لپاره د پیسو د کمې اندازې له کارولو او بیا د کوچنیو اندازه پیسو په توګه د هغه له ذخیره کولو څخه عبارت ده.

**دویم: په لویو اندازو د قاچاق په توګه د پیسو باسل:**

په دې طریقه کې د پیسو لویې اندازې د قاچاق په توګه بهرنیو هېوادونو ته انتقال شوي او د دې کار موخه دا ده چې نوموړې پیسې په داسې بانکونو کې ذخیره کول چې له ډېر بانکي محرمیت څخه برخمن دي او یا نوموړي هېوادونه د پیسو د وینځلو په اړه سخت مقررات ونه لري.

د پیسو د قاچاق بل ډول دا دی چې شخص د دویم هېواد له بندرونو څخه یوه ته د ننوتلو پرمهال ادعا کوي چې مثلاً هغه له ځان سره یو میلیون ډالر راوړي دي، په داسې حال کې چې هغه له ځان سره سل زره ډالر لري، بیا هڅه کوي ترڅو مؤظف کارکوونکي د نوموړي پیسو د اصلي مقدار په اړه تر فشار لاندې راولي او د هغو پیسو چې له ځان سره یې لري، د یوې کمې اندازې په ښودلو سره په داسې ډول هغه ته قناعت ورکړي ترڅو د نوموړو پیسو له شمېرلو څخه منصرف شي، بیا له نوموړي هېواد څخه د راګرځېدو کې تورې پیسط له ځان سره لېږدوي او داسې یې څرګندوي چې ګویا د هغه تجارتي برنامه پای ته نه ده رسېدلې او هغه پرېکړه نیولې ترڅو هماغه یو میلیون ډالر چې له ځان سره یې راوړي وو، بېرته له ځان سره یوسي.

**دریم: هغه حرفې یا مشاغل چې له نغدو پیسو سره سروکار لري:**

له نومړو مشاغلو څخه مراد هغه شمېر مشغولیتونه او فعالیتونه دي چې معمولاً نغدې پیسې د هغوی په حساب کې ذېرمه کېږي، که نومړې پیسې قانوني منشاء ولري او یا یې ونه لري. خو د دې حرفې او فعالیت څښتنان په منشاء کې نامشروع پیسې هم قانوني او مشروع ځرګندوي، لکه قمار خونې.

**څلورم: د پیسو تګ او راتګ:**

د پیسو له تګ او راتګ څخه مراد دا دی چې لومړی پیسې په یوه بهرنۍ اداره کې تر کنټرول لاندې - ترجیحاً په یو «مالیاتي جنت»[1] کې چېرته چې بانکي اسرار خوندي وي - ذخیره کېږي؛ بیا په بهر کې د پانګول شوو پیسو په توګه، له مالیاتي معافیتونو سره، هېواد ته را ګرځول کېږي.

**پنځم: د بانک تسخیر:**

د پیسو وینځوونکي یا مجرمین په بانک ې یو کنټرولوونکی منفعت پېري. په ځانګړي ډول په هغو هېوادونو کې د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې کمزوري قوانین لري. بیا پیسې - پرته له دې چې هیڅ ډول څارنه او څېړنه پرې نه کېږي، په بانکي سیستم کې ځای پر ځای کوي.

**شپږم: قمار خونې:**

معمولاً په قمار خونو کې فرد له نغدو پیسو سره واردېږي او د قمار بازۍ وسیله چې په «د کازینو چیپس»[2] مشهوره ده، اخلي. هغه یو څو لحظې لوبه کوي او بیا خپل «چیپس» پلوري او د هغه په بدل کې چک ترلاسه کوي. د پیسو وینځلو فرد وروسته کولای شي چک په خپل بانکي حساب کې وسپموي او ادعا وکړي چې هغه دا پیسې د قمار په پایله کې ترلاسه کړي دي. باید یادونه وشي چې دا طریقه یوازې په هغو هېوادونو کې کارول کېږي چې په کې قمار بازي یو قانوني عمل دی.

[1] مالیاتي جنت هغو هېوادونو ته اطلاق کېږي چې د مالیاتو د ورکړې په اړه آسان قوانین لري. (http://www.noornews.ir/fa/news/۷۱۴۰۰).

[2] - Casino Chips.

**اووم: تور معاشونه:**
ځيني شرکتونه داسې عمل کوي چې د خپلو ځينو هغو نا ثبت شوو کارکوونکو لپاره چې له هغوی سره ليکلي قراردادونه هم نه لري، نغد معاش ورکوي او د دې په ورکړه کې له تورو (نامعلومو) حسابونو څخه استفاده کوي.

**اتم: د معاملې له لارې د پيسو وينځل:**
ځيني وخت امکان لري هغه شخص چې پيسې يې د جرمونو او نامشروع لارو له لارې ترلاسه کړې دي، په قانوني او عامو ورځنيو معاملو کې کاروي او داسې يې څرګندوي چې نوموړې پيسې د هغه د معمول معاملو او تجارت عوايد دي، لکه د کور، ځمکې، ماشين آلاتو په پيرلو اقدام کول، د شرکتونو په رامنځته کول او يا له تقلبي صورت حسابونو څخه استفاده کول او د پيسو د لېږدونو پټ ساتل.

**نهم: له خيالي شرکتونو او بنسټونو له لارې:**
خيالي شرکتونه او بنسټونه د پيسو اصلي مالک پټوي او لازمه نه ده ترڅو د خپل اصلي مالک يا ذينفع نوم افشاء کړي، له بله پلوه ځيني له دې شرکتونو څخه د نا مشروع مالونو مالکانو او نورو تجارتي شرکتونو ترمنځ د منځګړي رول لوبوي، او په دې برخه کې دوی ډېرې کمېشن کارۍ ترلاسه کوي.

**لسم: له سياحتي شرکتونو څخه استفاده:**
لکه څرنګه چې ځيني سياحتي شرکتونه له سلګونو کسانو څخه متشکل يو شمېر ساحتي ګروپونه رامنځته کوي او هر يو ته ټاکلې اندازه پيسې ورکوي ترڅو هر يو ټاکلي توکي وپېري او له ځان سره يې اصلي هېواد ته انتقال کړي، بيا نوموړي اجناس بېرته وپلوري او پيسې يې مشروع وصف ځانته غوره کړي.[1]

## څلورمه وينا: د پيسو د وينځلو اغېزې:
د پيسو وينځل پر ټولنه زيان لرونکې اغېزې تحميلوي او د هغه په ټولنيزو، اقتصادي او امنيتي اړخونو باندې منفي اغېزې غورځوي چې ځيني يې لاندې څېړل کېږي:

---
[1] ـ غسيل الاموال فی ضوء الاجرام المنظم ۷۷-۸۵.

### لومړی مطلب: ټولنیزې، فرهنګي اغېزې:

که د پیسو وینځل رایج شي او ټولنه د هغه پر وړاندې له خپل ځان څخه لازم غبرګون ونه ښيي، په تدریج سره د دې جرم ټولنیز بدوالی له منځه ځي، د هغه زغمل او منل ټولنه ناروغه کوي. ځکه چې کله چې د دې ناوړه عمل مرتکبین مجازات نه کړل شي، د جرم د ارتکاب ادامې ته تشویق او ترغیب کېږي او په دې ترتیب د دې جرم او دې پورې اړوند د نورو جرمونو لکه د فرېبکارۍ، اختلاس، د مخدره موادو تجارت او قاچاق جرمونو ګراف په زیاتېدونکي ډول به لوړ شي. له بله پلوه، د پیسو وینځل په ټولنه کې عمومي باور او اعتماد کمزوری کوي، د هغه اخلاقي معیارونه او حرفه له منځه وړي او په ټولنه کې دموکراتیکې ادارې له منځه وړي.

### دویم مطلب: اقتصادي اغېزې:

له اقتصادي لید لوري، د پیسو وینځل د هېواد اقتصاد ته یو جدي ګواښ ګڼل کېږي. مشروعو مالي حسابونو او برخو ته د ککړو پیسو ننباسل کولای شي اقتصادي او سیاسي ټیکاو وګواښي. دا ګواښونه او اغېزې ښایي په لاندې شکلونو صورت ونیسي[1]:

#### لومړی- مستقیمې اغېزې:

د پیسو وینځل پانګونې له منځه وړي او ملي تولید کم ارزښته کوي. پانګې د تولیدوونکي د کمو فعالیتونو پر لور سوق کوي او جرم او اداري فساد ته د زمینې په برابرولو سره په خپل وار د اقتصادي ودې مانع ګرځي.

#### دویم- پر سالم رقابت او د مالیاتو پر ورکړې اغېزه:

د پیسو وینځل د مالیې پر ورکړه او کوچنیو تجارتي سیالیو منفي اغېزه غورځوي. د پیسو وینځوونکي غالباً مالیې نه ورکوي. د نوموړي امر پایله به دا وي چې پر نورو خلکو به فشار راوړل شي ترڅو زیاته مالیه ورکړي ترڅو د دولت لګښتونه تأمین شي، یعنې په نهایت کې د پیسو د وینځوونکو مالیاتي ونډه هم د خلکو پر غاړه تحمیلېږي.

[1] - نک: محمد محیی الدین عوض، جرائم غسل الأموال، ص ۷۱-۷۹.

**دریم: د پیسو پر ارزښت او د اسعارو پر نرخ اغېزه:**

د پیسو وینځل د پیسو پر ارزښت او د اسعارو پر نرخ نامطلوبه اغېزه غورځوي. دا اغېزې په ټولنو کې د ودې پر لور دي او په ډېرو بهرنیو مرستو پورې به محسوس وي. د ملي پیسو ارزښت هغه وخت په زیاتېدونکي ډول راټیټېږي چې د پیسو وینځوونکو په وسیله ککړې پیسې د هېواد اقتصاد ته ننوځي.

**څلورم: پر بهرنیو پانګونو اغېزه:**

د پیسو وینځل پر بهرنیو پانګونو خورا ناوړې اغېزې غورځوي. بهرني پانګوال معمولاً په هغو هېوادونو کې چې ګمان کېږي د هغوی تجارتي او مالي سکتورونه د سازمان موندونکي جرمونو تر کنټرول او اغېز لاندې دي، پانګونه نه کوي.

## دریم مطلب: سیاسي - امنیتي اغېزې:

د پورته اغېزو سربېره، د پیسو د وینځلو له سیاسي او امنیتي اغېزو څخه باید غافل نه شو. ځکه چې د سازمان یافته جرمونو مرتکبین کولای شي د مالي ادارو داخل ته نفوذ وکړي، د پانګونې له لارې، د هېواد د اقتصاد د زیاتې برخې کنټرول په خپل لاس کې واخلي. یا عامه مقاماتو ته او په حقیقت کې دولتونو ته د رشوت او بډو ورلاندیز وکړي.

د موکراسۍ پر لور په روانو هېوادونو کې دا مجرمانه اغېزه کېدلای شي د انتقال یا لېږد زمینې له منځه یوسي، ځکه چې د پیسو وینځوونکي کولای شي سیاسي ډلو ته په ننوتلو او یا د احزابو او سیاسي بهیرونو له تشکیلولو سره یوځای له پیسو او امکاناتو څخه د برخمن کېدو په دلیل، په آسانۍ سره په ټاکنو کې بریالي شي او ځواک او قدرت په قبضه کې واخلي او بیا خپل مجرمانه حکمونه او سلطه - چې د هېواد پر ټیکاو به مستقیمه اغېزه ولري - اجراء کړي.

## دویم مبحث: د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې حقوقي سرچینې او ملي او نړیوالې ادارې:

د پیسو وینځل که په ملي سطحه وي او یا که په نړیواله سطحه وي، په ځانګړو قوانینو کې جرم انګاري شوی او نورو اړوندو قوانینو هم له ځانګړو جزایي قوانینو سره یوځای دې جرم ته د رسیده ګۍ حکمونه او قواعد تنظیم کړي دي، دې جرم ته د رسیده ګۍ او مبارزې لپاره د قانوني چوکاټ ترڅنګ، ځانګړې ادارې هم د دې ناوړې پدیدې پر وړاندې د مبارزې لپاره رامنځته شوي او د اړوندو جرمي فعالیتونو له پراخېدو څخه د مخنیوي او مهارولو لپاره عملاً په ملي او نړیواله کچه فعالیت لري، چې هڅه کېږي په دې مبحث کې دواړه پورته ذکر شوې موضوع ګانې تر بحث او څېړنې لاندې ونیول شي:

### لومړی وینا: په افغانستان کې د پیسو د وینځلو حقوقي سرچینې او قواعد:

د پیسو وینځل یوه پراخه پدیده ده چې د خورا پېچلو تکتیکونو په کارولو سره د دې جرم مرتکبین غواړي بېلابېلو مالي سیستمونو ته نفوذ وکړي. دا ځانګړتیا، قانون جوړوونکي، اجرایي ادارې او نور مقامات په ډېرو هېوادونو کې اړ باسلي ترڅو د دې پدیدې پر وړاندې د مبارزې لپاره په ملي او نړیواله کچه همکاري وکړي او قوانین او حقوقي قواعد وضع کړي، چې پرته له شک، د پیسو د وینځلو د حقوقي سرچینو او قواعدو پېژندنه او د هغوی د مراتبو د سلسلې تشخیص د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې په امر کې د ذیدخل اشخاصو او مراجعو لپاره یو له مهمو بحثونو څخه دی ترڅو د اړتیا په صورت کې سمو سرچینو ته مراجعه وکړي - احیاناً - د نوموړو سرچینو د تعارض په حالت کې د هغه د مراتبو سلسله درک کړي او د هغه سمې سرچینې ته ارجحیت ورکړي.

په راتلونکو پاڼو کې به لومړی په افغانستان کې نافذې ملي او نړیوالې سرچینې او بیا د هغه د مراتبو د سلسلې په اړه بحث ولرو:

په افغانستان کې د پیسو د وینځلو جرم حقوقي سرچینې او قواعد په دوو برخو وېشل کېږي: ملي سرچینې او نړیوالې سرچینې.

### لومړی مطلب: ملي حقوقي سرچینې:

د پیسو د وینځلو د حقوقي قواعدو په ملي سرچینو کې لاندې قوانین شاملېږي:

**لومړی فرعه: اساسي قانون:**

اساسي قانون د جرمونو پر وړاندې د مبارزې کُلي کرښې په بشپړ ډول مشخصوي، د کشب، تحقیق او فیصلې د کُلي صلاحیتونو د توزیع له ډلې، په ترتیب سره د پولیسو، څارنوالی او قضاء ارگانونو ترمنځ (۱۲۰ او ۱۳۴ مادې)، د دې قانون په ۲۵ تر ۳۲ مادو او ۳۷، ۳۸، ۴۰ او ۱۳۵ مادو کې درج د مظنونینو او تورنو حقوق او د جزايي عادلانه محکمو اصول چې په نهایت کې یاد شوي قواعد او اصول باید د پیسو د وینځلو جرمونو پر وړاندې د مبارزې په امر کې مراعات شي.

**دویمه فرعه: عادي قوانین:**

د هېواد په حقوقي نظام کې د ملي شورا مصوبې او د جمهور رئیس تقنیني فرمانونه دویمه درجه قواعد تشکیل کړي، او د اساسي قانون د ۱۲۱ مې مادې سره سم دا قوانین باید له اساسي قانون سره سم وي. همدارنگه د اساسي قانون د درېیمې مادې پر بنسټ نوموړې مصوبې باید د شریعت له احکامو او د اسلام له معتقداتو پر خلاف نه وي. پرته لدې، له پېشبیني شوي میکانیزم سره سم د اساسي قانون په ۱۲۱مه ماده کې لغوه او او یا د هغه اجراء منع گرځي.

په افغانستان کې د پیسو د وینځلو جرمونه له ټاکلي جرمونو څخه په ترلاسه شوو عوایدو پورې منحصر نه دي، دا ځانگړنه د هغه ساحه پراخوي او په پایله کې د هغه سرچینې هم پراخوالی مومي. نو ویلای شو چې ټول جزايي قوانین د پیسو د وینځلو جرمونو د سرچینو له جملې گڼل کېږي په دې توپیر سره چې ځیني له دې قوانینو څخه لکه د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون او د افغانستان بانک قانون، د دې جرم مباشره او اصلي سرچینه او ځیني نور چې له اصلي جرمونو (اولیه جرمونه چې د تورو سرمایو سرچینه تشکیلوي) څخه بحث کوي، د غیر مستقیمو سرچینو او یا د هغه د فرعې په توگه گڼل کېږي.

له همدې کبله، د متن لرونکي قوانینو په برخه کې لاندې قوانین د پیسو د وینځلو د سرچینو په توگه لوستلای شئ.

**۱- د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون:**

دا قانون د ۱۳۹۳ کال د زمري په لومړۍ نېټه په ۱۱۴۲ گڼه رسمي جریده کې خپور شوی دی. د دې قانون ۳۹، ۵۰ تر ۵۴ مادې د جزا کود د ۹۱۶مې مادې د ۲ فقرې د ۲۱ بند پر بنسټ لغوه شوې دي.

همدارنګه نوموړی قانون دوه ځلې تعدیل شوی دی. لومړی تعدیل یې د ۱۳۹۵ کال د وري په ۳۰مه نېټه په (۱۲۱۰) ګڼه رسمي جریده کې خپور او دویم تعدیل یې د ۱۳۹٦ کال د تلې په ۲۵مه نېټه په (۱۲٦۹) رسمي جریده کې خپور شوی دی. لومړی تعدیل پراخه او ماهوي دی خو تعدیل یوازې په دوو برخو کې په شکلیاتو کې دی:

- د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې د همغږۍ عالي کمېسیون او د هغه د کاري کمېټې په جوړښت کې یې تغییرات راوړي دي.
- همدارنګه د مالي استخباراتو د واحد نوم یې "د مالي معاملو او راپورونو د تحلیل مرکز) ته تعدیل کړی دی.

له دې قانون څخه وړاندې، په ۱۳۸۳ کال د لړم د میاشتې په ۱۰ نېټه په ۸۴۰ ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د «د پیسو د تطهیر او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو پر وړاندې د مبارزې قانون» نافذ وو چې اوسمهال ملغا دی.

**۲ - د جزا کوډ:**

د جزا کوډ شپږم باب سازمان شوي جرمونو ته ځانګړی شوی دی، په خپل دویم فصل کې د پیسو د وینځلو جرم او د هغه مجازات بیانوي، چې د دې ویشنې پر بنسټ ویلای شو چې په جزا کوډ کې د پیسو د وینځلو جرم له سازمان شوي جرمونو څخه ګڼل شوی دی.

دا فصل مجموعا ۱۲ مادې لري (له ۴۹۸ تر ۵۰۹ مادو). لکه څرنګه چې وړاندې واضح کړل شول، د دې قانون په انفاذ سره، د پیسو د وینځلو او له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون ۳۹ ماده او له ۵۰ تر ۵۴ مادو پورې لغوه شوې دي.

د یادونې وړ بله ټکی دا دی چې د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون د ۴مې مادې او د جزا کوډ د ۴۹۸مې مادې په مطالعې او پرتله کولو سره د دې دوو مادو ترمنځ یو ډول تعارض لیدل کېږي او له کومه ځایه چې د جزا کوډ د پیسو د وینځلو له مخنیوي قانون څخه وروستی راغلی دی، نو غوره به وای چې قانون جوړوونکي د جزا کوډ په ۹۱٦مه ماده کې د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون ۴مه ماده هم د دې قانون د لغوه شوو مادو په ډله کې ځای پر ځای کړې وه.

لکه څرنګه چې لیدل کېږي، د جزا کوډ د ۴۹۸مې مادې په ۱ فقره کې د پیسو د وینځلو اعمالو ارتکاب یوازې د وجوهو او شتمنۍ د منشاء د ناقانوني والي په اړه د علم او آګاهۍ په حالت کې د پیسو د وینځلو جرم ګڼل شوی دی، په داسې حال کې چې د پیسو د وینځلو او له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون په ۴مه ماده کې د پیسو د وینځلو د اعمالو ارتکاب حتی د وجوهو او شتمنۍ د منشاء د ناقانوني والي په اړه د شک په حالت کې هم د پیسو د وینځلو جرم ګڼل کېږي.

د دې تعارض د تحلیل او یا دفع کولو لپاره که د جزا کود د وروستۍ مادې ۳۴ بند ته مراجعه وشي، نو وبه لیدل شي چې د همدې بند په موجب له جزا کود سره د معارضو د نورو قوانینو جزایي حکمونه هم ملغا ګڼل شوي دي، نو داسې پایله اخیستلای شو چې د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون (په ۱۳۹۳ کال کې په ۱۱۴۲ ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی) ۴مه ماده هم د جزا کود له ۴۹۸مې مادې سره لغوه شوې او په دې ماده کې د درج شوو اعمالو ارتکاب د وجوهو او شتمنۍ د منشاء د ناقانوني والي په اړه د شک په حالت کې د پیسو د وینځلو جرم نه ګڼل کېږي.

**۳- د افغانستان بانک قانون:**

د افغانستان بانک د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې مهم او عمده رول پر غاړه لري. د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون د افغانستان په بېلابېلو مواردو کې له هغو اړخونو څخه د یوه په توګه چې د پیسو د وینځلو د مخنیوي او د هغه پر وړاندې د مبارزې په امر کې څرګند رول او ډېر شمېر مسؤولیتونه پر غاړه لري، یادونه او متعدد صلاحیتونه او مسؤلیتونه دې ادارې ته ورکړل شوي دي، لکه څرنګه چې د دې قانون په ۹، ۲۱، ۲۴، ۲۵، ۲۹، ۳۳ مادو کې په صراحت سره له د افغانستان بانک څخه د پیسو د وینځلو په جرم کې د یو اساسي او ذیدخل ادارې په توګه یادونه کړې او د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون ۶۹مې مادې د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون د تکمیلي مقرراتو د وضع کولو صالحت یې د د افغانستان بانک له صلاحیتونو څخه ګڼلی دی.

دا ټول موارد، د دې دوو قوانینو ترمنځ نږدې اړیکه ښیي او دا یو طبیعي امر دی، ځکه چې د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې عمده مسؤولیت د افغانستان بانک پر غاړه لري که په مستقیم شکل یا د هغه مالي استخباراتو د واحد له لارې وي چې د هغه په پایله کې رامنځته شوی دی.

**درېیمه فرعه: د اجرائیه قوې مصوبې:**

د اساسي قانون د شپږ اویا یمې مادې په موجب، حکومت د اداري مقرراتو د وضع او تصویب صلاحیت لري. د نوموړي متن سره سم دا مقررات "باید د هیڅ قانون له متن او یا روح سره مناقض نه وي". د افغانستان بانک د حکومت د یوې برخې په توګه له دې صلاحیت څخه برخمن دی په ځانګړې ډول چې د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون ٦٩مه ماده د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې قانون د تطبیق په موخه د مقرراتو د وضع کولو صلاحیت یې دې ادارې ته ورکړی دی.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک په دې اړه زیاتې مقررادې او کاري لوایح تصویب کړي دي چې مهم هغه یې عبارت دي له[1]:

د پیسو د لېږد، اسعارو او په سرحدي ګمرکونو کې د بې نومه معاملې وړ سندونو په اړه د راپور ورکولو او کنټرول مقرره، په ۱۳۹۴ کال کې په (۱۱۷۰) رسمي ګڼه جریده کې نشر شوې او او تعدیل یې د ۱۳۹۴ کال د مرغومي په ۲۵مه نېټه په (۱۲۰۳) رسمي جریده کې نشر شوی دی.

د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مخنیوي کوونکي د مسؤولیتونو او اقدماتو مقرره، ۲۰۱٦.

د صرافانو او د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د فعالیتونو د تنظیم مقرره، ۱۳۹۷.

د تروریزم له تمویل څخه د مخنیوي د اجراآتو د تنظیم مقرره، د ۱۳۹۳ کال د سلواغې د میاشتې په ۱۵مه نېټه په (۱۱٦۱) ګڼه رسمي جریده کې خپره شوې ده.

د وجوهو د الکترونیکي انتقالاتو مقرره، ۲۰۱٦.

د جواز ورکولو او د پیسو د ورکړې او ارزښت لرونکي پاڼو د انتقال له سیستم څخه د څارنې مقرره، ۲۰۱٦.

د بانکي مؤسساتو د ممنوعه او مجازو فعالیتونو مقرره، ۱۳۸٦.

---

[1] - دا سندونه د افغانستان بانک په وېبپاڼه کې د موندلو وړ دي:

https://dab.gov.af/dr/مقرره-ها

**(۳) درېیم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

د افغانستان بانک له خپلو لایحو څخه په یوه کې عمل منع کړی او مرتکبینو ته یې نغدي جزا ټاکلې ده. آیا دا لایحه د تطبیق وړ به وي یا نه؟ آیا د هغه تطبیق د جرم او جزا د قانونیت له اصل سره په تعارض کې قرار لري یا نه؟ که فرضاً د نوموړي عمل لپاره جزا پیشبیني کړې، ستاسو نظر څه دی؟

## دویم مطلب: د نړیوالو حقوقو سرچینې:

افغانستان لاندې نړیوال سندونه لاسلیک او هغوی ته ژمن دي:

۱ـ د مخدره موادو او روان اړوونکو درملو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې په اړه د ویانا کنوانسیون: د ۱۹۸۸ کال د ډسمبر په میاشت کې تصویب شوی، افغانستان دا سند په ۱۳۷۰ هرجي شمسي کال کې چې له (۱۹۹۲ زېږدیز کال) سره سمون خوري، تصویب کړی دی.

۲ ـ په پالرمو کنوانسیون مشهور د سازمان شوو جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو سازمان کنوانسیون: دا کنوانسیون افغانستان د ۲۰۰۰ زېږدیز کال د ډسمبر د میاشتې په ۱۴مه نېټه لاسلیک او د همدې کال د ډسمبر د میاشتې په ۲۴مه نېټه یې تصویب کړ.

۳- د اداري فساد او بډو پر ضد د مبارزې میثاق: دا میثاق د ۱۳۸٦ هجري لمریز کال د مرغومي د میاشتې په ۲مه نېټه د ولسمشر له لورې توشیح او نافذ شو او د ۱۳۸٦ کال د مرغومي د میاشتې په ۲۵مه نېټه په (۹۳٦) ګڼه رسمي جریده کې خپور شو. د دې میثاق ۱۴مه ماده د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې په امر کې اهمیت لري.

٤ ـ افغانستان د Asia Pacific Group غړیتوب د ۲۰۰٦ زېږدیز کال د اپریل په میاشت کې او د The Egmont Group غړیتوب یې په ۲۰۱۰ زېږدیز کال کې ترلاسه کړي دي. له دې دوو ادارو څخه لومړنۍ اداره غړې او دویمه یې د FATF ناظر دي. له همدې کبله، افغانستان د پیسو د تطهیر او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې په اړه د (FATF ۹+٤۰) وړاندېزونو ته ژمن دی. دا وړاندېزونه او یا معیارونه په مکرر ډول تر بیا لیدنې لاندې نیول شوي او نوې نسخه یې د ۲۰۱۲ زېږدیز کال د فبرورۍ د میاشتې په ۱۵مه نېټه د FATF د غړو لخوا تأیید او تصویب شوه.

د Egmont په گروپ کې غړيتوب چې په کې د هېوادو د استخباراتي واحد غړي شامل دي، هم د لېواله هېواد د مالي استخباراتو د واحد د غوښتنلیک وړاندې کول په واسطه صورت نیسي، پوښتنه دا ده چې آيا د افغانستان د مالي استخباراتو واحد دا صلاحیت لري ترڅو د ورته گروپونو غړیتوب ترلاسه کړي او په پایله کې افغانستان یو لړ معیارونو ته ژمن کړي؟ د پیسو د وینځلو جرم څخه د مخنیوي قانون په خپله یو دېرشمه ماده کې د مالي استخباراتو واحد ته له سیالو بهرنیو ادارو سره د همکارۍ د تړونونو یا ژمنو د لاسلیکولو صلاحیت ورکړی دی. د قراردادونو د چوکاټ د تعینوونکي وصف او یا قید پرته د "نورو ژمنو" اصطلاح په حقیقت کې دې ادارې ته پراخه صلاحیت ورکړل دی. له بله پلوه دا پوښتنه د بحث وړ ده چې آیا پورته ذکر شوي گروپونه " بهرنۍ سیالې ادارې گڼل کېږي یا نه؟ بله دا چې پورته مادې د افغانستان د مالي استخباراتو واحد ته د قرارداد لاسلیکولو، نه په سیمه ییزو او نړیوالو ادارو کې د غړیتوب صلاحیت ورکړل دی. دا هغه پوښتنې دي چې د FATF وړاندېزونو ته د افغانستان ژمنتوب تر پوښتنې لاندې راولي[۱].

## دویمه وینا: د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د حقوقي قواعدو د مراتبو سلسله:

د حقوقي قواعدو په سر کې د اساسي قانون حکمونه شتون لري، بیا عادي قوانین، بیا د وزیرانو شورا مصوبې "مقررې" او په پای کې د افغانستان بانک په گډون د اړوندو ادارو لایحې او طرز العملونه.

**(۴) څلورم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

هغه نړیوال سندنه چې د افغانستان له لورې تصویب شوي دي، د حقوقي قواعدو د مراتبو سلسلې له پلوه په کوم موقعیت کې قرار لري؟ آیا پورته قوانین ملي دي (د اساسي قانون په گډون)؟ او یا له عادي قوانینو سره څنگ پر څنگ قرار لري؟ او یا دا سندوه د قاضي د حکم پر بنسټ قرار نیسي یا نه؟

---

[۱] - نصیر الله خالد، جرایم تطهیرپول در نظام حقوقی افغانستان، ص ۲۳-۲۴.

د قانون د تطبیقوونکو لپاره د حقوقي قواعدو د مراتبو سلسلې پېژندل مهم دي، ځکه چې د حقوقي قواعدو د تعارض پرمهال مکلف دي چې د حقوقي قواعدو د مراتبو سلسله مراعات کړي او هغو قواعدو ته چې د تطبیق لومړیتوب لري، ترجیح ورکړي.

## درېیمه وینا: اړونده ملي او نړېوالې ادارې:

له ملي او نړیوال پلوه د پیسو وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې مبارزه یو مهم لومړیتوب ګڼل کېږي. نو د پیسو د وینځلو پر وړاندې مقابلې لپاره بېلابېلې نړیوالې او ملي ادارې رامنځته شوي دي، چې تر دې وینا لاندې به یې ځینې ادارې در پېژنو:

## لومړی مطلب: ملي ادارې:

د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې د طریقې له مهمو عناصرو څخه یو یې دا دی چې مالي مؤسسې او نور ټاکل شوې غیر مالي حرفې، دهغو معاملو چې په کې د پیسو د وینځلو یا د تروریزم د تمویل شک کېږي، په اړه اړوندو مقاماتو ته راپور ورکړي. نو ایجاب کوي ترڅو دولتونه ځانګړې ادارې او د مالي اطلاعاتو واحدونه د هغو مالي اطلاعاتو د تحلیل او ارزونې په منظور چې شایي مجرمانه یا تروریسي فعالیتونو پورې اړه ولري، رامنځته کړي.

د افغانستان دولت هم د دې واقعیت په درک کولو سره او د نوموړو جرمونو د کشف او مخنیوي په منظور ادارې رامنځته کړي دي چې لاندې پرې په لنډ ډول بحث کوو:

### لومړۍ فرعه: د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز:

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز (FinTRACA) د مالي استخباراتو د واحد (FIU) په توګه د پیسو د تطهیر او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو پر وړاندې د مبارزې قانون له تصویب او توشیح ورسته په ۲۰۰۴ زېږدیز کال کې تأسیس شو. د دې قانون اساسي موخه تر ډېره بریده د افغانستان د مالي نظام خوندیتوب او پیاوړتیا او له نړیوالو میثاقونو او تړونونو څخه اطاعت کول دي. د معاملو د شننې مرکز په خپلو اجراآتو کې خپلواک او په خپلو ټولو اجراآتو کې د د افغانستان بانک عالي شورا ته ځواب ویوونکی دی.

د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز په خپلواکۍ کې د دې قانون د حکمونو له مخې د معلوماتو د ترلاسه کولو، غوښتلو، تجزیې او تحلیل یا وړاندې کولو په برخو کې د تصمیم نیولو بشپړ واک شامل دی.[۱] نو په دې برخه کې لومړی د معاملو د شننې مرکز په اړه لنډه څېړنه کوو، بیا راپور ورکوونکې مراجع تر څېړنې لاندې نیسو.

**لومړی: موخه:**

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز عمده موخه د هغه شمېر افرادو له ناوړې استفادې څخه مخنیوی چې خپل عواید یې د نا مشروعو فعالیتونو له لارې ترلاسه کړي وي او همدارنګه هغه افراد چې د تروریزم د تمویل او ورڅخه د ملاتړ په برخه کې ترې ګټه پورته کوي، تشکیلوي. په داسې حال کې چې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز تر هر بریده د افغانستان د مالي نظام په پیاوړتیا، د نړۍ له مالي نظامونو سره د تعامل په موخه د هېواد د مالي نظام په ځواکمنولو، اقتصادي ودې، پانګونې او په راتلونکي کې د افغانستان په سوکالۍ کې د پام وړ رول لوبوي.

**دویم: دندې:**

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د خپلو موخو د ترلاسه کولو په منظور له بېلابېلو سرچینو څخه معلومات راټولوي او تحلیلوي. په دې سرچینو کې هغه ادارې شاملې دي چې قانوناً د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز ته د مشکوکو فعالیتونو پرمهال او همدارنګه له هغې ټاکل شوې اندازې څخه د لوړو نغدي معاملو په اړه چې د دې ادارې لخوا د قانون د ګټو په رڼا کې مشخص کېږي، د راپورونو په ورکولو مکلف دي. باید وویل شي چې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د افغانستان حکومت پورې اړوندو ټولو معلوماتو او ډېټابیسونو ته لاسرسی لري. که چېرې د دې معلوماتو شننه وښیي چې د هېواد له مالي نظام څخه ناوړه استفاده کېږي، نو د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د قانون د تنفیذ مقاماتو سره لازمه همکاري کوي ترڅو غیر قانوني مشکوک فعالیتونه وڅېړي او تعقیب یې کړي. د دې ټولو ترڅنګ د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز له خپلو شننو او څېړنو او د بهرنیو همکارانو له شننو او څېړنو څخه د ملاتړ لپاره

---

[۱] - په ۱۳۹۳ کال کې تصویب شوی د پیسو د وینځلو او له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د ۲۵مې مادې ۳ فقره.

تر هغه بریده چې د قانون لخوا جواز لري، په نړیواله کچه همکاري کوي. د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز په نورو دندو کې د هغه شمېر ادارو زده کړه شامله ده چې قانوناً دې مرکز ته د راپور په ورکولو مکلف دي. په دوی کې هغه ادارې شاملې دي چې د هېواد په کچه د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې له موخو څخه د ملاتړ په منظور د قوانینو او مقرراتو د طرحې، تدوین او ودې او همدارنګه د مشکوکو فعالیتونو په پېژندنه کې د نړیوالې او سیمه ییزې همکارۍ او د پیسو د تطهیر پر وړاندې د متقابلو اقداماتو مسؤولیت پر غاړه لري، هم د روزنیزو او پوهاوي برنامو تر پوښښ لاندې نیول کېږي.

په خلص ډول، کولای شو چې د معاملو د واحد په دندو کې لاندې موارد شامل وګڼو:[1]

۱- د معاملو راټولول او تنظیم.
۲- د افغانستان بانک له مقرراتو سره سم د نغدو پیسو د هر ډول معاملو راپور.
۳- د مشکوکو مالي معاملو او تبادلو څخه ساتنه.
٤- له دولتي سرچینو څخه د معلوماتو ترلاسه کول.
۵- د بهرنیو دولتونو له سرچینو څخه د معلوماتو ترلاسه کول.
٦- د راپورونو او معلوماتو شننه.[2]
۷- له نورو دولتي معاملو سره د موندنو پرتله کول.
۸- د میتودونو، لیستونو او نورو ښکارکوونکو نښو پرتله کول.
۹- د معامله کوونکو د هویت تشخیصول.
۱۰- د نمونو او نورو ښکاروونکو نښو معرفي کول.
۱۱- د شننو او معاملو خپرول.
۱۲- د شک له تائید وروسته تعقیبوونکې مرجع ته د شننو (له اصلي راپورونو پرته) انتقال.
۱۳- بهرنیو ادارو ته د هغوی د رسمي غوښتنې پر بنسټ د معلوماتو لېږد.

[1] - دا دندې او د هغه جزئیات د ۱۳۹۳ کال د پیسو د وینځلو او له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون په دریېیم فصل کې د دې قانون په ۲۵ – ۳۴ مادو کې پرې بحث شوی او بیان شوي دي.

[2] - د ۱۳۹۳ کال د پیسو د وینځلو او له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د ۲۹مې مادې (۱) فقره.

۱٤- د پیسو د وینځلو قوانین او مقررات وړاندیزول.

۱۵- د پیسو د وینځلو جرمونو اړوند د تقنیني سندونو د وضع کولو وړاندیز کول.

۱٦- د پیسو د وینځلو جرمونو اړوند د تقنیني سندونو د تعدیل یا لغوه کولو وړاندیز کول[۱]

۱۷- د راپور ورکوونکې مرجع ته د لاربښودونو، طرز العملونو، متحدالمالونو او پالیسیو صادرول.

۱۸- د کارکوونکو مسلکي روزنه.

۱۹- د راپور ورکوونکې مراجعو ته مسلکي روزنه ورکول.

۲۰- دولتي ادارو ته مسلکي روزنه ورکول.

۲۱- د امکان په صورت کې د جواز لیک او اجازه لیک درلودونکې مؤسسو ته مسلکي روزنه ورکول.

د دې دندو ترڅنګ، د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز لاندې دندې هم پرمخ وړي:

a. نړیواله همکاري[۲]

b. بهرنیو سیالو ادارو ته د معلوماتو وړاندې کول.

c. معلوماتو ته ځواب او سیالو بهرنیو ادارو ته د مشکوکو معلوماتو په اړه د راپور لیږل.

d. کلنی راپور ورکول[۳]

e. د افغانستان بانک عالي شورا ته د کلني راپور ترتیبول او وړاندې کول.

f. د اجراآتو په اړه معلومات ورکول.[٤]

د معاملو د شننې مرکز کولای شي راپور ورکوونکو مراجعو ته د اړتیا پرمهال د مشکوکو معاملو، د پیسو د وینځلو مواردو د کشف، د تروریزم د تمویل، اصلي جرمونو، بهیر، د پیسو د وینځلو او تروریزم د تمویل لپاره د استفادې وړ طریقو او نورو هغو معلوماتو په اړه چې د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل په اړه ضروري ګڼل کیږي، د راپورونو د کیفیت په برخه کې خپل نظریات وړاندې کړي.

[۱] - د پیسو د وینځلو او له هغه څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د ۳۲مې مادې ۱ بند.

[۲] - د پیسو د وینځلو او له هغه څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون ۳۱مه ماده.

[۳] - د پیسو د وینځلو او له هغه څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د ۲۹مې مادې (۱) فقره.

[٤] - د پیسو د وینځلو او له هغه څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون ۳۰مه ماده.

**دريیم : محرمیت:**

د مالي استخباراتو واحد هغه مهم رول چې د خپلواک منځګړي په توګه يې د راپور ورکوونکي او د قانون د تنفيذ ادارو ترمنځ پر غاړه لري، په غوره توګه درک کوي. دا واحد خپل قانوني مکلفيتونه او ژمنې د ترلاسه شوو معلوماتو د سرچينو او محرميت د خونديتوب په موخه او همدارنګه د د دې معلوماتو د کارولو طريقه د قانون د ګټو پر بنسټ د قانوني کارونې لپاره په جدي ډول رعايتوي. پر دې بنسټ، د پيسو د وينځلو د مخنيوي قانون شپږ ويشتمې مادې د معلامول د شننې مرکز کارکوونکي مکلف کړي ترڅو ترلاسه شوي معلومات که د دندې پرمهال او يا له هغه وروسته په هغه طريقه چې قانون تصريح کړې ده، افشاء نه کړي. او په هغه صورت کې چې د شننې مرکز اوسني کارکوونکي او حتی پخواني کارکوونکي عمداً محرم معلومات افشاء کړي، له قانون سره سم هغو ته مجازات په پام کې نيول شوي دي.

**څلورم: تشکيل:**

د مالي استخباراتو واحد يو معاونيت لري چې اداري او د معلوماتي ټکنالوژۍ، تحليل او اړيکو، د قانون منلو، سيمه ييزې څانګې د هغه تر اثر لاندې فعاليت لري[۱].

**پنځم: راپور ورکوونکې مراجع:**

د معاملو د شننې مرکز له مهمو دندو څخه يوه له راپور ورکوونکې مراجعو څخه د راپور ترلاسه کول دي. نو د راپور ورکوونکې مراجعو د ځای، قلمرو او دندو څېړل اړين دي. د پيسو د وينځلو او له جرم څخه د راپيدا شوو عوايدو د مخنيوي قانون په پنځمه ماده کې په بشپړ ډول د راپور ورکوونکې مراجعو موضوع ته اشاره کړې ده. د دې مادې پر بنسټ، راپور ورکوونکې مراجع په دوو برخو مالي مؤسسو او غير مالي تشبثونو او حرفو باندې وېشل کېږي.

۱ http://dab.gov.af/fa/page/about-the-bank/departments/financial-intelligence-unit

**دويمه فرعه: نورې ملي ادارې:**

د کورنيو چارو وزارت، عدليې وزارت، لويه څارنوالي او محکمې په همغږۍ کولو او د پيسو د وينځلو پر وړاندې د مبارزې د سياست اجراء کولو کې مهم رول لوبوي.

د کورنيو چارو د وزارت په چوکاټ کې د افغانستان ملي پوليس، د جنايي پوليسو، سرحدي پوليسو او له تروريزم سره د مبارزې پوليسو د رياست په شمول د پيسو د وينځلو پر جرم مقدم د اصلي جرمونو او د تروريزم د تمويل جرم په اړه خپلې څېړنې ترسره کوي.

همدارنګه له درنو جرمونو سره د مبارزې ځانګړی ځواک د اختطاف او اداري فساد د جرمونو په اړه د حساسو څېړنو څانګه د مخدره موادو د جرمونو په اړه او همدارنګه د ملي امنيت اداره د ملي امنيت اړوند ټول موارد څېړي او اړوند معلومات راټولوي.

له هغه ځايه چې په ګمرکونو کې د عايداتو راټولول، د ګمرکي ماليو او حق العبور له جملې د ماليې وزارت په دندو او صلاحيتونو پورې اړه لري، دا وزارت همدارنګه د افغانستان په ټولو پولو کې ګمرکي مقرراد، ګمرګي ادارې او د هغه له فعاليت څخه څارنه وړانديزوي.

## دويم مطلب: نړيوالې ادارې:

په نړيواله کچه هم د پيسو د وينځلو جرمي فعاليتونو د مخنيوي او کنټرولولو لپاره ډېرې ادارې رامنځته شوې دي چې هره يوه يې ځانګړې طريقې او موخې او ځيني وخت هم ګډې تعقيبوي چې کولای شو له لاندې ادارو څخه د نمونې په توګه يادونه وکړو[1]:

أ. د پيسو د وينځلو پر وړاندې نړيواله معلوماتي شبکه[2]. د پيسو د وينځلو او د تروريزم د تمويل پر وړاندې يوه څېړنيزه سرچينه ده چې په ۱۹۹۸ زېږديز کال کې د ملګرو ملتونو لخوا د پيسو د وينځلو پر وړاندې د فعالو سازمانونو د فعاليتونو د همغږي کولو په منظور تأسيس شوه.

---

[1] - په ځانګړي ډول د نړيوالو ادارو او د هغوی د وېبپاڼو په اړه د مطالعې لپاره د پيسو د وينځلو پر وړاندې د مبارزې د نړيوالې معلوماتي شبکې وېبپاڼې ته مراجعه وکړئ: https://www.imolin.org/imolin/en/links.html

[2] - The International Money Laundering Information Network (IMoLIN). - د دې ادارې په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره د هغې وېبپاڼې ته مراجعه وکړئ: https://www.imolin.org/imolin/en/about_us.html

ب. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پیسو پر وړاندې د مبارزې څانګه[۱].
ج. د کارابین د مالي اقداماتو کاري ځواک[۲].
د. د اروپايي اتحادیې اړوند د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې د تدابیرو د ارزونې لپاره د متخصصینو کمېټه[۳].
ه. د یورو آسیا ډله[٤]
و. د ختیځې او سویلي افریقا د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې ډله[٥].
ز. په سویلي امریکا کې د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مالي اقداماتو ډله[٦].
ح. په لویدیځه افریقا کې د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې بین الحکومتي ډله[۷].
ط. انټرپول [۸]
ي. او د امریکایي دولتونو سازمان[۹].

د روزنیزو برنامو د وخت له پلوه محدودیتونو پر بنسټ، نه شو کولای چې نومورې اداري در وپېژنو، نو له هغوی څخه یوازې دوه نړیوالې اداري چې د اهمیت او ځانګړي فعالیت څخه برخمنې دي، در پېژنو چې یوه یې نړیواله او بله یې سیمه ییزه اداري دي:

---

۱ - The Counter-Terrorism Committee (CTC).

۲ - Caribbean Financial Action Task Force (CFATF).

۳ - Committee of Experts for the Evaluation of Anti-Money Laundering Measures and the Financing of Terrorism (MONEYVAL)

٤ - The Eurasian group on combating money laundering and financing of terrorism (EAG) https://eurasiangroup.org/en

٥ - Eastern and Southern Africa Anti-Money Laundering Group (ESAAMLG). https://www.esaamlg.org/

٦ - Financial Action Task Force on Latin America (GAFILAT). http://www.gafisud.info/

۷ - The Inter-Governmental Action Group against Money Laundering in West Africa (GIABA). https://www.giaba.org/

۸ - Interpol. https://www.interpol.in

۹ - The Organization of American States (QAS). http://www.oas.org/en/about/who_we_are.asp

**لومړۍ فرعه: د مالي اقداماتو کاري ځواک (FATF)[۱]:**

د مالي اقداماتو کاري ځواک (چې په لنډه بڼه د FATF سازمان په نوم یادېږي) یو نړیوال گروه کاری اقدامات مالی(که اختصاراً به نام سازمان فتف یاد می شود) یو نړیوال فرا ملي او پالیسي جوړوونکی سازمان دی چې د ۱۹۸۹ کال د جولايي په میاشت کې د اوو هېوادونو[۲] په غونډه کې او د لومړي ځل لپاره په پاریس کې یې غونډه تشکیله کړه چې موخه یې د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې د تدابیرو څېړل او لوړول دي[۳].

د دې سازمان د نورو اهدافو له ډلې، د نړیوال مالي نظام یو پارچگۍ او منسجم والي ته د معیارونو برابرول او د پیسو وینځلو، د تروریزم د تمویل او د نورو گواښونو پر وړاندې د مبارزې لپاره د حقوقي، طریقه یي او اجرایي تدابیرو اجرا کولو ته وده ورکول دي. نو د FATF سازمان یوازې یو پالیسي جوړوونکی سازمان دی چې موخه یې د پیسو د وینځلو په برخه کې په داخلي قوانینو کې د اصلاحاتو رامنځته کولو په منظور د اړتیا وړ سیاسي ارادې رامنځته کول دي.

یاد کاري ځواک یو لړ سپارښتنې یې وړاندې کړې دي چې د پیسو د وینځلو، د تروریزم د تمویل او د تولیزې وژنې وسلو د تولید پر وړاندې مبارزه کې د نړیوالو معیارونو په توگه پېژندل کېږي. نوموړې معیارونه د نړیوال مالي نظام د منسجم والي پر وړاندې گواښونو ته د همغږو ځوابونو لپاره بنسټ گڼل کېږي. د نړیوالو اقداماتو د کاري ځواک سپارښتنو ته په لومړي ځل په ۱۹۹۰ کال کې وړاندې شوې او په په ۱۹۹۶، ۲۰۰۱ او ۲۰۰۳ کلونو کې او په ورستي ځل په ۲۰۱۲ کال کې وده ورکړل شو. دا سپارښتنې داسې لیکل او برابرې شوې دي چې نړیواله کارونه او استعمال ولري.

نوموړی کاري ځواک د ضروري تدابیرو په اجرا کولو کې د غړو هېوادونو له پرمختگ، د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل له تخنیکونو او د هغوی پر وړاندې د مبارزې له تدابیرو څخه څارنه کوي، او په نړیواله کچه د مناسبو تدابیرو تصویب او اجرا کول هڅوي. «کاري ځواک...» له نورو نړیوالو همکارانو

---

[۱] - Financial Action Task Force (FATF).

[۲] - Group of Seven. په دې ډله کې د کاناډا، فرانسې، جرمني، ایتالیې، جاپان، انگلستان او د امریکا متحده ایالتونو هېوادونه شامل دي

[۳] - https://www.fatf-gafi.org/about/historyofthefatf/

سره په همغږۍ له نړیوال مالي نظام څخه د ساتنې او له هغه څخه د ناوړې استفادې د مخنیوي په منظور د هېوادونو د داخلي سیستمونو د ضعف د نقطو پر پېژندلو کار کوي.

**دویمه فرعه: د آسیا/اقیانوس د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې ډله[۱]:**

د FATF سازمان چې وړاندې در وپېژندل شو، له فعالیتونو څخه یو یې دا دی چې د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې په خاطر سیمه ییز سازمانونه او هغه سازمانونه چې د دې څواک د څلوېښت گونو سپارښتنونو پر بنسټ رامنځته شوي دي، تشویقوي. په همدې اساس، د آسیا په براعظم کې د آسیا – اقیانوس د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې ډله په ۱۹۹۷ کال کې د تایلینډ په بنکاک کې رامنځته شوه. دا ډله ۴۱ غړي او یو شمېر نړیوال او سیمه ییز ناظران لري. له مهمو نړیوالو سازمانونو څخه ځینې چې په سیمه کې د نوموړې ډلې په فعالیتونو کې گډون لري او د هغه له هڅو څخه ملاتړ کوي، عبارت دي له: د مالي اقداماتو کاري څواک (FATF)، نړیوال بانک (World Bank)، د اقتصادي همکارۍ او پراختیا سازمان (OECD)[۲]، د مخدره موادو او جرمونو په اړه د ملگرو ملتونو دفتر[۳]، د آسیا پراختیایي بانک[٤]، او د اگمونټ د مالي اطلاعاتو ډله[٥].

د آسیا – اقیانوس ډله پنځه مهم نقشونه ترسره کوي:

۱- د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې د نړیوالو معیارونو په رڼا کې د غړو شکایتونو ته رسیده گي.

۲ – د غړو لخوا د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې د معیارونو رعایتونو ته د ودې ورکولو په منظور د دوه اړخیزې همغږۍ او د مرسته کوونکو ادارو د فني مرستو رامنځته کول، او د آسیا-اقیانوس په ساحه کې مسلکي زده کړې.

---

۱ - The Asia Pacific Group (APG). http://www.apgml.org/ د دې ډلې رسمي وېبپاڼه:

۲ - The Organization for Economic Co-operation and Development (OECD).

۳ - United Nations Office on Drugs and Crime (UNODC).

٤ - Asian Development Bank (ADB).

٥ - The Egmont Group of Financial Intelligence Units.

۳-د پیسو پر وړاندې د مبارزې د نړیوالې شبکې سره مشارکت او همکاري - په عمده توګه د مالي اقداماتو له کاري ځواک- او د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې نورې سیمه ییزې ډلو سره.

٤ - له هغه څخه د راپیدا شوو زیانونو او خطرونو په اړه غړو ته د غوره معلوماتو رسونې په منظور د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل تمایلاتو او طریقو په اړه د څېړنې او شننې ترسره کول،.

٥ - د مالي اقداماتو په کاري ځواک کې د فعال غړیتوب له لارې د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې د نړیوال سیاست او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د معیارونو په وده کې ونډه اخیستل.

همدارنګه د آسیا - اقیانوس د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې ډله خپلو غړو ته د همغږو داخلي نظامونو د رامنځته کولو په اړه د مشکوکو معاملو د راپورونو په اړه د څېړنې او راپور ورکولو په منظور مرسته کوي. همدارنګه د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل جرمونو د څېړنې او تعقیب لپاره اغېزمنو ظرفیتونو ته وده او پرمختګ ورکول د دې ډلې له نورو موخو څخه دي.

## د لومړۍ برخې پایلېزه:

د پیسو د وینځلو جرم د کلیاتو په اړه له بحث او څېړنې وروسته لاندې پایلې مو ترلاسه کړې:

۱. د پیسو وینځل د هغه په عام او کُلي مفهوم سره عبارت دي له: د پیسو وینځل د هغو اقداماتو په معنی دی چې له مجرمانه اعمالو او نامشروعو راکړو ورکړو څخه د ترلاسه شوو پیسو د واقعي منشاء او سرچینې د پټولو په منظور صورت نیسي ترڅو د ککړو او نامشروع پیسو په اصطلاح په ظاهره کې پاکې او قانوني څرګندې شي.

۲. د ۱۳۹٦ کال د جزا کوډ په خپل دویم فصل، شپږم باب کې د پیسو د وینځلو او د هغه د مجازاتو تر عنوان لاندې یې په ۴۹۸مه ماده کې د پیسو د وینځلو جرم داسې تعریف کړی دی: " (۱) د وجوهو او شتمنۍ د منشاء د غیر قانوني والي په هکله د (خبرتیا) آګاهۍ په لرلو سره د لاندې اعمالو ارتکاب د پیسو سپینولو جرم پېژندل کېږي:

أ. د غیر قانوني منشاء لرونکو وجوهو او شتمنۍ انتقال یا بدلون (تغییر).

ب. د جرم له ارتکاب څخه له راپیدا شوو قانوني عواقبو څخه د اصلي جرم د مظنون پّ تېښته کې مرسته.

ج. د وجوهو او شتمنۍ د واقعي ماهیت، سرچینې، موقعیت، د تصرف څرنګوالي، انتقال یا د مالکیت د حق پټول یا شکل ته تغییر ورکول.

د. له جرم څخه د راپیدا شوو وجوهو او شتمنۍ تحصیل، تصاحب یا استفاده.

۳. غالباً په درې مواردو کې د پیسو د وینځلو جرم ارتکاب: د ترلاسه شوو پیسو په ځای پر ځای کولو، طبقه جوړولو یا پټولو او ادغام سره خلاصه کېږي.

٤. د پیسو وینځل په ډېرو او بېلابېلو طریقو سره صورت نیسي چې تر ټولو مهمې او مشهورې طریقې یې د پیسو کوچني کول، په زیاتو اندازو سره د پیسو د قاچاقۍ باسل، هغه حرفې یا مشغولتیاوې چې له نغدو پیسو سره سروکار لري، د پیسو تګ او راتګ، د بانک تسخیر، د قمار خونو رامنځته کول، تور معاشونه، د معاملې له لارې د پیسو وینځل، د شرکتونو او خیالي بنسټونو جوړول او له سیاحتي شرکتونو څخه استفاده تشکیلوي.

۵. اساسي قانون، عادي قوانين لکه د پيسو د وينځلو او له جرمونو څخه د راپيدا شوو عوايدو د مخنيوي قانون، د جزا کوډ، د افغانستان بانک قانون، د هېواد نور جزايي قوانين او د اجرائيه قوې مصوبې په افغانستان کې د پيسو د وينځلو سرچينې او حقوقي قواعد تشکيلوي.

٦. د پيسو د وينځلو جرم اړوند د نړيوالو سرچينو له جملې افغانستان لاندې نړيواله سندونه لاسليک کړي او هغوی ته ژمن دی:

أ. د مخدره موادو د قاچاق او روان اړوونکو درملو پر وړاندې د مبارزې په اړه د ويانا کنوانسيون: د ۱۹۸۸ کال د ډسمبر په مياشت کې تصويب شوی، افغانستان دا سند په ۱۳۷۰ هجري لمريز کال کې چې له (۱۹۹۲ زېږديز کال) سره سمون خوري، تصويب کړی دی.

ب. د فرا مليتي سازمان شوو جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو کنوانسيون چې د پالرمو کنوانسيون په نوم مشهور دی: دا کنوانسيون افغانستان د ۲۰۰۰ زېږديز کال د ډسمبر مياشتې په ۱۴مه نېټه لاسليک او د همدې کال د ډسمبر د مياشتې په ۲۴مه نېټه يې تصويب کړ.

ج. د اداري فساد او رشوت (بډو) پر وړاندې د مبارزې ميثاق: دا ميثاق د ۱۳۹٦ هجري لمريز کال د مرغومي د مياشتې په ۲مه نېټه د ولسمشر لخوا توشيح او نافذ شو او د ۱۳۹٦ کال د مرغومي د مياشتې په ۲۵مه نېټه په (۹۳٦) ګڼه رسمي جريده کې خپور شو. د دې ميثاق ۱۴مه ماده د پيسو د وينځلو پر وړاندې د مبارزې په امر کې اهميت لري.

د. همدارنګه افغانستان د Asia Pacific Group غړيتوب د ۲۰۰٦ زېږديز کال د اپريل په مياشت کې او د The Egmont Group غړيتوب يې په ۲۰۱۰ زېږديز کال کې ترلاسه کړي دي. له دې دوو ادارو څخه لومړنۍ ادار د FATF غړې ده او دويمه هغه يې د FATF ناظره ده.

۷. هغه تر ټولو مهمه ملي اداره چې د پيسو د وينځلو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې فعاليت لري عبارت ده له "د مالي معلوماتو او راپورونو د شننې مرکز" څخه چې د مالي استخباراتو د واحد (FIU) په توګه د پيسو د تطهير او له جرمونو څخه د راپيدا شوو عوايدو پر وړاندې د مبارزې

قانون له تصویب او توشیح وروسته په ۲۰۰۴ زېږدیز کال کې تأسیس شوه. د معلوماتو د شننې مرکز په خپلو اجراآتو کې خپلواکه ده او په خپلو ټولو اجراآتو کې د افغانستان بانک عالي شورا ته ځواب ویوونکې ده. همدارنګه د کورنیو چارو وزارت، د عدلیې وزارت، لویه څارنوالي او محکمې د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې د سیاست په همغږي کولو او ترسره کولو کې مهم رول ترسره کوي.

۸. خو په نړیواله کچه کولای شو چې د مالي اقداماتو کاري ځواک څخه د یو نړیوال سازمان او د آسیا – اقیانوس د پیسو د وینځلو پر وړاندې مبارزې له ډلې څخه د سیمه ییز سازمان په توګه یادونه وکړو.

أ. د مالي اقداماتو کاري ځواک (FATF) یو نړیوال فرا ملي سازمان دی چې د ۱۹۸۹ زېږدیز کال د جولایي په میاشت کې د اووو غړو هېوادونو (G۷) په غونډه کې تأسیس شو او د لومړي ځل لپاره په پاریس کې یې غونډه رامنځته کړه چې موخه یې د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې د تدابیرو څېړل او لوړول دي.

ب. د آسیا – اقیانوس د پیسو د وینځلو پر وړاندې مبارزې ډله د نورو فعالیتونو «د مالي اقداماتو کاري ځواک" او د دې ډلې د څلوېښت ګونو سپارښتنو پر بنسټ په ۱۹۹۷ کال کې د تایلینډ په بنکاک کې رامنځته شوه او ۴۱ غړي او یو شمېر نړیوال او سیمه ییز ناظران لري.

۹. د آسیا – اقیانوس ډله په بېلابېلو برخو لکه: د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې د نړیوالو معیارونو په رڼا کې د غړو شکایتونو ته په رسیده ګی، د دوه اړخیزې همغږۍ په رامنځته کولو، د آسیا – اقیانوس په سیمه کې په مسلکي زده کړو، د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې له نړیوالې شبکې – په ځانګړي ډول د مالي اقداماتو کاري ځواک – او نورو سیمه ییزو ډلو سره په مشارکت او همکارۍ، د پیسو د وینځلو او تروریزم د تمویل د تمایلاتو او طریقو په اړه د څېړنې او شننې په ترسره کولو او د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې د نړیوال سیاست او د تروریزم د تمویل پر وړاندې مبارزې د معیارونو په وده او پرمختګ کې په ونډه اخیستلو کې مهم رول لوبوي.

# دويمه برخه

# د پيسو د وينځلو جرم عناصر

## موخې:

د دې روزنيزې ناستې په پايله کې به ګډونوال په دې وتوانېږي ترڅو:

- د پيسو د وينځلو جرم اړوند د جزا کوډ مادې تحليل او تجزيه کړي؛
- د پيسو د وينځلو جرم تشکيلوونکي عناصر تشخيص کړي؛
- د پيسو د وينځلو جرم موارد د جزا کوډ په رڼا کې په ګوته کړي؛
- د پيسو د وينځلو اړوند جزايي قضيو ته د جزا کوډ په رڼا کې سم جرمي وصف ورکړي؛ او
- د پيسو د وينځلو جرم په اړه په جزا کوډ کې طرحه شوي ملاحظات په ګوته کړي او تحليل او ويې ارزوي.

## عنوانونه:

۱. د پيسو د وينځلو جرم قانوني عنصر؛
۲. د پيسو د وينځلو جرم مادي عنصر؛ او
۳. د پيسو د وينځلو جرم معنوي عنصر.

# دویمه برخه

# د پیسو د وینځلو جرم عناصر

**سریزه:**

لکه څرنګه چې هر جرم له درې عمومي عناصرو (قانوني عنصر، مادي عنصر او معنوي عنصر) څخه تشکیلیږي او ځینې جرمونه ځانګړي عناصر هم لري چې غالباً د قانون له نصوصو څخه استنباطیږي. په راتلونکو کرښو کې به د پیسو د وینځلو جرم عناصر په درې مبحثونو کې تر بحث لاندې ونیول شي.

**لومړی مبحث: د پیسو د وینځلو جرم قانوني عنصر:**

د جزا کود له ۳۲مې مادې سره سم، «**د جرم قانوني عنصر په دې قانون کې د جرمي عمل او د هغه د ټاکلې جزا له تصریح څخه عبارت دی.**» د دې تعریف په مفهوم، د پیسو د وینځلو جرم قانوني عنصر د جزا کوډ له ۴۹۸ تر ۵۰۹ مادې تشکیلوي؛ په داسې ډول چې د پیسو د وینځلو جرمي اعمال په ۴۹۸مه ماده او د هغه ټاکلې جزا د جزا کود په ۴۹۷ تر ۵۰۹ مادو کې تصریح شوې ده.

**دویم مبحث: د پیسو د وینځلو جرم مادي عنصر:**

د پیسو د وینځلو جرم له مطلق جرمونو څخه دی. نو د هغه په مادي عنصر کې جرمي کړنه، د جرم موضوع او لومړنی جرم (اصلي جرم) شامل دي. په لاندې کرښو کې په څلورو ویناوو کې لومړی د پیسو د وینځلو جرم ډول د پایله لرونکي او مطلق والي له پلوه تشریح کېږي، بیا یې د مادي عنصر اجزاوې بیانېږي.

**لومړۍ وینا: د پایلې درلولو او مطلق والي له پلوه د پیسو د جرم ډول:**

د جزا کود ۴۹۸مې مادې ته په کتو، د پیسو د وینځلو جرم له نا پایله لرونکي جرمونو څخه دی، یعنې یوازې د پیسو د وینځلو په قصد د فعل ترسره کول جرم دی ولو که د دې فعل په پایله کې پیسې په مشروع شتمنۍ کې ظاهرې نه شي. د بېلګې په ډول: د جزا کود د ۴۹۸مې مادې په ۱ جزء کې که چېرې شخص هغه پیسې یا شتمني چې منشاء یې غیر قانوني وي، له یو ځای څخه بل ځا ته انتقال کړي، د پیسو د وینځلو جرم مرتکب شوی دی که د دې انتقال په پایله کې پیسې یا شتمني مشروع بڼه ځانته غوره

کړي یا نه. همدارنګه د نوموړې مادې په نورو اجزاوو کې د پایلې رامنځته کېدل د پیسو د وینځلو جرم د بشپړتیا لپاره شرط ګڼل شوی نه دی، او د مرتکب شتمن کېدل په نوموړو اجزاوو کې د درج شوو فعلونو ترسره کول لازم نه دي. بل مطلب دا چې په نا پایله لرونکي یا مطلق جرمونو کې چې د پیسو د وینځلو جرم د هغه له ډلې دی، په جرم پیل شتون نه لري.

اما باید یادونه وشي چې ځیني حقوقپوهان په خپلو لیکنو کې د "پیسو د وینځلو په جرم پیل" په اړه غږېدلي دي، په ځینو نړیوالو سندونو کې هم د دې موضوع په اړه بحث شوی دی[1]، چې البته موخه یې په جرمي کړنې او یا سلوک پیل دی نه په جرم پیل د هغه په حقوقي معنی سره. د لا زیات وضاحت لپاره باید اضافه کړو چې په جرم د پیل له ارکانو څخه یو - د هغه په حقوقي مفهوم سره - د مرتکب له ارادې څخه د دباندې اسبابو پر بنسټ د پایلې نه رامنځته کېدل دي، له بله پلوه له جرمي پایلې څخه مراد هم هغه تغییرات دي چې په خارج عالم کې ظاهر شوي دي او قانوني ملاتړی حق تر تېري لاندې نیسي، خو د پیسو د وینځلو په جرمونو کې لیدل کېږي چې دا پایله ذاتاً د جرمي کړنې په اصل کې نغښتې دی، په دې معنی چې یوازې د جرمي فعل یا سلوک په پیل سره تاکل شوی، جرمي پایله په خپله واقع شوې او تام جرم صورت نیسي، لکه پر عفت او ناموس د تېري جرم چې یوازې د حیاء د له منځه وړلو فعل په پېښېدو سره د هغه پایله چې د مجني علیه حیاء ته له زیان رسېدو څخه عبارت ده، په خپلسري ډول واقع کېږي، نو په دې ځای کې باید د نوموړي جرم پر پیل بحث ونه شي[2].

## دویمه وینا: جرمي کړنه:

جرمي کړنه د پیسو د وینځلو جرم د مادي عنصر له اجزاوو څخه یو دی، لومړی هغه کړنې چې د جزا کود د ۴۹۸مې مادې په (۱) فقره کې د پیسو د وینځلو جرم ګڼل شوې دي، یادوو، بیا د دغو کړنو تشریح او توضیح ته راګرځو.

د جزا کود د ۴۹۸مې مادې (۱) فقره لاندې کړنې د پیسو د وینځلو جرم ګڼلې دی:

---

[1] - د پیسو د وینځلو په اړه د ملګرو ملتونو د نمونه یي قانون ۲۱مې مادې، او د مخدره موادو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې په اړه د ویانا تړون (۱۹۸۸) د (c) فقرې (iv) بند ته مراجعه وکړئ.

[2] - نصیر الله خالد، جرایم تطهیر پول در نظام حقوقی افغانستان، ص ۳٤.

۱- د غير قانوني منشاء لرونکو وجوهو او شتمنۍ انتقال يا بدلون (تغيير).
۲- د جرم له ارتکاب څخه له را پيدا شوو قانوني عواقبو څخه د اصلي جرم د مظنون په تېښته کې مرسته.
۳- د وجوهو او شتمنۍ د واقعي ماهيت، سرچينې، موقعيت، د تصرف څرنګوالي، انتقال يا د مالکيت د حق پټول يا شکل ته تغيير ورکول.
٤- له جرم څخه د را پيدا شوو وجوهو او شتمنۍ تحصيل، تصاحب يا استفاده.

**د پورته ذکر شوو کړونو تشريح او توضيح:**

**۱- د غير قانوني منشاء لرونکو وجوهو او شتمنۍ انتقال يا بدلون (تغيير):**

د وجوهو او شتمنۍ له انتقال څخه منظور هر هغه انتقال دی چې فزيکي او يا الکترونيکي وي، که د حوالې له لارې او يا د داخلي بانکونو څخه بهرنيو بانکونو ته وي. د پيسو وينځوونکي په يو له هغو بانکونو کې چې آزاد او نرم بانکي مقررات لري، پيسې اچولي دي، بيا هغه خپل اصلي ځای ته انتقالوي چې دې عمل ته (Boomerang) هم وايي.[۱]
د وجوهو او شتمنۍ له تغيير څخه منظور له يو پولي واحد څخه بل پولي واحد ته د هغه بدلول، يا نغدې پيسې په جنس يا هر بل ډول بدلون دی؛ د پيسو وينځوونکي د خلافو اعمالو څخه راپيدا شوې پيسې په داخلي بازارونو کې په طلا او الماسو او داسې نور بدلوي، بيا دا اجناس بهر ته وړي او پلوري يې او په بهرنۍ اسعارو يې بدلوي، او د دې طريقې په کارولو سره کولای شي پيسې د همدې هېوادونو په بانکونو کې واچوي او يا د قيمتي جنسونو په ګټو کې ګډون وکړي او د بې نوم والي په علت اکثره پېرودونکي د رسمي مقاماتو له اطلاع پرته، دا پيسې په پاکو پيسو بدلوي.[۲]

[۱] - عبد الرضا ملک و محبوبه اصفهانی، پول شويی وراه های مبارزه با آن، ص۵. www.IrPDF.com
[۲] - هماغه.

**۲- د جرم له ارتکاب څخه له راپیدا شوو قانوني عواقبو څخه د اصلي جرم د مظنون په تېښته کې مرسته:**

د اصلي جرم له مظنون سره مرسته په داسې ډول چې هغه د آثارو او قانوني تبعاتو په ګډون په هغه جرم مرتکب نه شي، د پیسو د وینځلو جرم دی[۱]. اصلي جرم د پیسو د وینځلو او له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د تعدیل د درېیمې مادې له ۱۳ جزء سره سم[۲]، عبارت دی له «**هغه جرمي عمل دی چې د هغه د ارتکاب په پایله کې، وجوه او شتمني په مستقیم یا غیر مستقیم ډول لاسته راغلي وي. پرته له دې چې جرم د هېواد دننه یا له هېواد څخه بداندې واقع شي**».

**(۵) پنځم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

(x) شخص لس میلیونه افغانۍ چې د اختلاس له لارې یې ترلاسه کړي دي، (y) شخص ته ورکوي ترڅو هغه سپینې کړي، دا شخص د پیسو د سپینلو پرمهال نیول کېږي او څرګندوي چې دا پیسې (x) شخص هغه ته ورکړې دي. پولیس (x) نیسي او څارنوالۍ ته یې تسلیموي. دواړه اشخاص تر توقیف لاندې نیول کېږي. د توقیف خونې له کارکوونکو څخه یو له (y) شخص څخه د یوې اندازه پیسو په اخېستلو سره ورسره په تېښته کې مرسته کوي.

**پوښتنه: د دې قضیې په رڼا کې لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ؟**

لومړی – په پورته قضیه کې څوک په اصلي جرم او څوک په فرعي جرم مرتکب شوی دی؟

دویمه: د توقیف خونې کارکوونکی په کوم جرم مرتکب شوی دی؟

درېیمه: آیا په دې قضیه کې د جرم له ارتکاب څخه د راپیدا شوو قانوني عواقبو څخه د اصلي جرم د مظنون په تېښته کې مرسته ترسره شوې ده یا نه؟

**احتمالي ځواب:**

لومړی – په پورته قضیه کې (x) شخص د اصلي جرم مرتکب او (y) شخص د فرعي جرم مرتکب دی<

[۱] - مهجوریان، کلیات مبارزه با پول شویی، اداره مبارزه با پول شویی بانک مرکزی(ایران)، ص۸

[۲] - په ۱۳۹۵/۱/۳۰ نېټه ۱۲۱۰ ګڼه رسمي جریده،

دویم - د توقیف خونط کارکوونکی د جزا کود د ۴۹۸مط مادې د (۱) فقرې په ۲ جزء کې د درج شوي اصلي جرم د مظنون په تېښته کې د مرستې په جرم مرتکب شوی نه دی، ځکه چې د اصلي جرم مظنون (x) شخص دی او د توقیف خونې کارکوونکي د (y) شخص په تېښته کې مرسته کړې ده. خو د توقیف خونې عمل له جرمي وصف څخه خالي نه دی؛ هغه د جزا کود په ۴۹۸مې ماده کې د درج شوي مظنون شخص په تېښته کې په مرسته مرتکب شوی دی. ټکی: سربېره پردې چې په ۴۹۸مه ماده کې د تورن نوم کارول شوی نه د مظنون، خو دې ته په کتو چې د جزا کوډ قانون جوړوونکي د «مظنون او تورن» د اصطلاحاتو په کارولو کې له دقت څخه کار نه دی اخیستی، نو ویلای شو چې د مظنون په تېښته کې مرسته د تورن په تېښته کې د مرستې په حکم کې دی.

دریم - نه، په دې قضیه کې د جرم له ارتکاب څخه له را پیدا شوو عواقبو څخه د اصلي جرم د مظنون په تېښته کې مرسته نه ده ترسره شوې.

آیا تاسو له دې ځواب سره چې ښایي صحت ولري، موافق یاست یا بل ځواب ورته لرئ؟

**(٦) شپږم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

۱- ولې د جزا کود د ۴۹۸مې مادې د (۱) فقرې په ۲ جزء کې درج شوی جرم یوازې د اصلي جرم د **مظنون** په تېښته پورې منحصر شوی دی؟ آیا د اصلي جرم د **تورن** په تېښته کې مرسته په دې حکم کې نه شاملېږي؟

۲- ولې قانون جوړوونکي د جزا کود د ۴۹۸مې مادې د (۱) فقرې په ۲ جزء کې د اصلي جرم د **مظنون** په تېښته کې مرسته د پیسو وینځل پېژندلی دی، خو د فرعي او یا تابع جرم (یعنې د پیسو د وینځلو جرم) د مظنون په تېښته کې د مرستې په اړه څه نه دي ویلي؟ د بېلګې په ډول؛ احمد د اصلي جرم مرتکب کېږي (مثلاً د مخدره موادو قاچاق) او محمود له هغه څخه د راپیدا شوې شتمنۍ بڼې ته تغییر ورکوي او په دې ډول د تابع او یا فرعي جرم (یعنې د پیسو وینځلو جرم) مرتکب کېږي. اوس که یو شخص له احمد سره او بل شخص له محمود سره په تېښته کې مرسته وکړي، نو د جزا کود پر اساس لومړی شخص چې احمد سره یې په تېښته کې مرسته کړې ده، د پیسو د وینځلو جرم مرتکب پېژندل کېږي، خو دویم شخص چې محمود سره یې په تېښته کې مرسته کړی ده، د پیسو د وینځلو جرم مرتکب نه پېژندل کېږي. د جزا کود د توپیر لرونکي چلند علت څه دی؟ او د دوی شخص مسؤولیت څه کېدلای شي؟

**احتمالي ځواب:**

**د لومړۍ پوښتنې ځواب:** دا احتمال شتون لري چې د اصلي جرم د تورن په تېښته کې مرسته په لومړنۍ طریقې په دې حکم کې شامل وي، ځکه چې تورن له مظنون شخه خطرناک دی.
**د دویمې پوښتنې ځواب:** احتمالاً دا علت چې د اصلي جرم د مرتکب په تېښته کې مرسته کړې ده، دا دی چې دا تېښتول غالباً د جرم د پېښولو لامل ګرځي او په پایله کې له هغه شخه د راپیدا شوې شتمنۍ پټول دي. لکه څرنګه چې د جزا کود د ۴۹۸مې مادې په ۳ فقره کې تصریح شوي دي چې له جرم څخه د راپیدا شوې شتمنۍ د ماهیت او یا سرچینې پټول د جزا کود له ۴۹۲مې مادې سره سم له عدلي تعقیب څخه د شخص په تېښته کې د مرستې تر عنوان لاندې جرم پېژندل شوی او د هغه مرتکب په قصیر حبس یا له دېرشو زرو تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.
آیا تاسو له دې ځوابونو سره چې د صحت احتمال لري، موافق یاست یا که بل ځواب ورته لرئ؟

## ۳- د وجوهو او شتمنۍ د واقعي ماهیت، سرچینې، موقعیت، د تصرف څرنګوالي، انتقال یا د مالکیت د حق پټول یا شکل ته تغییر ورکول:

په پورته ذکر شوي جزء کې د هغو عوایدو د واقعي ماهیت، منشاء یا سرچینې، ځای، ځای پر ځای کول، نقل او انتقال یا مالکیت پټول چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د جرم په پایله کې تحصیل شوی وي، د پیسو د وینځلو جرم پېژندل شوی دی.
د جزا کود د ۴۹۸مې مادې د (۱) فقرې په ۳ جزء کې درج شوې جرمي کړنې په لاندې ډول تجزیه کېدلای شي:

الف- د وجوهو او شتمنۍ د واقعي ماهیت پټول یا یې بڼې ته تغییر ورکول. مثال: مرتکب د پیسو واقعي ماهیت پټوي ترڅو درک نه کړل شي چې دا تورې پیسې دي، یا د پیسو واقعي ماهیت بڼې ته تغییر ورکوي؛ د پیسو وینځوونکي په بهرنیونو بانکونو کې د پیسو په اچولو سره له همدغو بانکونو څخه د خپلو مالونو په ملاتړ د پور غوښتنه کوي او له دې لارې هغوی ته پاکو پیسو ته د لاسرسي امکان برابرېږي.[1]

ب- د وجوهو او شتمنۍ د سرچینې پټول یا یې بڼې ته تغییر ورکول. مثال: مرتکب د تورو پیسو د منشأ پټول ترڅو ونه پوهېدل شي چې دا پیسې له کومه ځایه رامنځته شوې دي، یا یې منشأ ته تغییر

[1] - هماغه.

ورکوي، يعنې دا توري پيسې په يو سوداګريز فعاليت کې پانګونه کوي ترڅو وښيي چې دا پيسې د هغه د تجارتي کار ګټه ده.

ج- د وجوهو او شتمنۍ د موقعيت پټول يا يې بڼې ته تغيير ورکول. مثال: مرتکب د پيسو موقعيت پټوي، يعنې نه ښيي چې توري پيسې په کوم ځای کې اېښودل شوي دي، يا د پيسو موقعيت بدلوي.

د- د وجوهو او شتمنۍ د تصرف څرنګوالی پټول يا يې بڼې ته تغيير ورکول. مثال: مرتکب نه افشا کوي چې کوم تصرفات يې په تورو پيسو کې ترسره کړي دي؛ آيا هغه له بهرنيو پيسو سره تبادله کړې يا په هغه سره يې جنس پېرودلی دی يا هغه يې بهرني هېواد ته لېږلي دي يا په هغه سره يې پانګونه کړې او يا بل تصرف په هغه کې ترسره کړی دی. په وجوهو او شتمنۍ کې د تصرف د څرنګوالي شکل ته بدلون ورکول په دې مورد کې متصور نه دی.

هـ- د وجوهو او شتمنۍ لېږد پټول يا يې بڼې ته بدلون ورکول. مثال: مرتکب نه افشاء نه کوي چې توري پيسې يې د داخلي بانک له لارې بهرني بانک ته لېږلې دي يا هغه يې په فزيکي شکل بهرني هيواد ته انتقال کړي دي. د انتقال بڼې ته بدلون ورکول په دې مورد کې متصور نه دی.

و- د وجوهو او شتمنۍ د مالکيت حق پټول يا يې بڼې ته بدلون ورکول. مثال: مرتکب د تورو پيسو مالک پټوي او نه وايي چې دا پيسې چا له غير قانوني منشأ څخه ترلاسه کړې دي.

**٤- له جرم څخه د راپيدا شوو وجوهو او شتمنۍ تحصيل، تصاحب، يا استفاده:**

د جزا کود د ۴۹۸ مې مادې د (۱) فقرې د ۴ جزء جرمي اعمال په لاندې ډول تجزيه کېدلای شي:

الف- له جرم څخه د راپيدا شوو وجوهو او شتمنۍ تحصيل.

ب- له جرم څخه د راپيدا شوو وجوهو او شتمنۍ تصاحب.

ج- له جرم څخه د راپيدا شوو وجوهو او شتمنۍ څخه استفاده.

له غير قانوني فعاليتونو څخه د ترلاسه شوو عوايدو تحصيل، تصاحب يا استفاده په دې اړه پوهېدو سره چې په مستقيم يا غير مستقيم ډول د جرم د ارتکاب په پايله کې ترلاسه راغلي دي، د پيسو د وينځلو جرم

پېژندل کېږي.[۱] د تحصیل او تصاحب ترمنځ توپیر دا دی چې په تحصیل کې تملک شرط نه دی بلکه دا عمل یوازې د مال په ترلاسه کولو سره رامنځته کېږي، خو تصاحب هغه دی چې شخص مال په خپل ملکیت کې راولي.

## درېیمه وینا: د پیسو د وینځلو جرم موضوع:

د پیسو د وینځلو جرم له موضوع څخه منظور هغه شه دي چې دا جرم پرې واقع کېږي یا په بل عبارت، د هغه ځای گرځي. د راجح نظر پر بنسټ او د جزا کود د ۴۹۸مې مادې د (۱) فقرې د ۲ او ۴ اجازوو او د ۴ فقرې صراحت ته په کتو، د پیسو د وینځلو جرم موضوع «**له جرم څخه راپیدا شوې وجوه او شتمني**» تشکیلوي. نو که په نوموړې (۱) فقره کې درج جرمي کړنې پر وجوهو یا شتمنۍ واقع نه شي، او یا پر هغو مشروع او قانوني وجوهو یا شتمنیو واقع شي چې له مدني او یا تجارتي تخلفاتو څخه راپیدا شوې وي، نه له جرم څخه، په دې ټولو حالتونو کې د پیسو د وینځلو جرم نه رامنځته کېږي. د بېلگې په ډول: د مشروع وجوهو او شتمنیو انتقال، تغییر، پټول یا تصاحب که په هره اندازه وي، د پیسو د وینځلو جرم نه حسابېږي. همدارنگه له حده زیات له سرحدونو حخه مجاز له اطلاع ورکولو پرته او په قوانینو کې د نوموړو وقایوي تدابیرو له رعایت پرته د پیسو د وینځلو جرم نه شمېرل کېږي، بلکه یو بل جلا جرم دی چې د جزا کود په ۵۰۵مه ماده کې پرې بحث شوی دی، ځکه چې د پیسو د وینځلو جرم له اختصاصي عناصرو څخه یو چې د جرم له موضوع څخه عبارت دی، په دې ځای کې شتون نه لري ځکه چې وارد شوې او یا صادر شوې شتمنۍ له جرم څخه راپیدا شوې نه دي. همدارنگه له باطلو هوکړو یا له نورو هغو سوداگریزو او یا مدني تړونو څخه ترلاسه شوې شتمنۍ چې په جزایي قوانینو کې د جرم په توگه پېشبیني شوې نه دي، که څه هم غیر مشروع او د هغه مالکینو ته د ارجاع وړ شتمنۍ دي، خو دې ته په کتو چې له جرم څخه راپیدا شوې نه دي، د پیسو د وینځلو جرم نه گڼل کېږي. په ځینو هېوادونو کې چې د هغوی له جملې څخه سعودي عربستان دی، شرط نه دی چې د پیسو د وینځلو جرم د موضوع شتمنۍ دې له جرم څخه راپیدا شوې وي، بلکه هر هغه غیر قانوني شمتنی که له

[۱] - کلیات مبارزه با پول شویی، اداره مبارزه با پول شویی بانک مرکزی، مدرس: خانم مهجوریان، ص۸.

جرم څخه او یا له مدني او سوداګریزو تخلفاتو څخه راپیدا شوې وي د پیسو د وینځلو جرم موضع کېدلای شي[۱].

د طرحې وړ پوښتنه داده چې له جرم څخه له راپیدا شوو وجوهو او شتمنۍ څخه منظور څه دی؟ آیا یوازې فزیکي مالونه که نغد او یا جنس وي، په بر کې نیسي یا دا چې په کې د شتمنیو ثابتوونکي سندونه هم شاملېږي؟

په ځواب کې باید وویل شي: له جرم څخه راپیدا شوي عواید د پیسو د وینځلو او له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د درېیمې مادې د (۱) فقرې په ۱ جزء کې داسې تعریف شوي دي: «هغه وجوه او شتمنۍ دي چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د اصلي جرم د ارتکاب په پایله کې لاسته راغلي وي. له ذکر شوي وجوه یا شتمنۍ له پانګې اچونو څخه حاصله عواید او هغه شتمنۍ چې په کُلي یا قسمي ډول د بلې شتمنۍ په بڼه اووښتي وي، هم په کې شاملېږي»، د هغه په تعقیب د همدې فقرې په ۲ جزء کې وجوه او شتمنۍ داسې تعریف شوې دي: «وجوه یا شتمنۍ: هر ډول مادي او غیر مادي، منقول او غیر منقول، عیني او غیر عیني، مشروع او غیر مشروع شتمنۍ او سندونه یا د الکترونیکي یا ډیجیټلي وسیلو په شمول وسیلې دي چې په دې ډول وجوهو یا شتمنیو کې مالکیت یا د ګټې لرل ثابت کړي او نامقید ډول د پولي حوالو، ونډو (سهام)، بها لرونکو سندونو، د پور پاڼې، برات یا اعتبار لیک (لېټر آف کرېډټ)، ټکټانه، د ونډې ګټې، یا له دې ډول وجوهو یا نورو شتمنیو څخه نور پیدا شوي عواید یا لاسته راغلی ارزښت په کې شامل دي.»

په دې اساس که دا ډول سندونه د جرم د ارتکاب په پایله کې ترلاسه شي، او مرتکب یا نور اشخاص د هغه د جرمي منشأ په درک سره نوموړي سندونه پټ، انتقال، تحصیل، تصاحب یا استفاده کړي یا د جزا کود د ۴۹۸مې مادې په (۱) فقره کې درج شوي نور اعمال په هغه کې ترسره کړي، د پیسو د وینځلو جرم مرتکب پېژندل کېږي.

---

[۱]- نصیر الله خالد، جرم تطهیر پول در نظام حقوقی افغانستان، ص ۳۵.

**(۷) اووم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د جزا کود د ۴۹۸مې مادې په (۱) فقره کې تصریح شوي دي چې له جرم څخه د راپیدا شوو وجوهو یا شتمنۍ پټول، انتقال، تصاحب یا استفاده، د پیسو وینځل ګڼل کېږي. پوښتنه دا ده چې د وجوه او شتمنۍ ترمنځ توپیر څه دی؟ آیا له وجوهو څخه منظور نغدې او منقول پیسې دي؟ نوموړې پوښتنې ته د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د درېیمې مادې د (۱) فقرې د ۲ جزء په رڼا کې ځواب ورکړئ؟

پورته پوښتنې ته له ځواب ورکولو وروسته، د لاندې فرضیو په اړه نظر ورکړئ؟

**۱فرضیه:** (x) شخص د بل د ملکیت یوه ټوټه ځمکه غصب کوي او هغه په نغدو پیسو بدلوي، د هغه جرمي وصف څه دی؟

**۲فرضیه:** (x) شخص د بل د ملکیت یوه ټوټه ځمکه غصب کوي او اوسمهال په خپله هغه او د هغه ورور له هغې څخه استفاده کوي. د هر یو جرمي وصف مشخص کړئ.

**۳فرضیه:** د عامه خدمتونو یو مؤظف له خپلو مراجعینو څخه یوه ته داسې وظیفه ترسره کوي چې د هغه په ترسره کولو مکلف وو، نوموړی مراجعه کوونکی د نوموړي مؤظف د دې عمل په بدل کې هغه ته یو عراده موټر ډالۍ کوي. د نوموړي مؤظف زوی په دې اړه پوهېدلو سره چې دا موټر د هغه پلار ته د وظیفې د ترسره کولو په بدل کې ډالۍ شوی دی، دا موټر کاروي. د مؤظف او د هغه د زوی جرمي وصف مشخص کړئ؟

## څلورمه وینا: هغه اصلي جرم چې له هغه څخه وجوه او شتمني ترلاسه کېږي:

د پیسو د وینځلو جرم د تابع جرم له شکل سره یوځای رامنځته کېږي، په دې معنی چې پر بل جرم مبتني وي چې د اصلي جرم یا لومړني جرم په نوم یادېږي او تر هغه وخته چې دغه جرم وجود ونه لري، د پیسو د وینځلو جرم د پېښېدو وړ نه دی. نو، اصلي جرم د پیسو د وینځلو له جرم سره نه جلا کېدونکې اړیکه لري. په دې وینا کې به هڅه وکړو ترڅو لومړی د اصلي جرم مفهوم واضح کړو، بیا د دواړو جرمونو د اړیکې او د هغه د پایلو په اړه بحث وکړو.

## لومړی مطلب: د اصلي جرم مفهوم:

د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي تعدیل قانون، چې د ۱۳۹۵/۱/۳۰ هجري لمریز کال په ۱۲۱۰ ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی دی، د درېیمې مادې د (۱) فقرې په ۱۳

جزء کې اصلي جرم داسې تعریف شوی دی: «**اصلي جرم: هغه جرمي عمل دی چې د هغه د ارتکاب په پایله کې، وجوه او شتمني په مستقیم یا غیر مستقیم ډول لاسته راغلي وي، پرته له دې چې جرم د هېواد دننه یا له هېواد څخه دباندې واقع کېږي. دا جرمونه د هغو جرمونو ټولې کټګورۍ په بر کې نیسي چې د مالي اقداماتو د کاري ځواک (FATF) په معیارونو کې په نظر کې نیول شوي او په سمندري غلاوو کې هم شاملېږي.**[۱]».

نو، که لومړی جرم رامنځته شوی وي او له هغه څخه مال لاسته راشي، بیا د جزا کود د ۴۹۸مې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو جرمي کړنو څخه یوه پر هغه اِعمال شي، د پیسو د وینځلو جرم مادي رکن تکمیلېږي.

د مصر او متحده عربي اماراتو په څېر د ځینو هېوادونو قوانینو اصلي جرم د جرمونو مشخصو ډولونو ته محدود کړی دی. برعکس، په نړیوالو سندونو کې د جرمونو پر نه محدودیت ټینګار شوی دی. همدارنګه په افغانستان کې د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون پر اصلي جرمونو هیڅ ډول محدودیت وضع کړی نه دی، نو د هغه ساحه پراخه ده او ټول جرمونه په کې شاملېږي.

دې ته په کتو چې د مبارزې د ساحې پراختیا د مبارزې پر کیفیت اغېزه لري، دا چلند له عملي پلوه د کارېدو وړ نه دی. نو ایجاب کېږي چې افغان قانون جوړوونکی اصلي جرمونه په خطرناکو جرمونو پورې محدود کړي، یا لکه د مطر او اماراتو، هغه په معینو جرمونو لکه د مخدره موادو، اداري فساد، قاچاق، اختطاف او داسې نورو جرمونو پورې منحصر کړي، یا دا چې لکه د فرانسې د هېواد د مجازاتو د اندازې له پلوه د جنایاتو جرمونو او د جنحې ځینو جرمونو ته مقید کړل شي او د قباحت جرمونو د جنحې جرمونو له ځینو برخو څخه راپیدا شوي مالونه د پیسو د وینځلو جرمونو له محدودې څخه بهر

---

[۱] - د دې متن وروستی جزء یو نمایشي جزء دی او احتمالاً په دې منظور اضافه شوی دی چې ویونکي یې د FATF له معیارونو سره د هېواد د قوانینو له تطابق څخه مطمئین کړي. د دې نیوکې دلیل دا نه دی چې د FATF معیارونو د جرمونو کټګورۍ مشخص کړي نه دي. په خپل دربیم ورانديز کې یوازې د ویانا او پالرمو هوکړو ته اشاره شوې ده او توصیه کړې یې ده چې سربېره پردې هېوادونه خطرناک جرمونه په اصلي جرمونو کې شامل کړي او ویې هڅوي ترڅو د لومړنیو او یا اصلي جرمونو فهرست پراخه شي. افغانستان لومړني او یا اصلي جرمونه اصلاً په ځانګړي فهرست پورې مقید کړي نه دي. نو په اتوماتیک ډول ټول جرمونه په کې شاملېږي او له همدې کبله دغه تعدیل ته اړتیا نه لیدل کېده.

کړي او د هغوی د مجازاتو په اړه هم په هغو جزاګانو چې په اصلي جرمونو کې پېشبیني شوي دي، هم بسنه کوي. البته په دې طریقه او تقسیم بندۍ سره، ښایي د مالي استخباراتو د واحد او د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې اړوند نورو ارګانونو انرژي او وخت جرمونو کم اهمیته نه شي، د خطرناکو او حساسو جرمونو پر وړاندې مبارزه چې اغلباً د پیسو د وینځلو جرمونه له هغوی څخه سرچینه اخلي، انرژي، وخت او کافي وړتیا ښایي په اختیار کې ولري[۱].

## دویم مطلب: له اصلي جرمونو سره د پیسو د وینځلو جرم اړیکه او د هغه آثار:

لکه څرنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه، اصلي جرم، د پیسو د وینځلو جرم او یا د دې جرم د ځانګړي عنصر ګڼل کېږي، نو د هغه د نه موجودیت په صورت کې د پیسو د وینځلو جرم نه رامنځته کېږي، ځکه چې د جرم له ارکانو څخه د یو له منځه تلل د هغه د له منځه تللو سبب ګرځي. د بېلګې په ډول: که شخص د پیسو د وینځلو په تور تر عدلي تعقیب لاندې ونیلو شي، خو د څېړنو پرمهال ثابته شي چې د دعوای د موضوع شتمني له جرم څخه نه دي راپیدا شوي، بلکه د هغه شخصي مشروع مالونه دي چې د میراث له مخې ورته رسېدلي دي، دویم جرم هم خپل ځای له لاسه ورکوي. دا په دې معنی دی د پیسو د وینځلو جرم له اصلي جرم پرته د تصور وړ نه دی، خو د هغه برعکس یعنې د اصلي جرم پېښېدل د پیسو د وینځلو جرم له رامنځته کېدو پرته متصور دی. نو د پیسو د وینځلو جرم د اثبات په خاطر، اړینه ده چې د شتمنۍ د سرچینې جرم والی په ثبوت ورسېږي، منتهی د اصلي جرم د مرتکب محکومیت شرط نه دی[۲]، ځکه چې نه محکومیت ښایي د مسؤولیت له موانعو او داسې نورو څخه راپیدا شوي اسباب وي. د دې قاعدې په ویلو سره ښایي دا پوښتنه مطرح شي چې آیا د پیسو د وینځلو جرم ته رسیده ګي د اصلي قضیې تر وروستۍ کېدو پورې وځنډول شي یا دا چې دواړو ته په یو وخت کې رسیده ګي کېږي؟ که دواړو ته په یو وخت رسیده ګي وشي، د دغو دواړو جرمونو حوزوي او موضوعي صلاحیت څرنګه به تنظیم شي؟ په دې مورد کې څو احتمالونه شتون لري:

---

[۱] - نصیر الله خالد، جرایم تطهیر پول در نظام حقوقی افغانستان، ص ۳۷.

[۲] - د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون د ۴مې مادې ۳ فقره داسې صراحت لري:« د دې مادې په (۱) فقرې کې د درج شوو وجوهو او شتمنیو د جرمي منشاء اثبات د اصلي جرم د مظنون په محکومیت پورې اړه نه لري».

**لومړی: د اصلي جرم د حکم له قطعي کېدو وروسته د پیسو د وینځلو جرم تشکیلوونکي افعالو پېښېدل:**

په دې صورت کې کومه ځانګړې ستونزه شتون نه لري، د هغې محکمې د حکم واقعات چې اصلي جرم ته یې رسیده ګي کړې ده، د محکمې په وړاندې د پیسو د وینځلو جرم ته رسیده ګي حجت شمېرل شوی او دا محکمه د پیسو د وینځلو جرم ته د رسیده ګۍ پرمهال د اړوندې محکمې واقعات د اصلي جرم رسیده ګۍ ته دوباره رسیده ګي نه کوي ځکه چې قطعي احکام د محکوم بها شي ارزښت ترلاسه کړی، هیڅکله بیا ځلې تر څېړنې لاندې نه نیول کېږي، د نظر د تجدید حالت په استثناء (د ۱۳۹۳ کال د جزایي اجراآتو د قانون ۲۹۴ مه ماده). د جزایي اجراآتو قانون په ۲۹۸ او ۲۹۹ مادو کې د محکمې پر وړاندې د جزایي حکم د ارزښت په اړه او د هغه بر عکس، تصریح کړې ده، خو له بده مرغه ډول د بلې هغې جزایي محکمې پر وړاندې د جزایي حکم ارزښت په اړه چې زموږ د بحث موضوع ده، څه یې نه دي ویلي. لومړی نوموړې مادې ذکر کوو او د هغه په تعقیب خپل نظر د بحث وړ قضیې په اړه مطرح کوو.

د جزایي اجراآتو قانون ۲۹۸مه ماده داسې صراحت لري:« **هغه حکم چې په یوه جزایي دعوای کې د تورن په برائت یا الزام صادرېږي، د مدني محکمې په وړاندې، په هغې دعوای کې چې په مخکې یې دایره ده، د جرم د پېښېدو، د جرم د قانوني وصف او مرتکب ته یې د هغه د نسبت په هکله د محکوم بها، ارزښت لرونکې ده، د برائت حکم اعم لدې څخه چې د تور د نفې یا د اثبات د دلایلو د نه کفایت پربنسټ صادر شوی وي، که چېرې دغه حکم، د تور وړ فعل د جزا مستوجب ونه ګڼي، نوموړی حکم د محکوم بها شي د ارزښت لرونکی نه دی**».

د جزایي اجراآتو قانون ۲۹۹مه ماده په دې اړه داسې صراحت لري: « **هغه حکم چې له مدني محکمې څخه د مالي معاملو په قضیو کې صادر شوی وي، د جزایي محکمو په وړاندې د جرم د پېښېدو او مرتکب ته یې د هغه د نسبت په برخه کې، د محکوم بها، شي د ارزښت لرونکی نه دی**».

د جزایي اجراآتو قانون ۳۰۰مه ماده د محکمې د حکم د حجیت په اړه شخصیه احوال د جزایي محکمې په وړاندې داسې صراحت لري:«**هغه حکم چې په شخصیه احوالو کې له محکمې څخه د محکمې لخوا صادر شوی وي، د جزایي محکمې په وړاندې په هغو قضیو کې چې د جزایي دعوای حل او فصل په هغو پورې اړوند (مربوط) دی، د محکوم بها، شي د ارزښت لرونکی دی**».

لکه څرنګه چې لیدل کېږي، په پورته بېلګو کې قطعي حکمونه د نورو محکمو پر وړاندې پېژندل شوي دي او دویمه محکمه د قضیې د واقعاتو د بیا ځلې رسیده ګۍ صلاحیت نه لري چې دا مواد د بحث وړ قضیې په اړه چې د نورو جزایي محکمو پر وړاندې د جزایي حکمونو له حجیت څخه عبارت دی، کوم حکم په بر کې نه لري. خو دا حکم قیاساً له پورته ذکر شوو موادو څخه د استنباط وړ دي ځکه چې په دې ټولو حالاتو کې مشترک علت یو دی. دا علت په قطعي حکم کې له تعدیل څخه له مخنیوي څخه عبارت دی (هغه اصل چې د جزایي اجراآتو قانون په ۲۹۴ ماده کې تصریح شوی دی) او همدارنګه د نوې محاکمې منع چې د جزایي اجراآتو قانون په ۲۹۵مه ماده او د جزا کود په ۱۳مه ماده تصریح شوی دی. په همدې اساس ده چې هغه محکمه چې د پیسو د وینځلو قضیې ته رسیده ګي کوي، د هغه اصلي جرم د بیا ځلې رسیده ګۍ صلاحیت چې مال له هغه څخه سرچینه اخیستې ده، نه لري ځکه چې دا امر د قطعي حکمونو ارزښت تر پوښتنې لاندې راولي او د بیاځلې محاکمې لامل ګرځي او له ټولو څخه خطرناکه دا ده چې احتمالاً د قعطي حکمونو د تعارض لامل ګرځي، که دویم محکمه چې د پیسو د وینځلو قضیې ته رسیده کوي، د اصلي جرم د قضیې په اړه د لومړنۍ محکمې خلاف پرېکړه وکړي[1].

همدارنګه یادونه یې اړینه ده: هغه څه چې د محکمې پر وړاندې د پیسو د وینځلو جرم ته رسیده حجت شمېرل کېږي، د لومړنۍ محکمې د قطعي حکم واقعات دي نه د هغه د حکم نص. په بل عبارت، د پیسو وینځلو جرم ته د رسیده ګۍ محکمه په اصلي جرم کې د تورن محکومیت یا برائت ته نه ګوري، ځکه چې د تورن برائت ښایي د مسؤولیت موانعو د شتون پر اساس دي، بلکه دې ته ګوري چې آیا واقعات د شتمنیو مصدر د محکمې پر وړاندې ثابت شوی دی یا نه، او دا چې آیا نوموړي واقعات جرم تشکیلوي یا نه، او په پای کې دا چې آیا د پیسو د وینځلو جرم د موضوع شتمني له همدغو واقعاتو څخه سرچینه اخیستې ده یا نه[2].

---

[1] - مراجعه وکړی: کتاب راهنما برای قضات، شریف الدیاسطی ودیگران، ص ۳۶۹- ۳۷۳.

[2] - نصیر الله خالد، جرایم تطهیر پول در نظام حقوقی افغانستان، ص ۳۷.

**دويم: اصلي جرم ته د رسيده گۍ پرمهال د پيسو د وينځلو جرم تشكيلوونكي فعلونو پېښېدل:**

په دې صورت كې كه دوسيې د ضميمې وړ دی، خو بيا هم ضميمه وي، پرته له دې، د ۱۳۹۳ كال د جزايي اجراآتو د قانون د ۱۸۱مې مادې له حكم سره سم د پيسو د وينځلو موضوع د اصلي جرم د حكم تر وروستي كېدو پورې ځنډېږي.

د نوموړې مادې متن په دې اړه داسې حكم كوي:

**" (۱) - كه چېرې د جزايي دعوای څېړنه، له نورو جزايي قضيو څخه د يوې قضيې يا د شخصيه احوالو يا د جزايي محكمې له قضايي ساحې څخه بهر د مدني دعوای څېړنې ته موقوفه وي، محكمه، د نوموړې دعوای په هكله د قطعي حكم تر صادرېدو پورې، د جزايي دعواي څېړنه ځنډوي او موضوع د حل او فصل لپاره واكمنې محكمې ته ارجاع او له خپلو اجراآتو څخه تورن، د حق العبد مدعي، مجني عليه، د حق العبد مسؤول يا د هغوی قانوني استازي خبروي.**

**(۲) - په هغه صورت كې چې د جزايي دعوای څېړنه د عی محكمې د واک په حيطه كې د بلې جزايي دعوای، يا د مدني دعوای يا حق العبدي دعوای څېړنې ته موكول وي، لومړی جزايي دعوای يا د موكول اليه حق العبدي دعوای خلاصوي (پايته رسوي) او وروسته د مؤجبه اسبابو د موجوديت په صورت كې، د نظر وړ جزايي دعوای څېړنه كوي".**

البته د پيسو د وينځلو جرم ته د رسيده گۍ د ځنډولو فلسفه، د محكمو د قطعي حكمونو له تناقض څخه ممانعت دی، ځكه چې هغه محكمه چې د پيسو د وينځلو جرم ته رسيده گي كوي، هغه موضوع د بلې محكمې تر رسيده گۍ لاندې قرار لري، كه دواړې محكمې واحدې موضوع ته رسيده گي كوي، د حكمونو د تعارض احتمال رامنځته كېږي[1].

[1] - هماغه، ص ۳۸.

**درېیم: د پیسو د وینځلو جرم تشکیلوونکي فعلونه له لومړني جرم سره یوځای واقع کېږي:**

په دې صورت کې باید په یاد ولرئ چې د محکمو د رسیده ګۍ صلاحیت له رارسېدو څخه وړاندې د نوموړي جرمونو په اړه لومړی د څارنوالۍ د صلاحیت موضوع، بیا د قضیو د تفریق او یوځای والي د حکمونو رعایت مطرح کېږي، چې دا دوه یاد شوي ټکي د ۱۳۹۳ کال د جزایي اجراآتو د قانون په ۱۵۴ او ۱۵۵ مادو کې په وضاحت سره بیان او د یادو مادو متنونه داسې حکم کوي:

۱۵۴ ماده: **"که چېرې د متعددو جرمونو ارتکاب یوه شخص ته نسبت ورکول شي، هغه ته ټولې منسوبې قضیې په داسې حال کې چې په واحد منظور، سرته رسېدلې وي، د ارتکاب له ځای څخه د سترګو په پټولو (په صرف نظر) سره د هغې څارنوالۍ لخوا چې ډېر سخت جرم یې د واک په حوزه کې ارتکاب شوی، تر تحقیق لاندې نیول کېږي. په هغه صورت کې چې جرمي قضیې یوه له بلې سره مرتبطې نه وي، د هماغې حوزې څارنوالۍ مکلفه ده هره قضیه په جلا توګه تفکیک او تحقیق کړي ".**

<u>۱۵۵ ماده:</u> **" (۱) څارنوال کولای شي په لاندې حالاتو کې مختلفې قضیې سره یوځای کړي:**
**۱- په هغه صورت کې چې د متعدد جرمونه د واحدې موخې د تأمین په منظور د یوه یا څو تنو لخوا سرته رسېدلي وي.**
**۲- په هغه صورت کې چې د واحد جرم د مرتکبینو په اړه مختلف تحقیقات په مختلفو حوزو کې روان وي.**
**۳- په هغه صورت کې چې د اثبات دلایل په مختلفو جرمونو یا متعددو اشخاصو پورې اړه ولري.**
**(۲) څارنوال کولای شي په لاندې حالاتو کې مختلفې قضیې یوه له بلې څخه تفریق او تفکیک کړي:**
**۱- په هغه صورت کې چې په واحده حوزه کې تحقیق، د تحقیق په اجراآتو کې د چټکتیا خنډ شي.**
**۲- په هغه صورت کې چې جرم د ښځو او اطفالو لخوا په ګډه سره ارتکاب شوی وي.**
**۳- په هغه صورت کې د پولیسو، د وسله والو ځواکونو یا د ملي امنیت د مؤظفینو او یا د نظامي تشکیلاتو لرونکو نورو وزارتونو او ادارو د نظامي منسوبینو په وظیفوي جرمونو کې له نوموړ تشکیلاتو څخه بهر، بل شخص شامل وي".**

**(۸) اتم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

که چیرې هغه عمل چې له هغه څخه شمتنې سرچینه اخیستې ده، جرم نه وي، ولې ترسره فعل د قانون خلاف وي، او یو شمېر اشخاص د نوموړې شتمنۍ د پټولو په موخه د پیسو د وینځلو جرم د مادي رکن په تشکیلوونکي اعمالو لاس پورې کړي، آیا دا اشخاص د پیسو د وینځلو جرم مرتکبین گڼل کېږي یا نه؟

**د (۸) اتم فعالیت احتمالي ځواب:**

نه، ځکه چې د پیسو د وینځلو جرم له رکنونو څخه یو رکن دا دی چې شمتني له جرمي عمل څخه راپیدا شوې وي.

آیا تاسو له دې ځواب سره چې ښايي صحت ولري، موافق یاست یا که کوم بل ځواب ورته لرئ؟

## دریېم مبحث: د پیسو د وینځلو جرم معنوي عنصر:

تر دې بحث لاندې لومړی د پیسو د وینځلو په جرم کې د معنوي عنصر ډول (لومړۍ وینا)، بیا د جرمي قصد د رامنځته کېدو وخت (دویمه وینا) واضح کېږي.

## لومړۍ وینا: د پیسو د وینځلو په جرم کې د معنوي عنصر ډول:

د جزا کود ۴۹۸مه ماده په شرط اېښودلو (**د وجوهو او شتمنۍ د منشاء د غیر قانوني والي په اړه پوهاوی درلودل**» سره دا څرگندوي چې د پیسو د وینځلو جرم د افغانستان په جزا کوډ کې یو ډول عمدي جرم پېژندل شوی دی، په دې معنی چې د هغه په معنوي عنصر کې علم او اراده شامل دي، او د خطا شکل نه مني. هغه علم او اراده چې باید د مادي عنصر ټولو اجزاوو (کړنه، د جرم موضوع، اصلي جرم) ته متوجه شي. په دې معنی چې د پیسو د وینځلو جرم مرتکب خپلې کړنې عامدانه او آگاهانه ترسره کوي او د جرم له موضوع او دا چې مال له اصلي جرم څخه راپیدا شوی دی، خبر اوسي. لازمه نه ده چې د اصلي جرم په ډول وپوهېږي. همدومره علم بسنه کوي چې شتمني جرمي سرچینه لري.

نو که چیرې شخص د اهمال، بې احتیاطۍ، غفلت یا د قوانینو او مقرراتو د نه رعایتولو په پایله کې د پیسو د وینځلو جرم له تشکیلوونکو اعمالو څخه یو عمل ترسره کړي، د پیسو د وینځلو جرم ته د لاسرسي وړ نه دی.

د جزا کود د ۴۹۸مې مادې (۱) فقره د پیسو د وینځلو جرم په اړه « **د وجوهو او شتمنۍ د منشاء د غیر قانوني والي په اړه پوهاوی درلودل**» د پیسو د وینځلو په جرم کې اساسي عنصر ګڼلی دی، او د همدې مادې په (۲) فقره کې داسې تصریح شوې ده چې «**د دې مادې د (۱) فقرې په مقصد خبرتیا په جرم پورې له مرتبطو پایلو او عیني شرایطو (قراینو) څخه استنباط کېږي**».

نو، د پیسو د وینځلو جرم د اثبات لپاره اړینه ده ترڅو دا ټکی ثابت شي چې تورن په دې اړه چې ترلاسه شوي وجوه او شتمنۍ له جرم څخه راپیدا شوي دي، خبر وو خو سره له دې بیا هم په مُدرِکې ارادې (د جزایي اهلیت په شتمنۍ او درک سره) او مختار (د مسؤولیت له موانعو څخه په سلامتۍ) سره د جزا کود د ۴۹۸مې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اعمال ترسره کوي.

| |
|---|
| **(۹) نهم فعالیت**<br><br>**مباحثوي پوښتنه:**<br><br>د جزا کوډ د ۴۹۸مې مادې په (۱) فقره کې درج شوې کړنې د پیسو د وینځلو جرم ګڼل کېږي، د بېلګې په ډول؛ د نوموړې فقرې په ۴ جزء کې تصریح شوې ده چې که چېرې شخص له جرم څخه راپیدا شوې وجوه او شتمني وکاروي، د پیسو د وینځلو جرم مرتکب پېژندل کېږي. د دې موضوع په روښانه کولو کې لاندې پوښتنې ته ځواب ورکړئ.<br>یو شخص څو کاله کېږي چې په کرایي کور کې ژوند کوي او د یو باب کور پېرودل یې له سترو هیلو څخه یوه ده. نوموړی شخص پرېکړه کوي چې له هرې لارې وي باید پیسې پیدا کړي او کور واخلي. بالاخره د رشوت په یو عمل کې د منځګړیتوب له لارې پنځه میلیونه افغانۍ ترلاسه کوي او کور پرې اخلي. آیا دا شخص د پیسو د وینځلو جرم مرتکب پېژندل کېږي یا نه؟<br><br>**احتمالي ځواب:**<br>دا شخص سره له دې چې له جرم څخه راپیدا شوې پیسې یې کارولي دي، خو د پیسو د وینځلو جرم مرتکب نه پېژندل کېږي، ځکه چې هغه کله چې دا پیسې کارولې، نو د هغه د وینځلو قصد یې نه درلود. نو، نوموړی شخص د رشوت په جرم کې د منځګړیتوب په جرم نیول کېږي، نه د پیسو د وینځلو په جرم.<br>آیا تاسو له دې ځواب سره چې ښایي صحت ولري، موافق یاست یا کوم بل ځواب ورته لرئ؟ |

**دويمه وينا: د جرمي قصد د رامنځته کېدو وخت:**

که يو شخص د مال د تصاحب په ځال کې نه پوهېږي چې د دغه جرم منشاء ده، ولې يو څه وخت وروسته د هغه د جرمي سرچينې په اړه پوهېږي. په دې حال کې آيا ويلای شو چې تصاحب کوونکی شخص د پيسو د وينځلو جرم مرتکب شوی دی يا نه؟ په بل عبارت، آيا لاحق جرمي قصد د جزايي مسؤوليت د رامنځته کېدو سبب ګرځي يا نه؟

لاندې لومړی د دې موضوع کُلي قواعد تشريح کېږي، بيا دا قواعد د پيسو د وينځلو پر جرم تطبيقېږي.

دې پوښتنې ته په ځواب کې بايد وويل شي: اصل پر دې دی چې مرتکب د فعل له پيل څخه جرمي قصد لري او تر هغې چې د پايلې رامنځته کېدل ادامه ومومي. خو دا هم امکان لري چې مرتکب د فعل په پيل کې جرمي قصد لري، خو د پايلې له رامنځته کېدو څخه وړاندې له نوموړي قصد څخه منصرف کېږي، يا د هغه بر عکس؛ يعنې مرتکب د فعل په پيل کې جرمي قصد نه لري، خو د پايلې له رامنځته کېدو څخه وړاندې دا قصد له هغه سره رامنځته کېږي. نو ويلای شو چې له مرتکب سره د جرمي قصد شتون درې حالتونه لري:

لومړی حالت: له مرتکب سره د جرمي قصد شتون او د پايلې تر رامنځته کېدو پورې د هغه ادامه: په دې حالت کې شخص د عمدي جرم مرتکب پېژندل کېږي.

دويم حالت: له مرتکب سره د جرمي قصد شتون د فعل له پيل څخه تر پای پورې او د پايلې له رامنځته کېدو څخه وړاندې د قصد نفي کول: که مرتکب د فعل په پيل کې جرمي قصد ولري او دا قصد د فعل تر پايه ادامه وکړي، خو د پايلې له رامنځته کېدو څخه وړاندې له نوموړي قصد څخه منصرف شي، ولې د هغه انصراف د جرمي پايلې د رامنځته کېدو مانع نه شي، لکه شخص چې د بل په خوړو کې زهر واچوي او د هغه انصراف د مجني عليه له مړينې څخه پر مخنيوي هيڅ اغېزه نه لري، په دې حالت کې فاعل د عمدي جرم مرتکب پېژندل کېږي.

درېيم حالت: د جري قصد نشتوالی د فعل په پيل کې تر پای پورې او د پايلې له رامنځته کېدو څخه وروسته د جرمي قصد رامنځته کېدل: شخص چې د فعل په پيل کې جرمي قصد نه لري، خو د فعل له بشپړولو څخه وروسته او د پايلې له رامنځته کېدو څخه وړاندې ورسره جرمي قصد رامنځته کېږي، لکه

شخص چې د بې احتیاطۍ په پایله کې پیاده شخص په خپل موټر سره ووهي او وروسته متوجه شي چې مضرو شخص د هغه دښمن دی او د هغه د مړینې هیله کوي، په دې حالت کې مرتکب د عمدي جرم مسؤولیت نه لري.

لنډه دا چې د فعل له بشپړېدو وروسته په آني جرم کې د جرمي قصد رامنځته کېدل، جزایي مسؤولیت نه رامنځته کوي، خو په استمراري جرمونو کې جزایي مسؤولیت رامنځته کوي، ځکه چې په استمراري جرمونو کې فعل پای ته نه رسېږي، بلکه په هره لحظه کې د مادي عنصر له نورو اجزاوو (پایله او د سببیت اړیکه) سره تکرارېږي. نو جرمي قصد هر کله چې واقع شي، له فعل سره به یوځای وي، له همدې ځایه ده چې د جزایي مسؤولیت د رامنځته کېدو سبب ګرځي، خو دا چې جرمي قصد د استمرار حالت له پای څخه وروسته رامنځته شي.

**د پیسو د وینځلو پر جرمونو د کُلي قواعدو تطبیق:**

بېرته هغې پوښتنې ته ور ګرځو چې په پیل کې مطرح شوه: آیا د جرمي قصد په رامنځته کېدو سره د جزا کود د ۴۹۸مې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اعمالو له ارتکاب وروسته، د پیسو د وینځلو جرم رامنځته کېږي یا نه؟

نوموړې پوښتنې ته د ځواب لپاره، لومړی باید د پیسو د وینځلو جرم ډول مشخصوو ترڅو وپوهېږو چې آیا د پیسو د وینځلو جرم له استمراري جرمونو څخه دی که د آني جرمونو څخه؟ په هغه صورت کې چې له آني جرمونو څخه وي، لاحق قصد د جزایي مسؤولیت د نشأت سبب نه ګرځي، او که چېرې له استمراري جرمونو څخه وي، لاحق قصد د جزایي مسؤولیت سبب ګرځي، خو په دې شرط چې د استمرار حالت بشپړ شوی نه وي[1]. په دې مورد کې دوه نظریې شتون لري:

[1] - نصیر الله خالد، جرایم تطهیر پول در نظام حقوقی افغانستان، ص ٤٤.

**لومړی نظریه: د پیسو د وینځلو جرمونه له آني جرمونو څخه دي:**

ځیني حقوقپوهانو د پیسو د وینځلو جرم آني جرم ګڼلی دی. د ۱۹۸۸ کال د ویانا هوکړې د دریمې مادې د (C) فقرې (i) بند تصریح کړې ده چې د مال د جرمي منشأ په اړه پوهېدل باید د مال له تسلیمېدو سره یوځای وي[۱]. په دې اساس هغه شخص چې د مال د تسلیمۍ پرمهال د هغه د منشأ د جرم والي په اړه خبر نه وي، او وروسته معلومات ترلاسه کړي چې دا مال له جرم څخه راپیدا شوي دي، د پیسو د وینځلو جرم مرتکب نه پېژندل کېږي.[۲]

**دویمه نظریه: د پیسو د وینځلو جرم له استمراري جرمونو څخه دی:**

ځیني نور حقوقپوهان، د هغوی له ډلې استاد فواد عبدالقادر، د پیسو د وینځلو جرم یې له استمراري جرمونو څخه ګڼلی دی او د فعل له پیل سره د جرمي قصد یوځای والی یې شرط نه دی ایښی.[۳] د دوی له نظره لاحق جرمي قصد، جزایي مسؤولیت رامنځته کوي.

**غوره نظریه:**

له یادو شوو نظریو له څېړلو وروسته، ویلای شو چې د پیسو د وینځلو جرم باید د واحد معیار تابع نه کړو، ځکه چې که څه هم د هغه جرمي وصف واحد دی، خو په حقیقت کې د هغه د مادي رکن تشکیلوونکې کړنې دومره توپیر لرونکي او پېچلي دي چې ستونزمنه ده ټول حالات یې د یو کُلي حکم تابع کړو. د بېلګې په ډول؛ له جرم څخه د حاصله مالونو حیازت، له جرم څخه د حاصله شتمنیو تملک، د هغه پټ ساتلو ته که استمراري جرم ووایو، ستونزمه نشته، ځکه چې د هغوی په حق کې د استمراري جرم ارکان د تطبیق وړ دي، خو د صراف لخوا د پیسو تبدیلي چې ښایي په یوه دقیقه او یا حتی له هغې څخه په کم وخت کې ترسره شي، همدارنګه د مال حواله یا یې لېږد ته استمراري جرم نه

[۱] - "(i) The acquisition, possession or use of property, knowing, <u>at the time of receipt</u>, that such property was derived from an offence or offences established in accordance with subparagraph (a) of this paragraph or from an act of participation in such offence or offences;"

۲ ـ کبیر فتحی احمد، جریمة تبییض الاموال ص۲٤

[۳] ـ مقاله نشر شده از وی در سایت انترنیتی تشریعات، تحت عنوان : جریمة غسل الاموال : http://www.tashreaat.com/images/left_top

شو ویلای، ځکه دا اعمال په لږ وخت کې ترسره کېږي او د استمراري جرم شرط دا دی چې د مادي رکن عنصر (اعم له فعل، پایلې او سببیت اړیکې څخه) د نسبتاً یوې اوږد مهاله مودې لپاره سره یوځای ادامه ومومي، لکه د غیر قانوني وسلې درلودل، یا د مسروقه مالونو پټول او داسې نور. که څه هم د هېوادونو قضایي چلند د دې مودې ټاکل د موضوع محکمې ته سپارلی دی، لیکن هیڅ قاضي په یوه دقیقه کې د صراف لخوا د مال تبدیلي استمراري جرم به ونه ګڼي. له بله پلوه، له جرم څخه د راپیدا شوي مال حیازت به هیڅ حقوقپوه آني جرم ونه پېژني.

نو پایله دا کېږي چې د پیسو د وینځلو جرم تشکیلوونکې کړنې په دوو برخو وېشو:

**الف:** په هغو مواردو کې چې د پیسو د وینځلو تشکیلوونکی فعل په کوچنۍ موده کې ترسره کېږي، لکه صرافي، انتقال، د بڼې تغییرول او یا صادرول، د جنس پېرودل، د تسهیلاتو برابرول او همدا ډول نور، په دې حالاتو کې فاعل هغه وخت د پیسو د وینځلو جرم مرتکب پېژندل کېږي چې د نوموړي اعمالو پرمهال آګاه وي چې د هغه د معاملې موضوع شتمني له جرم څخه راپیدا شوې ده او لاحق قصد جرمي مسؤولیت نه رامنځته کوي.

**ب:** که ارتکابي فعل په نسبتاً اوږدمهال وخت کې استمرار ومومي، لکه له جرم څخه د ترلاسه شوو وجوهو او شتمنۍ په حیازت کې درلودل، د هغه تملک یا پټول او داسې نور. په دې حالاتو کې ویلای شو چې د پیسو د وینځلو جرم له استمراري جرمونو څخه دی او لاحق قصد په هغه کې جرمي مسؤولیت رامنځته کولای شي. د بېلګې په ډول؛ شخص چې له جرم څخه ترلاسه شوې شتمنۍ یې د هغه د منشأ د جرم والي په اړه له آګاهۍ پرته تسلیم کړي، خو وروسته معلومات ترلاسه کړي چې دا مالونه له جرم څخه راپیدا شوي دي، تسلیم شوی شخص مکلف دی چې له هماغې لحظې د نوموړي مالونو په رد اقدام وکړي او په هغه صورت کې چې د راپور ورکوونکي له مراجعو څخه وي، د هغه سربېره مکلف دی چې د پیسو د وینځلو او له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون له اتلسمې مادې سره سم اړوندو مراجعو ته اطلاع وکړي[1].

[1] - نصیر الله خالد، جرایم تطهیر پول در نظام حقوقی افغانستان، ص ٤٥-٤٦.

**(۱۰) لسم فعالیت**

**ګروپي کار:**

د جزا کوډ ۵۰۱مه ماده او د پیسو د وینځلو او له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون ۱۸مه ماده د مشکوکو معاملو په اړه د راپور ورکولو په اړه بحث کړی دی، مشکوکې معاملې کومې معاملې دي؟

ګډونوال به د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون د ۱۸مې مادې په پام کې نیولو سره خپل ځواب وړاندې کړي.

**(۱۱) یوولسم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

احمد او اجمل د ایټالیې په روم ښار کې ژوند کوي. د هغوی کار د شرابو پلورل دي. هغوی له دوو کلونو کار وروسته افغانستان ته راغلل. هغوی په خپل لاسي بکس کې پنځوس زره امریکایي ډالره افغانستان ته انتقال کړل، خو د هوایي ډګر د ګمرک مؤظفین هغوی عدلي مراجعو ته تسلیموي.

د قضیې اړوندې مرجع امر کوي چې نوموړې پیسې ضبط کړي او قضیه څارنوالۍ ته ولېږي. په پای کې د احمد او اجمل دوسیه محکمې ته ورسېده. محکمه هر یو د پیسو د وینځلو جرم په ارتکاب په دریو کلونو حبس محکوم کړل. د محکمې په پرېکړه کې ذکر شوي دلایل په لاندې ډول دي:

۱- احمد او اجمل غوښتل چې په ایټالیا کې له شراب پلورلو څخه راپیدا شوې ککړې پیسې پټې کړي.

۲- هغوی د هوایي ډګر چارواکو ته راپور ورنه کړ چې زیاتې پیسې له ځان سره لري.

۳- د اړوندې مرجع له لارې د نوموړو پیسو ضبطول سم کار وو.

نو محکمه د عامه ګټو د تأمین په برخه کې پرېکړه وکړه چې پیسې دې مصادره شي.

په مقابل کې، د محکومینو مدافع وکیل د استیناف غوښتنه وکړه او لاندې دلایل یې په خپله اعتراضیه کې ولیکل:

۱- زما موکلین په هیڅ جرم مرتکب شوي نه دي. هغوی د افغانستان په بازار کې د دې پیسو د کارولو او د هېواد له اقتصاد سره د مرستې په خاطر نوموړې پیسې له ځان سره راوړې دي. سربېره پردې، هغه مرجع چې پیسې یې ضبط کړې دي، اشتباه کار یې ترسره کړی دی.

۲-زما د موکلینو پر حبس د محکمې حکم ناسم دی او دا حکم د قانون خلاف دی.

ګډونوالو ته پوښتنې:

۱. د محکمې د پرېکړې او د مدافع وکیل د نیوکو په اړه ستاسو نظر څه دی؟ خپل دلیلونه بیان کړئ؟

۲. ستاسو په نظر د استیناف محکمې پرېکړه به څه وي؟ خپل دلیلونه بیان کړئ؟

**د دویمې برخې پایلیزه:**

د پیسو د وینځلو جرم د عناصرو له بحث او څېړنې وروسته لاندې پایلې مو ترلاسه کړې:

۱. د جزا کود له ۴۹۸ تر ۵۰۹ مادې، د پیسو د وینځلو جرم قانوني عنصر تشکیلوي.

۲. لاندې کړنې د پیسو د وینځلو جرم د مادي عنصر اجزاوې تشکیلوي:

أ. د هغو وجوهو او شتمنۍ چې غیر قانوني منشاء لري، انتقال یا تغییر.

ب. د جرم له ارتکاب څخه له راپیدا شوو قانوني عواقبو څخه د اصلي جرم د مظنون په تېښته کې مرسته کول.

ج. د وجوه او شتمنۍ واقعي ماهیت، سرچینې، موقعیت، د تصرف څرنګوالي، انتقال یا د مالکیت حق پټول یا یې بڼې ته تغییر او بدلون ورکول.

د. له جرم څخه د راپیدا شوي وجوه او شتمنۍ تحصیل، تصاحب یا استفاده.

۳. د پیسو د وینځلو جرم له مطلق جرمونو څخه دی.

٤. د پیسو د وینځلو جرم موضوع یا ځای غیر قانوني وجوهو او شتمنۍ موضوع تشکیلوي.

۵. له اصلي جرم څخه منظور "هغه جرمي عمل دی چې د هغه د ارتکاب په پایله کې وجوه یا شتمنۍ په مستقیم یا غیر مستقیم ډول ترلاسه شوي وي.

٦. د جزا کود د ۴۹۸مې مادې متحوای د "د وجوه او شتمنۍ د منشاء د غیر قانوني والي په اړه د آګاهۍ درلودلو شرط اېښودل د دې څرګندونه کوي چې د پیسو د وینځلو جرمونو معنوي عنصر د افغانستان په جزا کوډ کې علم او اراده دي او نوموړی جرم له عمدي جرمونو څخه دی چې د خطا شکل نه مني.

۷. د جزا کوډ د ۴۹۸مې مادې په (۱) فقره کې د درج اعمالو ارتکاب چې له خطا څخه راپیدا شوي وي، د پیسو د وینځلو جرم نه ګرځي، خو دا چې نوموړي اعمال په خپل ذات کې بل کامل جرم تشکیل کړي، په دغه صورت کې مرتکب په هماغه جرم سره نیول کېږي.

۸. که چېرې مرتکب د فعل د اجرا کولو پرمهال جرمي قصد ولري، خو د فعل له بشپړېدو څخه وروسته خپله اراده بدله کړي خو دا بدولن د جرمي پایلې د پېښېدو مانع نه شي، د جرم عمدي مسؤولیت به پر غاړه ولري.

۹. په دې اړه چې آیا د پیسو د وینځلو جرم له آني جرمونو څخه دی یا که استمراري؟ غوره نظر دا دی چې د پیسو د وینځلو جرم ځینې کړنې له آني جرمونو او ځینې نورې یې له استمراري جرمونو څخه دی.

## درېیمه برخه

## د پیسو د وینځلو جرم پر وړاندې د مبارزې وقایوي او جزایي تدابیر

**موخې:**

د دې روزنیزې ناستې په پایله کې به ګډونوال په دې وتوانېږي چې لاندې چارې ترسره کړي:

- د پیسو د وینځلو له جرم څخه د مخنیوي تدابیرو وضاحت؛
- د پیسو د وینځلو له جرم څخه د مخنیوي لپاره د څارنې تدابیرو تشریح؛
- د حقیقي او حکمي اشخاصو د پیسو د وینځلو جرم د مجازاتو بیانول؛ او
- د پیسو وینځلو جرم د اړوندو جرمونو او د هغوی د جزاګانو تشخیص.

**عنوانونه:**

۱. د پیسو د وینځلو جرم پر وړاندې وقایوي تدابیر
۲. د پیسو د وینځلو جرم د مخنیوي لپاره د څارنې تدابیر
۳. د پیسو د وینځلو جرم پر وړاندې جزایي تدابیر:
   - د پیسو د وینځلو جرم مجازات
   - د پیسو د وینځلو جرم اړوندو جرمونو مجازات

## درېیمه برخه

## د پیسو د وینځلو جرم پر وړاندې د مبارزې وقایوي او جزایي تدابیر

**سریزه:**

د پیسو د وینځلو جرم پر وړاندې مبارزه آسانه کار نه دی. د دې پدیدې پر وړاندې د مبارزې لپاره یوازې د اداري او حقوقي چوکاټ درلودل کافي نه دي. د پیسو د وینځلو د مخنیوي او همدارنګه د دې جرم د مجازاتو په مؤثره توګه تطبیق په موخه باید ډېرې هڅې صورت ونیسي. د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون[1] او د هغه اړوندو مقرراتو وقایوي او د څارنې تدابیر تنظیم کړي دي. جزایي تدابیر د جزا کود د دویم کتاب، شپږم باب په دویم فصل کې د پیسو د وینځلو او د هغه د مجازاتو تر عنوان لاندې تنظیم شوي دي.
په دې برخه کې په دووه بحثونو کې د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې وقایوي او جزایي تدابیر په لاندې ډول څېړل کېږي.

لومړی مبحث: د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې وقایوي او د څارنې تدابیر؛ او

دویم مبحث: د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې جزایي تدابیر.

[1] - د ۱۳۹۳ هجري لمریز کال د زمري په (۱) نېټه په (۱۱۴۲) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی دی.

**لومړی مبحث: د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې وقایوي او د څارنې تدابیر:**

په اوسني عصر کې د پیسو د وینځلو جرم مرتکبین له عدلي تعقیب څخه د تېښتې لپاره د پټولو له خورا زیاتو او پېچلي تخنیکونو څخه ګټه پورته کوي. نو د مالي مؤسسو او بانکونو او نورو هغو اشخاصو چې د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون په پنځمه ماده کې د راپور ورکوونکي مراجع په نوم یاد شوي دي، له همکارۍ پرته د هغه څارنه او کشف میسر نه دی. یوازې هغه وخت دا جرم په مؤثر ډول کشف او تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېدلای شي چې نوموړې مراجع خپل مسؤولیتونه په سمه توګه ترسره کړي لکه د پېرودونکي د هویت تثبیت، د سترو معاملو او مشکوکو معاملو په اړه د مالي راپورونو او معاملو د شننې مرکز (فنترکا) ته د راپور ورکول... او داسې نور. له بله پلوه د څارنې مراجع لکه د افغانستان بانک، د ګمرکونو اداره، پولیس، د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز او داسې نورې ادارې چې د څارنې مسؤولیتونه پر غاړه لري، هم مکلف دي چې یو لړ تدابیر ترسره کړي (لکه د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون په ۲۲مه ماده کې درج تدابیر) ترڅو تشې په ګوته کړي او ستونزې حل کړي. نو بانکونه، مالي مؤسسې او په ځینو مواردو کې حقیقي او حکمي اشخاص چې له مالي معاملو سره مستقیماً او یا په غیر مستقیم ډول تعامل لري، مکلف دي ترڅو ځانګړي تدابیر ترسره کړي لکه د پېرودونکو د هویت تثبیت، په مالي معاملو کې د شفافیت تأمینول، د مشکوکو معاملو په اړه راپور او داسې نور.

نوموړی مطلب په دې معنی دی چې نه یوازې د پېرودونکو هویت باید په ګوته شي، بلکه په ځانګړي ډول د هغو معاملو د ډولونو چې هغوی یې ترسره کوي، په اړه باید معلومات ترلاسه شي. دا امر غالباً د «خپل پیرودونکی وپېژنئ» قاعدې تر عنوان لاندې یادېږي. د پېرودونکو په پېژندلو سره به مالي ادارې وکولای شي ترڅو غیر معمول یا مشکوکې کړنې چې ښایي د پیسو د وینځلو لپاره نښه وي، وپېژني. د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپید شوو عوایدو د مخنیوي قانون پنځمه ماده د یو لړ مالي مؤسسو او تشبثاتو او هغو غیر مالي حرفو چې په ځانګړي دول د دې قانون د حکمونو تابع دي، یادونه کړې ده. نوموړې ادارې د راپور ورکوونکي مراجعو په نوم یادېږي او مکلف دي چې په دې قانون کې درج ژمنې ترسره کړي او په دې اړه لازم تدابیر ترسره کړي. بناءً په دې مبحث کې لومړی د پیسو د وینځلو څخه د مخنیوي وقایوي تدابیر څېړل کېږي (لومړۍ وینا) او بیا د څاروونکي مراجعو د څارنې تدابیر تشریح کېږي (دویمه وینا).

## لومړۍ وینا: د پیسو د وینځلو د مخنیوي وقایوي تدابیر:

په دې وینا کې لاندې تدابیر څېړل کېږي: د شتمنیو په لېږد کې روڼتیا، د محرمت نه رعایتول، د بانکونو د مجازي فعالیتونو منع کول، د مجهول الهویت حسابونو د ساتنې منع، د خطرونو ارزول، د پېرودونکو پېژندل، له سترو معاملو او د خطر ډکو هېوادونو ته له معاملو څخه ځانګړې څارنه، د سیاسي متبارزو اشخاصو پر معاملو څارنه، د سندونو ساتنه، د مشکوکو معاملو په اړه مالي استخباراتي واحد ته راپور ورکول، د مقرراتو د وضع کېدو، داخلي تفتیش او د کارکوونکو د روزنې له لارې د راپور ورکوونکي مراجعو د داخلي چارو تنظیمول او داسې نور.

### لومړی مطلب: د شتمنیو په لېږد کې روڼتیا:

د پیسو د وینځلو مخنیوي له تر ټولو مهمو تدابیرو څخه یو د پیسو د لېږد تعقیبول دي. د پسو لېږد که د غیر رسمي سیسټمونو له لارې ترسره شي، حکومت نه شي کولای ترې څارنه وکړي او په دې ډول مجرمین په آسانۍ سره کولای شي له جرم څخه راپیدا شوې شتمنۍ له هېواد څخه بهر او یا له بهر څخه داخل ته ولېږدوي. پر انتقالاتو د کنټرول او څارنې لپاره د FATF کاري ځواک څوارلسم وړاندیز توصیه کوي چې د پیسو لېږد دې یوازې د هغو مراجعو له لارې صورت ونیسي چې جواز لري او د دولت تر څارنې لاندې وي او خپل مکلفیتونه ترسره کوي. په همدې برخه کې د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون د ٦مې مادې ۱ فقره صراحت لري چې:

**« (۱) په اړونده مقرره کې له ټاکلي مبلغ څخه زیات د هېواد په دننه یا له بهر څخه هېواد ته دننه او یا یې برعکس، د پیسو لېږدول د مالي مؤسسو یا د پیسو د انتقال د خدمتونو د برابروونکو له لارې صورت مومي».**

مالي مؤسسې د پیسو وینځلو د مخنیوي قانون د ۵مې مادې په ۱ فقره کې داسې تعریف شوي دي. د پیسو د انتقال خدمتونو برابرونکي «**هغه شخص دی چې د پیسو د خدمتونو په برابرولو کې بوخت**

وي»[۱]. د پیسو خدمتونه « **د پیسو د انتقال، د اسعارو د تبادلې او چک نغدولو (چک په نغدو پیسو بدلولو) له خدمتونو څخه عبارت دي** »[۲] .

خو که د شتمنۍ ارزښت له ټاکلې اندازې څخه کم وي، عادي افراد هم کولای شي چې هغه په فزیکي ډول انتقال کړي. البته که د شتمنۍ ارزښت زیات وي، د گمرک د مسؤولینو په خبرولو مکلف دي. د پیسو د مخنیوي قانون اووه ماده (۱۳۹۳) دا موضوع تنظیم کړې ده او په لاندې ډول مختصراً تشریح کېږي.

د پیسو لېږد د بېلابېلو اشخاصو او په بېلابېلو شکلونو صورت نیسي (الکترونیکي او فزیکي). د هر یو لپاره ځانگړي مقررات شتون لري.

**الف: له هېواد څخه بهر یا دننه د حقیقي اشخاصو لخوا فزیکي لېږد:**

**۱. له هېواد څخه دباندې د شتمنۍ انتقال:**

حقیقي اشخاص چې له هېواد څخه بهر ځي، که عمر یې له ۱۸ کلونو حخه زیات وي، کولای شي چې نغدې پیسې او یا تر شلو زرو امریکایي ډالرو په ارزښت طلا او ارزښت لرونکې ډبرې له ځان سره او یا د ټرانسپورټي او یا پستي خدمتونو له لارې له هېواد څخه بهر کړي.[۳] له دې اندازې څخه زیاتې پیسې یوازې د جواز لرونکي مالي مؤسسو له لارې د لېږد وړ دي. که د لېږدول شوې شتمنۍ ارزښت له لس زره امریکایي ډالرو څخه لږ وي، اړینه نه ده چې اړوند اظهار لیک ډک کړل شي، خو که اندازه یې د لس زرو څخه تر شلو زرو امریکایي ډالرو ترمنځ وي، لېږدوونکی مکلف دی چې اظهار لیک ډک کړي او د گمرکونو کارکوونکي ته یې تسلیم کړي[۴]. دا اظهار لیک په درې نقلونو کې برابرېږي، یو له لېږدوونکي، بل د گمرکونو له ادارې او دریم یې په دریو ورځو کې د مالي استخباراتو واحد ته تسلیمېږي[۵]. د

[۱] - د ۱۳۹۷ کال د صرافانو او د پیسو د خدمتونو وړاندې کوونکو د فعالیت د تنظیم مقررې د ٦مې مادې ۵ بند.

[۲] - هماغه، د ٦مې مادې ۴ بند.

[۳] - په ۱۳۹۴ کال په (۱۲۰۳) گڼه رسمي جریده کې خپره شوې د پیسو لېږد د کنټرول او راپور ورکونې مقررې د ۵مې مادې د ۱ فقرې تعدیل.

[۴] - د ۱۳۹۴ کال د پیسو لېږد د کنټرول او راپور ورکونې مقررې د ۵مې مادې ۳ فقره.

[۵] - د ۱۳۹۴ کال د پیسو لېږد د کنټرول او راپور ورکونې مقررې د ۷مې مادې ۴ فقره.

ګمرکونو اداره سره له دې د مالي استخباراتو واحد ته اصل اظهار لیک لېږي، خو په چټکۍ سره د الکترونیک له لارې د هغه له لېږلو حخه وړاندې د مالي استخباراتو واحد ته د شتمنۍ د لېږد راپور لېږي[۱]. د ګمرکونو اداره په اظهار لیک کې د درج شوو معلوماتو د صحت په اړه ډاډ ترلاسه کوي او د شتمنۍ د سرچينې په اړه له لېږدوونکي څخه لازم معلومات ترلاسه کوي[۲]. که لېږدوونکی د شتمنۍ او يا د هغې د منشأ په اړه معلومات وړاندې نه کړي او يا دروغ معلومات وړاندې کړي، او يا د ګمرک مامور ته د پیسو د وینځلو شک او یا داسې شک چې نوموړې شتمنۍ له جرم څخه راپیدا شوې ده، رامنځته کړي، د ګمرک مامور دغه شتمنۍ ضبطوي[۳]. د غلطو معلوماتو د وړاندې کولو او يا له شلو زرو امریکايي ډالرو څخه د زياتو شتمنيو د لېږد او د هغه په اړه د ګمرک مامور ته د خبر نه ورکولو په حالت کې د شتمنۍ د ضبطولو سربېره لېږدوونکی «**مکلف دی ترڅو د لېږدوونکې شتمنۍ د ۱۵٪ سلنې برابر پیسې د جريمې په توګه ادا کړي**»[۴]. د تکرار په صورت کې دا جريمه ۳۰٪ سلنې ته لوړېږي[۵].

د يادونې وړ ده چې د زينتي ګاڼو لېږد چې عرفاً معمول دي، لکه د مېرمنو د سينګار طلا او داسې نور اجازه لري او په پورته مبلغ کې نه حسابېږي[۶].

په هغه صورت کې چې د لېږدوونکي عمر له ۱۸ کلونو څخه کم وي، تر لسو زرو امريکايي ډالرو په ارزښت شتمنۍ لېږدولای شي[۷].

[۱] - د ۱۳۹۴ کال د پيسو لېږد د کنټرول او راپور ورکونې مقررې د ٦مې مادې ۵ فقره.

[۲] - د (۱۳۹۳ کال) د پیسو له وینځلو د مخنیوي قانون د ۷مې مادې ۳ فقره او د ۱۳۹۴ کال د پیسو لېږد د کنټرول او راپور ورکونې مقررې د ٦مې مادې ۲ فقره. د يادونې وړ ده چې دا مقرره د قانون خلاف د ګمرکونو مامور د شتمنۍ د منشأ په اړه د معلوماتو په ترلاسه کولو مکلف کړی نه دی بلکه ویلي یې دي «د ضرورت په صورت کې غوښتل شي معلومات چې د ذکر شوو اقلامو د منشأ په اړه چې اظهار يا کشف شوي، استف ترلاسه کوي».

[۳] - د ۱۳۹۳کال د پیسو له وینځلو د مخنیوي قانون د ۷مې مادې ۴ فقره.

[۴] - د ۱۳۹۴ کال د پیسو لېږد د کنټرول او راپور ورکونې مقررې د ۸مې مادې ۵ فقره. (۱۲۰۳) ګڼه رسمي جريده.

[۵] - د ۱۳۹۴ کال د پیسو لېږد د کنټرول او راپور ورکونې مقررې د ۸مې مادې ٦ فقره. (۱۲۰۳) ګڼه رسمي جريده.

[۶] - د ۱۳۹۴ کال د پیسو لېږد د کنټرول او راپور ورکونې مقررې د ۵مې مادې د ۱ فقرې تعدیل. (۱۲۰۳) ګڼه رسمي جريده.

[۷] - د ۱۳۹۴ کال د پیسو د لېږد د کنټرول او راپور ورکونې مقررې د ٦ مې مادې د ٦ فقرې تعدیل. د مقررې په اصل کې دا حکم د ۱۵ او ۱۸ کلونو ترمنځ طفل پورې اړه درلوده، خو تعدیل شوي متن د عمر اقل حد له منځه وړی دی.

**۲. د هېواد داخل ته د شتمنۍ را لېږدول:**

د ۱۳۹۴ کال د سلواغې تر ۲۵مې نېټې پورې د هېواد داخل ته یا له هېواد څخه دباندې د پیسو لېږدولو هیڅ توپیر نه درلود او پورته حکمونه په دواړو مواردو کې تطبیق کېدل، ځکه چې د پیسو له وینځلو څخه د مخنیوي قانون (۱۳۹۳) د دې دواړو حالتونو ترمنځ هیڅ توپیر نه دی کړی او همدرانګه د پیسو د لېږد کنټرول او راپور ورکونې مقررې (۱۳۹۴) دواړو حالتونو ته واحد حکم پېشبیني کړی وو. د ۱۳۹۴ کال د سلواغې په ۲۵مه نېټه پورته مقرره تعدیل شوه او د هغې د پنځمې مادې په څلورمه ماد کې لاندې متل اضافه کړل شو: « **(٤) د هېواد داخل ته د پیسو، اسعارو، د بې نومه معاملې وړ سندونو، طلا یا نورو قیمتي فلزاتو یا د قیمتي ډبرو لېږد اجازه درلوده او د ګمرک اداره د هغه د اندازې او لېږدوونکي په اړه د ملي امنیت عمومي ریاست او د مالي استخباراتو واحد ته خبر ورکوي** ».

د پورت متن پر بنسټ د هېواد دننه د شتمنۍ لېږدول که په هره اندازه وي، اجازه لري. که څه هم د دې تعدیل موخه هېواد ته د پانګې جذبول دي، خو ظاهراً دا تساهل د تورو پانګونو را ننوتلو ته زمینه برابروي او ترڅنګ یې د پیسو وینځلو د مخنیوي قانون د ٦مې مادې خلاف دي چې صراحتاً له ټاکل شوي مبلغ څخه د زیاتو پیسو لېږد یې په مطلق ډول د مالي مؤسسو یا د پیسو د لېږد خدمتونو وړاندې کوونکو په انحصار کې ورکړې دي که څه هم دا لېږد « **د هېواد دننه یا له بهر څخه د هېواد داخل ته او یا د هغه برعکس**» وي. باید یادونه وشي چې مقرره نه شي کولای چې له قانون څخه مخالفت وکړي.

**(۱۲) دولسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون ٦مې مادې تصریح کړې ده چې که د شتمنۍ ارزښت په مقرره کې له ټاکل شوي حد څخه زیات وي، نوموړې شتمنۍ یوازې د مالي مؤسسو یا د پیسو د لېږد خدمتونو وړاندې کوونکو له لارې لېږدول کېږي، که څه هم دا لېږد له بهر څخه د هېواد داخل ته وي، او یا له داخل څخه بهر او د هېواد دننه انتقالات وي. د (۱۳۹۴ کال) د پیسو د لېږد د کنټرول او راپور ورکونې مقرره یوازې هېواد ته او د هغه برعکس د شتمنۍ لېږدولو څخه بحث کړی دی او هغه ته یې حد ټاکلی دی. د شتمنیو د داخلي لېږدونو په اړه یې هیڅ څه نه دي ویلي. ستاسو له نظره، آیا

د هېواد داخل ته د شتمنیو لېږد که په هره اندازه وي، مجاز لري؟ او آیا عادي اشخاص کولای شي دا انتقالات ترسره کړي؟

**احتمالي ځواب:** د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون ٦مه ماده، که څه هم یو عام حکم یې ذکر کړی دی، خو د مادې عنوان ته په کتو کولای شو د هغه حکم د پیسو الکترونیکي انتقالاتو پورې منحصر کړو، به د شتمنۍ په فزیکي لېږد پورې. په دې اساس، د هېواد دننه د شتمنیو فزیکي لېږد چې په هره اندازه وي، مجاز او قانوني دی.

آیا تاسو د دې ځواب په برخه کې موافق یاست او که کوم بل نظر لرئ؟

**ب: د پیسو الکترونیک لېږد:**

د وجوهو د الکترونیک لېږد د مقررې (۲۰۱٦) د ۲مې مادې د ۹ بند پر بنسټ « **د وجوهو الکترونیکي لېږد د فزیکي چک، حوالې یا ورته کاغذي سندونو د معاملې په استثناء د وجوهو له هر ډول لېږد څخه عبارت دی چې د الکترونیکي ترمینل، تیلفوني وسیلې، د خرڅلاو د مرکز ترمینل (POS)، د زېرمه شوو ملعوماتو د ارزښت ترمنیل، ډبټ کارټ، د صرافۍ اتومات ماشین (ATM)، د کمپیوټر مقناطیسي تیپ یا نورو هغو الکترونیکي وسایلو له لارې چې د یو حساب د ډبټ یا کریډټ کولو لپاره یوې مالي ادارې ته د لارښود، فرمایش یا د اجازې صدور لپاره کارول کېږي**».

بانکونه او د پیسو الکترونیک مؤسسې کولای شي د پیسو د الکترونیک لېږد خدمتونه وړاندې کړي. د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون (۱۳۹۳) د ٦مې مادې له ۸ فقرې سره سم « **د وجوهو د الکترونیکي لېږدونو او د بانکي مؤسسو ترمنځ د حسابونو په تسویې پورې اړوندې چارې د هغې کړنلارې په واسطه چې د د افغانستان بانک لخوا وضع کېږي، تنظیمېږي**». له نوموړي طرز العمل څخه مراد د وجوهو د الکترونیک لېږد مقرره (۲۰۱٦) ده چې په ۳۷ مادو کې تنظیم شوې ده. د بانکونو ترڅنگ د پیسو الکترونیک مؤسسې هم کولای شي له د افغانستان بانک څخه د جواز په ترلاسه کولو سره د پیسو د الکترونیکي لېږد خدمتونه وړاندې کړي. د دې مؤسسو حکمونه په بله جلا مقرره کې چې په ۲۰۱٦

زېرېدیز کال کې د دافغانستان بانک لخوا په شلوېښتو ماد کې تنظیم او تصویب شوې ده، تنظیم شوي دي. تر اوسه د دې خدمتونو درې طریقې وړاندې کوي[1]:

۱. د روشن مخابراتي شرکت د ام پیسه (M. Paisa) له لارې

۲. د اتصالاتو مخابراتي شرکت د ام حواله (M. Hawala) له لارې

۳. د افغان بیسیم مخابراتي شرکت د مای مني (My-Money) له لارې.

د (۱۳۹۷کال) د صرافانو او د پیسو د خدمتونو برابروونکو د فعالیت تنظیمولو مقررې د ۱۹مې مادې د ۲ بند پر بنسټ هغوی هم د د افغانستان بانک څخه د جواز په اخیستلو سره کولای شي چې د پیسو الکترونیکي لېږد خدمتونه وړاندې کړي.

که چېرې د الکترونیکي لېږد له لارې د پیسو اندازه که په یو قسط یا دوو قسطونو کې چې د دوو اشخاصو ترمنځ په دوو کاري ورځو کې ترسره شوې وي، که د لسو زرو افغانیو یا زیاتو په اندازه وي، دا معامله «د سترې معاملې په نوم پېژندل کېږي» او لېږدوونکې مکلف دی تر راتلونکي پنځو میاشتو پورې هره میاشت د هغه په اړه د مالي استخباراتو واحد ته راپور ورکړي[2].

## دویم مطلب: د محرمیت رفع کول:

د ادارې او شرکت یا پېرودونکي د محرمیت او اسرارو ساتل د کارکوونکي او یا د اجناسو او خدمتونو د وړاندې کوونکو له ژمنو څخه یوه ده. دا ژمنه په قرارداد، مقرراتو او د ادارو په لوائحو او حتی په قوانینو کې درج ده[3]. احیاناً دا ژمنه د پیسو د وینځلو جرم د کشفولو مانع گرځي. د دې لپاره چې له دې ژمنې څخه ناوړه گټه پورته نه شي، د FATF کاري ځواک په خپل ۹ گڼه وړاندیز کې سپارښتنه کړې ده ترڅو

---

[1] - http://www.fintraca.gov.af/DA/EMI.html

[2] - د پیسو الکترونیکو مؤسسو د مقررې د ۲۷مې مادې ۴ فقره (۲۰۱۶).

[3] - د بېلگې په ډول، د بانکي مؤسسو د ممنوعه او مجازو فعالیتونو د مؤسسې مقررې (۱، ۳، ۹) دریېمې برخې تصریح کړې ده چې «د (د نظار هیأت، د اجرائیه او د څېړنې د کمېټې هیأت) اوسني او پخواني مدیرانو او د بانکي مؤسسې کارکوونکو ته اجازه نه ده ورکړل شوې ترڅو هغه معلومات چې د خپل خدمت په جریان کې یې په بانکي مؤسسه کې ترلاسه کړي دي، نورو خلکو ته افشاء او یا هغه د خپل شخصي گټې لپاره وکاروي....». د دې مادې راتلونکې فقرې د معلوماتو د افشاء کولو جواز لرونکې حالتونه تشریح کوي.

هېوادونه باید ډاډ ترلاسه کړي چې د محرمیت اړوند قوانین د FATF د وړاندیزونو او معیارونو د تطبیق مانع ونه ګرځي. له همدې کبله، د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون د راپور ورکولو مراجع او د څارنې مراجع او مفتشین مکلف کړي ترڅو معلومات افشاء او تر هغه بریده راپور وړاندې کړي چې د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون ایجاب کړي دي او تصریح کړې یې ده چې د محرمیت اصل هیڅ وخت عذر نه ګڼل شي چې نوموړې مراجع دې د معلوماتو له وړاندې کولو څخه ډډه وکړي. د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون اتمه ماده په دې اړه داسې صراحت لري:

**« ریپوټ ورکوونکي مراجع، څارونکي واکمنې مراجع او کورني او بهرني پلټونکي مکلف دي، د بانکي یا مسلکي اسرارو د ساتنې په اړه چې د اړوندو تقنیني سندونو مطابق یا په بل ډول هغوی ته سپارل شوي وي، د خپل مسؤولیت له په پام کې نیولو پرته د دې قانون حکمونه رعایت کړي».**

د یادونې وړ ده چې د نوموړي قانون د ۵مې مادې د ۱ فقرې د ۲ جزء پر بنسټ د راپور ورکوونکې مراجعو څخه یوه یې حقوقپوه دی چې معاملې په دې جزء کې په درج شوي ټاکلي مودو کې ترتیب او اجراء کړي او یا په هغه کې مداخله وکړي. البته که حقوقپوه د مدافع وکیل په توګه فعالیت کوي، موصوف مکلف نه دی چې له خپل مؤکل څخه ترلاسه شوي معلومات افشاء کړي (د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون ۲۰مه ماده). یوازې په دې کې دا مورد دی چې د محرمیت اصل مرجح ګڼل شوی دی، ځکه چې له هغه پرته د وکیل او مؤکل ترمنځ باور له منځه ځي او د دې سبب ګرځي چې د پیسو د وینځلو جرمونو مظنونین او تورن اشخاص د مدافع وکیل له ټاکلو څخه ډډه وکړي او په دې ډول عدالت تر نیوکې لاندې نیول کېږي.

## درېیم مطلب: د مجازي بانکونو د فعالیت ممنوعیت:

د (۱۳۹۳ کال) د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون د ۳مې مادې د ۱ فقرې د ۲۲ بند پر بنسټ «**مجازي بانک هغه بانک دی چې په کوم هېواد کې چې تأسیس شوی یا جواز یې اخیستی فزیکي شتون ونه لري او په یوه مالي ګروپ پورې چې تر اغېزناک توحیدي څارنې لاندې دی، تړاو ونه لري**».

دا بانکونه اکثراً د پیسو د وینځلو فعالیتونو په موخه تأسیس شوي او ترې ګټه اخیستل کېږي، له همدې کبله د پیسو له وینځلو څخه د مخنیوي له تدابیرو څخه یو دا دی چې دولتونه باید هغوی ته د فعالیت

حق ور نه کړي او سربېره پردې خپلو اتباعو او هغو کسانو ته چې په هېواد مالي خدمتونه وړاندې کوي، له دغو بانکونو سره د اړیکې ساتلو لپاره اجازه ور نه کړي. په همدې اساس د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون ۹مې مادې تصریح کړې ده چې:

**« (۱) په هېواد کې د مجازي بانکونو تأسیس یا ساتنه جواز نه لري.**

**(۲) مالي مؤسسې مکلفې دي، له مجازي بانکونو سره د سوداګریزو اړیکو له ټینګولو یا ادامې څخه ډډه وکړي.**

**(۳) مالي مؤسسې مکلفې دي، په بهرني هېواد کې له خدمت اخیستونکي مالي مؤسسې سره چې مجازي بانک ته یې له خپلو حسابونو څخه د ګټې اخیستنې اجازه ورکوي، د سوداګریزو اړیکو له ټینګولو او ادامې څخه ډډه وکړي».**

## څلورم مطلب: د مجهول الهویه حسابونو د ساتلو ممنوعیت:

وروسته له دې چې هېوادونو بانکي حسابونه تر جدي څارنې لاندې ونیول ترڅو په نوموړو حسابونو کې د پیسو زیاتوالی او کموالی او د هغه سرچینې مشخص کړي او له جرم څخه راپیدا شوې پیسې تعقیب کړي، مجرمینو هڅه وکړه ترڅو ډېر شمېر حسابونه په بېلابېلو نومونو سره جوړ کړي او په دې ډول یوه ستره اندازه پیسې ټوټه ټوټه کړي او د یو حساب پر ځای یې په څو حسابونو کې په امانت کښېږدي.دې ترڅو له څارنیزو تدابیرو څخه تېښته وکړي. په همدې سبب د FATF کاري ځواک په خپل ۱۴ ګڼه وړاندیز کې هېوادونو ته سپارښتنه کړې ده ترڅو دا حسابونه تشخیص او له هغوی څخه د مخنیوي لپاره ځانګړي تدابیر ترسره کړي. په همدې اساس د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون په خپله لسمه ماده کې تصریح کړې ده چې: **« (۱) رپوټ ورکوونکې مراجع نه شي کولای، مجهول الهویه حسابونه یا هغه حسابونه چې په غیر واقعي نومونو پرانیستل شوي وي، وساتي».**

## پنځم مطلب: د خطرونو ارزول:

د مالي اقداماتو د کاري ځواک د لومړني وړاندیز پر بنسټ هېواد مکلف دي ترڅو په ملي کچه هغه خطرونه چې د پیسو د وینځلو او د تروررېزم د تمویل له ځایه ټولنه ګواښي، و ارزوي، تشخیص یې کړي او د هغو پر وړاندې لازم تدابیر ونیسي. او ترڅنګ یې رپوټ ورکوونکې مراجع مکلفې کړي ترڅو

هغوی هم دا ډول ارزونه ترسره کړي. څوارلسم وړاندیز هم رپوټ ورکوونکې مراجع د خطرونو په ارزولو او د پېرودونکو د واقعي هویت په تشخیصولو مکلفوي. د یادونې وړ ده چې د FATF کاري ځواک د څلوېښت جمع نهه (۴۰+۹) وړاندیزونو سربېره د دې وړاندیزونو تفسیري یادداښتونه هم تنظیم کړي دي. د لومړي او څوارلسم اصل تفسیري یادداښت په تفصیل سره د لوړو او ټیټو خطرونو د اروزونې طریقه هم د هېوادونو لپاره هو د مالي مؤسسو او نورو رپوټ ورکوونکو مراجعو لپاره تشریح کړي دي. وړاندیزونه او تفسیري یادداښتونه جمعاً لازم دي او دواړه د مالي اقداماتو د کاري ځواک د معیارونو په نوم یادېږي. د افغانستان قوانین او مقررات د هغه د وړاندیزونو او تفسیري یادداښتونو په رڼا کې تنظیم شوي دي.

په همدې اساس، د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون ۱۱مه ماده رپوټ ورکوونکې مراجع مکلفې کړي دي ترڅو خپلې معاملې له پېرودونکو سره تر ارزونې لاندې ونیسي او د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل جرم د رامنځته کېدو احتمالي خطرونه و ارزوي، تشخیص یې کړي او له حالاتو سره سم د پېرودونکو د هویت تشخیص لپاره شدید او لومړني تدابیر عملي کړي.

د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د منع کوونکي مسؤولیتونو او اقداماتو مقررې درېیمه ضمیمه (۲۰۱٦)، د پیسو د وینځلو جرم د لوړ او ټیټو خطرونو حالات د مالي اقداماتو د کاري ځواک د څوارلسم اصل له تفسیري یادداښت سره سم تنظیم کړي دي. د هغه پر بنسټ د خطر عوامل د پېرودونکي، د هېواد ډول او جغرافیایي موقعیت له پلوه، د تولیداتو، خدمتونو او د تحویلی کانالونو له پلوه تشخیص کېدلای شي. د بېلګې په ډول، د پېرودونکي اړوند د خطر له عواملو څخه یو عامل له « هغې سوداګریزې اړیکې څخه عبارت دی چې په غیر معمول شرایطو کې قرار ولري (د بېلګې په ډول، د مالي مؤسسې او پېرودونکي ترمنځ نا واضح شوی زیات جغرافیایي واټن)»[1] شتون ولري. که چېرې خطرونه لوړ وي، د پېرودونکي د هویت د تشخیص او تثبیت لپاره شدید تدابیر نیول کېږي او په هغه صورت کې چې خطر کوچنی وي، لومړني تدابیر نیول کېږي[2].

[1] - بند الف ضمیمۀ سوم مقررۀ مسؤولیتها و اقدامات بازدارنده علیه پول شویی و تمویل تروریزم(۲۰۱٦).

[2] - فقرۀ ۲ و ۳ مادۀ ۱۱ قانون جلوگیری از پول شویی(۱۳۹۳).

د صرافانو او د پیسو د خدمتونو وړاندې کوونکو د فعالیت د تنظیم مقرره د ۳۰مې مادې په ۲ فقره کې ۱۰ حالتونه مشخص کړي دي چې د لوړ او یا جدي خطر نښبه ده، خو خطر په دې لسو حالتونو پورې منحصر نه دی او د مالي خدمتونو وړاندې کوونکي یې مکلف کړي ترڅو په دې حالتونو کې د هویت د تشخیص لپاره شدید تدابیر ترسره شي. دا حالتونه عبارت دي له: « **۱. پېرودونکی د افغانستان اوسېدونکی نه وي؛ ۲. سیاسي متبارز اشخاص او هغه پېرودونکي چې له سیاسي متبارزو اشخاصو سره اړیکې ولري؛ ۳. هغه غیر معمول او پېچلې معاملې چې اقتصادي توجیه ونه لري؛ ٤. په هغه حالت کې چې د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل شک شتون ولري؛ ٥. هغه پېرودونکي چې زیاتې شخصي شتمنۍ ولري او یا د شمتنیو سرچینې یا د هغوی عواید مشخص نه وي؛ ٦. د پیسو ترلاسه کول له نامعلومو سرچینو او نااړوند درېمګړي خواوو څخه صورت ونیسي؛ ٧. هغه فعالیتونه چې د هغوی د معاملو ډېره برخه په نغدو پیسو وي او د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل له خطر سره مخامخ وي؛ ۸. هغه سوداګرۍ او فعالیتونه چې د د افغانستان بانک، د افغانستان د مالي معاملو او راپوروبو د شننې مرکز او د مالي اقداماتو د کاري ځواک لخوا د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل ستر خطر درلودونکي وپېژندل شي؛ ۹. هغه معاملې چې له هېوادونو سره د د افغانستان بانک، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز او نورو ادارو او معتبرو سرچینو لخوا د لوړ خطر یا د اداري فساد او جرمي فعالیتونو د لوړې کچې درلودونکي وي؛ ۱۰. هغه هېوادونه چې د ملګرو ملتونو د سازمان لخوا پر هغوی تعزیرات وضع شوي دي**». د یادونې وړ ده چې د افغانستان د مالي استخباراتو واحد د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز په نوم پېژندل کېږي، د هغو هېوادونو، ادارو او اشخاصو لیسټ چې له هغوی سره د اقتصادي معاملو ټینګول منع شوي او له لوړ خطر سره یوځای دي، په خپله وېبپاڼه کې خپور کړی دی. د پورته ذکر شوې مقررې درېیمه فقره هغه حالتونه لیسټ کړي دي چې په هغه کې خطر جدي نه دی او په هغه کې د پېرودونکو د هویت تشخیص لپاره لومړني تدابیر بسنه کوي.

د پېرودونکي د هویت د تثبیت لپاره شدید او لومړني تدابیر د هغې معاملې چې ترسره کېږي، له ډول سره سم توپیر لري. د بېلګې په ډول، د پیسو د لېږد په حالت کې د صرافانو او د پیسو د خدمتونو وړاندې کوونکو د فعالیت د تنظیم مقررې د ۲۹مې مادې ۴ او ۵ فقرې لومړني تدابیر تشریح کړي دي. په لومړنیو تدابیرو کې د پیرودونکي د هویت د تثبت په اړه د اقل حد معلوماتو ترلاسه کول شامل دي. دا

تدابیر د پیسو له میزان او اندازې سره سم توپیر کوي. د بېلګې په ډول، که د لېږدول شوو پیسو اندازه له پنځو زرو افغانیو سره برابره یا له هغې څخه کمه وي، لاندې لومړني تدابیر نیول کېږي: په هغه صورت کې چې حقیقي شخص وي: د پېرودونکي بشپړ نوم، دنده او پته او د هغه د ټیلیفون شمېره اړین دي. که چېرې پېرودونکی حکمي شخص وي، د شرکت، مؤسسې یا حکمي شخص بشپړ نوم او ادرس او د معاملې په اجراء کولو کې د صلاحیت لرونکي شخص شهرت اړین دي[1]. په هغه صورت کې چې د پیسو اندازه له پنځه ویشت زرو څخه تر پنځوس زرو افغانیو څخه لوړه یا د هغه برابر وي، د حقیقي اشخاصو د هویت د تثبیت لپاره لاندې معلومات ترلاسه کېږي: أ- د پېرودونکي بشپړ نوم؛ ب- دنده او پته؛ ت- د معتبرې تذکرې یا پاسپورټ کاپي؛ ث- د اړیکې شمېره. او که حکمي شخص وي: أ- د محکمي شخص بشپړ نوم او پته؛ ب- د معاملې په اجراژ کې د صلاحیت لرونکي شخص شهرت؛ او ت- د فعالیت متعبر جواز کاپي[2].

په هغه صورت کې چې د پیسو اندازه له پنځه سوه زرو افغانیو څخه زیاته وي او د پیسو د وینځلو خطر جدي وي، او یا پیرودونکي له خطر ډکو هېوادونو څخه یوه پورې اړه ولري، د پېرودونکي د پېژندل لپاره شدید تدابیر نیول کېږي. د شدیدو تدابیرو په حالت کې د پورته ذکر شوو معلوماتو سربېره اضافي معلومات هم ترلاسه کېږي لکه: د پېرودونکي د شتمنۍ اندازه، د وجوهو د سرچینې په اړه معلومات او د هغه مرستندویه سندونه، د معاملې دلایل او موخې او له معتبرو سرچینو څخه د موجودو مدارکو او معلوماتو په استفادې د پېرودونکي د هویت د تثبیت او تأیید په برخه کې د مرستندویه سندونو ترلاسه کول[3]. که چېرې پېرودونکی حکمي شخص وي، د حکمي شخص په اړه د پورته معلوماتو سربېره لاندې اقدامات هم صورت نیسي: « أ- د پیرودونکي د واقعي مالکانو پېژندل؛ ب- د پېرودونکي د سوداګرۍ او فعالیت د ماهیت پېژندل؛ ت- د شرکت د مهمو ونډه والو او مسؤلینو شهرت...؛ ث- د شرکت د مالیاتو د ورکړې سند یا تصدیق لیک؛ ج- پلټل شوي مالي صورتحسابونه (د شتون په صورت

---

[1] - د (۲۰۱٦ کال) د صرافانو او د پیسو د خدمتونو د وړاندې کوونکو د فعالیتونو د تنظیم مقررې د ۲۹مې مادې ۴ فقره.

[2] - هماغه، ۵ فقره.

[3] - د ۲۰۱٦ کال د صرافانو د فعالیت د تنظیم مقررې د ۲۹مې مادې ٦ فقره.

کې)؛ ح- له معتبرو سرچينو څخه د موجودو مدارکو او معلوماتو په استفادې سره د مشتري د هويت او د هغه د واقعي مالکانو د تأييد تثبيت».

## شپږم مطلب: د پېرودونکي د پېژندلو اصل:

د مالي اقداماتو د کاري ځواک له اصولو او وړانديزونو څخه يو د پېرودونکي پېژندل دي چې د «KYC» په اصل سره شهرت لري يعني «Know your customer» په دې معنی چې «خپل پېرودونکی وپېژنئ». لاندې د پېژندونکي د پېژندلو مفهوم او اجراآت په مختصر ډول تشريح کېږي:

### الف: د پېردونکي د پېژندلو اصل مفهوم:

د پېرودونکي له پېژندلو څخه مراد دا دی چې رپوټ ورکوونکې مراجع (بانکونه، صرافان، حواله داران،...) د خپلو پېرودونکو اصلي پېژندگلوي مشخص کړئ که دا حقيقي شخص وي او يا حکمي ترڅو څوک په مستعار نوم او جعلي پېژندگلوۍ او يا مجازي او خيالي حکمي اشخاص له هغوی سره د سوداگريزو معاملو طرف ونه نيسي. د پېژندگلوۍ د تشخيص سربېره بايد په ځانگړي ډول د هغوی د شتمنو په اړه لازم معلومات ترلاسه کړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې شتمنۍ جرمي سرچينه نه لري او د هغوی مالکان د پيسو د وينځلو په جرم کې ونډه نه لري. نو د پېرودونکي پېژندنه د پېرودونکي د نوم پېژندلو په معنی نه دی، بلکه په ځانگړي ډول د پېرودونکي د اصلي پېژندگلوۍ او د هغه د شتمنيو په اړه د کافي معلوماتو درلودلو په معنی دی. لکه څرنگه چې د دې مبحث په پنځم مطلب کې تشريح شوي دي، د پېرودونکي د پېژندنې ميزان د مالي معاملې د خطر او حجم له ميزان سره سم چې له هغوی سره صورت نيسي او حتی د معاملې ډول چې د اسعارو تبادله ده او يا  د پيسو لېږد او داسې نور وي، توپير لري. که چېرې د پيسو د وينځلو خطر ډېر وي او يا ترسره شوې معاملې سترې وي، په ځانگړي ډول د پېرودونکي په اړه ډېره پېژندنه لازمي ده خو که کوچنۍ معاملې وي او د پيسو د وينځلو خطر جدي نه وي، لږ تر لږه پېژندنه کافي ده. د دې اصل پر بنسټ رپوټ ورکوونکې مراجع لکه يو بانک، صراف او يا يو حواله دار، بايد د پېرودونکي د واقعي پېژندگلوۍ د پېژندلو په برخه کې مناسب چلند ترسره کړي او ډاډ ترلاسه کړي له هغو کسانو سره چې سوداگريزې معاملې ترسره کوي، په مالي جرمونو کې ونډه نه لري او شتمنۍ يې له جرم څخه راپيدا شوې نه دي. د پورته موخې د ترلاسه کولو په منظور بانکونه او صرافان بايد لاندې تدابير ونيسي:

۱. که دایمي او یا مؤقتي پېرودونکي، ګټه اخیستونکي مالکان او په دوام دار ډول او د بانکي حساب پر پرانیستې د حاکمو قواعدو او د لاربنوونو د اصولو پر بنسټ د ټولو پېرودونکو پېژندنه او څېړنه.

۲. د ګټه اخیستونکو افرادو، د ټولو هغو معاملو چې د پېرودونکو لخوا ترسره کېږي، د اصلي مالکانو پېژندنه او څېړنه تر هغه بریده چې د هغوی د بشپړ فهم او درک په اړه ډاډ ترلاسه شي.

۳. د بېلابېل ډول پېرودونکو اړوند د خطرونو ارزونه او د پېرودونکو او ګټه اخیستونکو مالکانو د پېژندنې او څېړنې لپاره د اړتیا وړ شرایطو د ترلاسه کولو لپاره لازم تدابیر نیول.

٤. د ګټه اخیستونکو مالکانو او پېرودونکو د پېژندنې او څېړنې په موخه د لازمو شرایطو د دوامداره نوي کولو د تضمین لپاره مناسب تدابیر نیول.

۵. د پېرودونکو او ګټه اخیستونکو مالکانو په پېژندګلوۍ کې د رامنځته شوو بدلونونو تعقیبول او پر هغوی د کنټرول او څارنې لپاره لازمي پرېکړې نیول.

٦. د صلاحیت لرونکي مسؤول لخوا د پیسو د وینځلو او له جرم څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون، نورو سندونو او اړوندو اوامرو سره سم د پېرودونکو او ګټه اخیستونکو مالکانو د پېژندګلوۍ ثبتول او ضبطول.

۷. د اعتبار ورکوونکې او کنټرولوونکې مراجعو څخه د پېرودونکي او ګټه اخیستونکو مالکانو د پېژندګلوۍ د تصدیق غوښتنه کول.

**ب: د پېرودونکي د پېژندنې جدي حالتونه:**

د پېرودونکي پېژندنه په ټولو احوالو کې یو لازمي امر دی، خو د پیسو د وینځلو د مخنیوي قانون د ۱۲مې مادې له ۱ فقرې سره سم په لاندې حالتونو کې جدي ده:

**«۱. له اشخاصو سره د حساب د پرانیستلو په وخت یا د سوداګریزو اړیکو له برقرارۍ څخه دمخه.**

**۲. د غیر منظمو معاملو د اجراء، له ټاکلي نصاب څخه د زیات مبلغ لرونکو معاملو په وخت کې او په اړونده مقرره کې له ټاکلي نصاب څخه د زیاتو پیسو د الکترونیکي لېږد د ترسره کولو په وخت کې.**

**۳. په داسې حال کې چې د پیسو د وینځلو یا د تروریزم د تمویل شک (ظن) مطرح وي.**

**٤. په داسې حال کې چې د پېرودونکي له پېژندګلوۍ څخه د لاسته راغلیو اطلاعاتو پر صحت او پوره والي باور نه وي ترلاسه شوی».**

د پورته مواردو سربېره، کله چې معامله ستره وي او یا پېرودونکی له خطر ډکو هېوادونو څخه په یوه کې وي (د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون ۱۴مه ماده) او یا پېرودونکی سیاسي متبارز شخص او یا د هغه د کورنۍ غړی وي (د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون ۱۵مه ماده) او یا معامله مشکوکه وي (د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون ۱۸مه ماده) د صرفانو او د پیسو د خدمتونو وړاندې کوونکو د فعالیت د تنظیم مقررې د ۳۰مې مادې په ۲ فقره کې له لسو درج شوو مواردو څخه یو شتون ولري، نو د پېرودونکي پېژندنه حتمي ده[1].

د قانون جوړوونکي لخوا په پورته مواردو کې د پېژندنې جدي ګڼل په دې معنی دي چې سرغړوونکی به د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون په ۲۴مه ماده کې له درج شوو جدي مؤیداتو سره مخ شي. د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مانع اقداماتو او مسؤولیتونو مقررې (۲۰۱٦) ۳۰مه مادې په خپل ۳ بند کې تصریح کړي دي چې «د پېرودونکي په سمه پېژندنه کې ناکامي» یو له هغو مواردو څخه دی چې رپوټ ورکوونکې مراجع د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون په ۲۴مه ماده کې له درج شوو مؤیداتو سره مخ کوي. د یادونې وړ ده چې د جزا کود له نافذ کېدو مخکې د پېرودونکي نه پېژندنه جرم وو، خو د جزا کود په نافذېدو سره د پېرودونکي په پېژندنه کې سرغړونه نور جرم نه دی. ځکه چې د جزا کود د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون د جرم او جزا احکام لغوه کړي دي او په مقابل کې ټول جرمونه د جزا کود ته انتقال شوي نه دي. د بېلګې په ډول؛ د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون پر بنسټ، د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون د دویم فصل له احکامو څخه سرغړونه جرم پېژندل شوی وو. د پېرودونکي د پېژندنې په ګډون ټول تدابیر د نوموړي قانون په دویم فصل کې ذکر دي. په دې اساس یې د هغه جزایي

[1] - دا موارد د دې وینا په پنځم مطلب کې په تفصیل سره ذکر شول. ص ته مراجعه وکړئ.

مؤیدې نه مراعتول یې له ځان سره درلود، خو په جزا کود کې د دې موارو یوازې یوه برخې انتقال موندلی دی[۱].

**ب : د پېرودونکي د پېژندنې پروسه:**

د پېرودونکي پېژندنه یوه مستمره پروسه ده. نه یوازې د حساب پرانیستول او د اقتصادي معاملو د برقرارۍ څخه وړاندې، بلکه په جریان او یا حتی له هغه وروسته هم پروسه لري. په ځینو مواردو کې وضعیت جدي نه وي، مالي مؤسسې کولای شي د پېرودونکي د پېژندنې پروسه تر پایه وځنډوي، په دې معنی چې د پېرودونکي د پېژندنې پروسیجر له تکمیل پرته سوداګریزې اړیکې نه رامنځته کېږي[۲].

په پیل کې رپوټ ورکوونکې مراجع مکلفې دي چې د خطرونو د ترسره شوې ارزونې په رڼا کې په ګوته کړي چې پېرودونکي یې په کومه کټګورۍ کې قرار لري. که د خطر اندازه ټيټه وي، له هغو تشریحاتو سره سم چې په پنځم مطلب کې ترسره شول، په لومړنۍ ارزونه بسنه صورت نیسي. ښایي د حساب له پرانیستلو او یا د اقتصادي اړیکې له ټینګولو وروسته رپوټ ورکوونکې مراجع د خپلو پېرودونکو د معاملو په برخه کې مشکوک شي داسې چې د پیسو د وینځلو شک ورسره وي، همدا ده چې د خپل پېرودونکي پېژندنې ته ادامه ورکوي او د هغه او شتمنۍ او اقتصادي معاملو په اړه یې زیات معلومات تر لاسه کوي. پېژندنه په دوه ډوله ترسره کېږي:

۱. عادي پېژندنه (د پېرودونکي د پېژندنې لومړني تدابیر): له دې میتود څخه په هغو مواردو کې ګټه اخیستل کېږي چې د معاملې ارزښت لږ او خطر هم ټيټ وي.

۲. هر اړخیزه پېژندنه (د پېرودونکي د پېژندنې شدید تدابیر): دا میتود په هغو مواردو کې کارول کې.ي چې د خطر میزان په کې پورته او د معاملې ارزښت لوی وي.

د حقیقي او حکمي اشخاصو پېژندنه توپیر لري.

---

[۱] - نصیر الله خالد، جرایم تطهیر پول در نظام حقوقی افغانستان، ص ٤٩.

[۲] - د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مانع مسؤولیتونو او اقداماتو مقررې ۱۲مه ماده د هغه موارد مشخص کړي دي.

همدارنګه بانکونه او صرافان باید د پېرودونکو او ګټه اخیستونکو مالکانو پېژندګلوي د هغوی د قانوني پېژندګلوۍ سندونو ته په کتو تثبیتېږي. دا کار باید د حساب د پرانیستلو په پیل کې یا د بانکي مبادلاتو د ترسره کولو پرمهال، که د شخص یا د هغه د استازي لخوا وي، صورت نیسي.

بانکونه او صرافان باید د حکمي اشخاصو رسمي سندونو کې چې د هغوی د پېژندګلوۍ بیانوونکي دي، نوم، پته، د هغوی د مالکانو او مدیرانو نوم او پته، او د هغوی په اړه هر ډول نور د اړتیا وړ معلومات له زیات وڅېړي.

د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون دولسمه ماده د پېرودونکو د پېژندګلوۍ د تشخیصولو او تثبیتولو په اړه داسې صراحت لري:

**«(۱) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د خپلو پېرېدونکو پېژندګلوي، په ټولو حالاتو په تېره بیا په لاندې احوالو کې تشخیص او تثبیت کړي:**

**۱. له اشخاصو سره د حساب د پرانیستلو په وخت یا د سوداګریزو اړیکو له برقرارۍ څخه دمخه.**

**۲. د غیر منظمو معاملو د اجراء، له ټاکلي نصاب څخه د زیات مبلغ لرونکو معاملو په وخت کې او په اړونده مقرره کې له ټاکلي نصاب څخه د زیاتو پیسو د الکترونیکي لېږد د ترسره کولو په وخت کې.**

**۳. په داسې حال کې چې د پیسو د وینځلو یا د تروریزم د تمویل شک (ظن) مطرح وي.**

**٤. په داسې حال کې چې د پېرودونکي له پېژندګلوۍ څخه د لاسته راغلیو اطلاعاتو پر صحت او پورع والي باور نه وي ترلاسه شوی.**

**(۲) د حقیقي شخص پېژندګلوۍ د تابعیت د تذکرې د اصل یا د قانوني اعتبار لرونکي پاسپورټ یا د پېژندګلوۍ د نورو مثبتو سندونو پر بنسټ چې اړوندې کړنلارې هغه په رسمیت پېژندلی وي، ټاکل کېږي او کاپۍ یا ریکارډ یې له رپوټ ورکوونکې مرجع سره ساتل کېږي.**

**(۳) د حکمي شخص پېژندګلوي د ثبت د تصدیق لیک، معتبر جواز یا د شرکت د اساسنامې یا په اړونده مقرره کې د درج شوي بل سند پر بنسټ چې د پېژندګلوۍ د ټاکلو پر وخت د داسې شخص د قانوني**

ثبت او د واقعي موجدیت مصدق وي، تثبیتېږي، سربېره پر دې حکمي شخص مکلف دی د مالکینو د ملکیت سندونه او د شرکت ملکیتي جوړښت هم وړاندې کړي او رپوټ ورکوونکې مراجع د حکمي شخص د مالکیت د تثبیت لپاره اړین تدابیرونه ونیسي او د ذکر شویو سندونو کاپۍ یا ریکارډ وساتي.

(٤) د هغو حقوقي ترتیباتو د سیستمونو پېژندګلوۍ چې د نورو اشخاصو په استازیتوب، حساب تصفیه، ساتي یا لېږدوي یا په حساب کې ذینفع وي، د اُمناء هیئت، تصفیه کوونکو او ذینفع اشخاصو او همدارنګه هغو مراجعو چې حقوقي سیستمونه تنظیموي، د هغو په مدیریتي پُستونو کې د مؤظفو اشخاصو او په اړونده مقرره کې د درج شوو نورو سندونو د مطالبې او تصدیق لیک له لارې، تثبیتېږي.

(٥) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د پېریدونکو د پېژندګلوۍ د تشخیص او تثبیت په اړه د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو حکمونو د تطبیق په وخت کې، د هغو اشخاصو واک چې د پېرېدونکي لخوا استازیتوب کوي، وڅېړي.

(٦) رپوټ ورکوونکې مرجع د لاندې تدبیرونو په نیولو مکلفه ده:

۱- د اصلي مالک تشخیصول و تثبیتول، دا ډول چې د نوموړي د تشخیص په اړه قناعت برابر شي.

۲- د پېرېدونکي په واسطه د مالکیت د جوړښت د تشخیصولو او د شرکت د کنټرولولو لپاره د مقتضي تدبیرونو نیول.

۳- عند الاقتضاء د سوداګریزو اړیکو د هرې یوې موخې او ماهیت په هکله، د معلوماتو ترلاسه کول.

٤- د سوداګریزو اړیکو د ماهیت د تشخیصولو او تثبیتولو د تدبیرونو دوامداره تطبیق او د پېرېدونکي، سوداګرۍ، جزئیاتو او د خطر میزان او د وجوهو د سرچینې په هکله د رپوټ ورکوونکو مراجعو له معلوماتو سره د دې ډول معاملو له مطابقت څخه د ډاډ د ترلاسه کولو په منظور، د دې ډول سوداګریزو اړیکو د دوام د مودې په ترڅ کې د ترسره شوو معاملو د څېړلو اجراء.

۵- د یوې غیر منظمې معاملې په اړه د پیرېدونکي د پېژندګلوۍ تشخیصول او تثبیتول چې مبلغ یې په یوازې ډول په اړونده مقرره کې له ټاکلي حد څخه زیات ن شي، خو دغه معامله له یو بل سره د تړلو معاملو داسې یوه برخه وي چې مجموعي ارزښت یې له ټاکلي حد څخه زیات وي.

(۷) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د پیرېدونکو د پېژندګلوۍ په تثبیتولو پورې اړوند تدبیرونه د خطرونو او د اهمیت له په پام کې نیولو سره، د ټولو شته او نوو پیرېدونکو په هکله عملي کړي. رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده د شته پیرېدونکو د پېژندګلوۍ د تثبیتولو تدبیرونه په لنډه موده کې عملي کړي.

(۸) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د پیرېدونکو د پېژندګلوۍ د تثبیتولو د تدبیرونو ډول او حدود د خطر د حساسیت له میزان سره متناسب تطبیق کړي.

(۹) په هغو احوالو کې چې د خطر درجه په خورا لوړ حد تشیخص شي، رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د پیرېدونکو د پېژندګلوۍ د تثبیتولو شدید تدبیرونه چې د واکمنۍ څارنیزې مرجع په واسطه ټاکل کېږي، تطبیق کړي.

(۱۰) رپوټ ورکوونکې مرجع په هغه صورت کې کولای شي د ثالث شخص لخوا د پیرېدونکو د پېژندګلوۍ په تثبیت پورې اړوندو تدبیرونو باندې باور وکړي چې د دې قانون او اړوندې مقررې له حکمونو سره په مطابقت کې نیول شوي وي.

(۱۱) څارونکې مرجع کولای شي، د اړوندې کړنلارې مطاق هغه شرایط مشخص کړي چې رپوټ ورکوونکې مرجع وکولای شي د پیرېدونکو د پېژندګلوۍ د ثبیتولو د تدبیرونو تطبیقول د سوداګریزو اړیکو له رامنځته کولو یا د معاملې تر اجراء پورې وځنډوي.

(۱۲) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د حساب د پرانستلو، د سوداګریزو اړیکو د رامنځته کولو او له پیرېدونکي سره د معاملې د اجراء په اړه چې د پېژندګلوۍ د تثبیت لپاره یې فزیکي حضور میسر نه وي، د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل له جرمونو څخه د را پیدا شوو خطرونو د مخنیوي لپاره د قانون د حکمونو پر بنسټ، مشخص او کافي تدبیرونه ونیسي.

**(۱۳) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، له اشخاصو او د هغو هېوادونو له مالي مؤسسو سره چې د دې قانون د څوارلسمې مادې د حکم مطابق د زيات يا جدي خطر لرونکي تشخيص شوي دي، د سوداګريزو اړيکو او مالي معاملو په اړه د پېرېدونکو د پېژندګلوۍ د تشخيص او تثبيت شديد تدبيرونه، تطبيق کړي.**

**(۱٤) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، ترڅو د حيات د بيمې يا نورو سوداګريزو فعاليتونو په اړه د پانګې اچونې د بيمې په تړاو چې د بيمې د مؤسسو لخوا وړاندې کېږي، د حيات بيمې او نور بيمه ليکونه چې د نورو پانګې اچونو سره تړاو لري د ګټې اخيستنې له تشخيص او تثبيت په برخه کې وروسته له دې چې د ګټې اخيستونکی تشخيص او تثبيت شو، لاندې اضافي تدبيرونه ونيسي:**

**- د حقيقي، حکمي شخص يا د حقوقي ترتيباتو د سيستم نو اخيستنه چې د بيمې د ګټه اخيستونکي په توګه پېژندل شوی دی.**

**- د هغه شخص په اړه د کافي معلوماتو اخيستل چې د زوجيت د خپلوي اړيکې، اصول او فروع او تر دوه يمې درجې پورې، د خپلوي پر بنسټ د بيمې ګټه اخيستونکی ګڼل کېږي يا هغه شخص چې د شرعي يا قانوني سند پر بنسټ د بيمې د ګټه اخيستونکي په توګه ګڼل کېږي.**

**(۱٥) مالي ګروپ مکلف دی څو د ګروپ په کچه د پيسو د وينځلو او د تروريزم له تمويل سره د مبارزې لپاره د پاليسيو او د معاملو د تبادلې د کړنلارو په شمول مقتضي برنامې تطبيق کړي.**

**(۱٦) مالي مؤسسې مکلفې دي، ډاډ ترلاسه کړي چې د هغوی بهرني فروع او هم تابع شرکتونه يې چې په هغو کې د اعظمي مالکيت لرونکي دي، د مالي اقداماتو د کاري ګروپ د سپارښتنو د تطبيقولو په برخه کې د خپلو متبوع هېواد له مکلفيتونو سره په مطابقت کې د پيسو د وينځلو او د تروريزم د تمويل پر خلاف د مبارزې تدبيرونه اجراء کوي».**

**(۱۳) دیارلسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

په هغه صورت کې چې پیرېدونکی رپوټ ورکوونکې مراجعو ته د معلومات ورکولو څخه ډډه وکړي، رپوټ ورکوونکې مراجع کوم اقدامات باید ترسره کړي؟ او له کوم قانون سره سم؟

**احتمالي ځواب:**

رپوټ ورکوونکې مرجع باید بلافاصله خپله اړیکه له پیرېدونکي سره قطع کړي او د نوموړي موضوع په اړه د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز ته راپور ورکړي. (د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مانع اقداماتو او مسؤولیتونو مقررې ۱۵مه ماده، ۲۰۱٦).

## ج: د اسعارو د تبادلې پرمهال د پیرېدونکي د پېژندګلوۍ تشخیصول:

د مالي خدمتونو وړاندې کوونکي او صرافان د اسعارو د تبادلې پرمهال د خپلو پیرېدونکو پېژندګلوي په لاندې ډول پېژني[1]:

- که چېرې له پنځه سوه زره افغانیو څخه لږه اندازه پیسې وي، د پیرودونکي بشپړ نوم او د هغه د اړیکې شمېره ترلاسه کېږي.
- که چېرې له پورته ذکر شوې اندازه پیسو څخه تر یک میلیون افغانیو یا د هغه برابر وي، د پیرېدونکي بشپړ نوم، د پیرېدونکي پته، د تبادلې نرخ او د هغه نېټه ثبتېږي.
- که چېرې له هغه څخه زیاتې پیسې وي، د پورته معلوماتو سربېره، د تبادلې موخه، د اسعارو سرچینه، له اصل سره سم د تذکرې یا اعتبار لرونکي پاسپورټ کاپي ترلاسه کېږي.

## ج: د پېژندګلوۍ د تشخیصولو طریقې:

د یو شخص د پېژندلو لپاره بېلابېلې طریقې وجود لري. د هغوی له جملې څخه څلور طریقې په لاندې ډول د استفادې وړ ګرځېدلای شي:

[1] - د مالي خدمتونو د وړاندې کوونکو او د صرافانو د فعالیت د تنظیم مقررې ۳۵مه ماده.

**۱. د نفوسو د ثبت احوال له لارې:**

د جنسیت، عمر، قومیت، د کورنۍ شمېر او شغلي وضعیت په څېر ځانګړو په اړه د نفوسو د احوالو ثبت د سندونو له لارې خورا دقیق معلومات ترلاسه کېدلای شي. البته د دې امر یادونه لازمه ده چې نه شي کېدلای یوازې د یو شخص د قومیت، ژبې یا نژاد پر بنسټ د هغه په اړه قضاوت وکړي. ځیني وخت د افرادو په اړه د دې ځانګړنو پر بنسټ قضاوت تبعیض آمیز ګڼل شوی دی. په همدې دلیل، د پورته بنسټونو پر بنسډ د افرادو ډلبندي په شمالي امریکا کې تحقیر آمیز ګڼل شوی دی.

**۲. مادي انګېزې (سود او ګټه):**

ځیني وختونه، د ځینو کارونو له ترسره کولو څخه د افرادو موخه د هغوی له مادي انګېزو څخه ترلاسه کېدلای شي. د سود یا ګټې هغه میزان چې یاد فرد یې له اړوند کار څخه ترلاسه کوي. یا په بل عبارت دا چې وڅېړل شي، هغه په یاد کار کې د کومې موخې او کوم ډول مادي ګټې پسې ګرځي. البته له دې لارې د افرادو پېژندل او پر دې بنسټ سم قضاوت ستونزمن دی.

**۳. د ژوند طریقه او طرز:**

ځیني وخت د افرادو د ژوند طریقه د هغوی د شخصیتي ځانګړنو ښکاروندی دی. د بېلګې په ډول، د هغوی د سفرونو، شیانو او هغو خدمتونو ډول چې یې کاروي او ترلاسه کول یې غواړي. نوموړې طریقه له دې نظر څخه ګټوره ده چې د فرد لخوا د پیسو د ترلاسه کولو طریقه او ډول او د هغه د لګښت څرنګوالی مشخصوي.

**٤. د کړنو ډول:**

د مالي مؤسسو په اړه. په دې معنی چې د حساب درلودونکي شخص لخوا د ترسره شوو اعمالو په اړه د موجوده اطلاعاتو پر بنسټ لکه له بانک سره د اړیکې موده، د ورکړې او د پیسو ترلاسه کولو طریقې، سیاسي، مذهبي ډلو او هغوی په څېر نورو ډلو سره اړیکې د یو فرد شخصیت پېژندلای شي چې آیا امکان لري چې هغه د پیسو د وینځلو جرم پورې اړه لري یا نه. ځکه چې د یو فرد تېرې او اوسنۍ کړنې د هغه د کړنو د پېشبینۍ لپاره تر ټولو غوره دلیل کېدلای شي.

البته د پیسو د وینځلو پر وړاندې مبارزې لپاره د دې پېژندنو ترلاسه کول خورا ګټور دی، خو په هغه کې د اشتباه زیات امکان لري. په همدې خاطر غالباً په دې اړه قضاوت مشکل دی.

**(۱۴) څوارلسم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

سما د یو اسیستانټ کارکوونکې په توګه د کابل ښار په یو خصوصي شرکت کې کار کوي. هغه د شرکت د رئیسانو لخوا د فرېبکارۍ او تزویر جرمونو په ارتکاب تورنه شوې ده، د شرکت مسؤولیت ادعا لري چې هغه پیسې چې سما د فرېبکارۍ او تزویر له لارې ترلاسه کړې دي، ۲۰ میلیونه افغانیو ته رسېږي. هغه په دې هم تورنه شوې ده چې وروسته له جرم څخه راپیدا شوې پیسې یې د خپلې مور او خاوند (پنځوس کلن چې پخوا یې کار دریوري وه) سپینې کړې دي.

د سما ټول کلنۍ عاید په کال کې ۶۰۰۰۰ افغانیو ته رسېږي. خو هغې په شرکت کې د کار پرمهال د نورو شیانو د پېرودلو ترڅنګ په فرنیچرو سمبال آپارتمان په درې میلیونه افغانۍ په ترکیه کې اخیستی دی او همدارنګه په دې موده کې یې د څلور میلیونو په ارزښت طلا او دوه موټرې هم پېرودلې دي.

د سما د واقعي عاید ترمنځ زیات واټن او د هغه د ژوند طریقې او طرز مالي مؤسسې پر هغې مشکوکې کړې دي. دا شک او ظن هغه وخت زیاتېږي چې په محکمه کې څرګنده شوه، سما قصد لري له خپلې کورنۍ سره ترکیې هېواد ته سفر وکړي او هلته پاتې شي. حتی هغې په یو ځای کې څرګنده کړه چې غواړي یو بانک رامنځته کړي. (دا خبرې یې په راتلونکي کې د زیاتې ګټې د ترلاسه کولو څرګندونه کوي.) له بله پلوه، په جعلي لاسلیکونو سره یو شمېر چکونه د هغه بانکي حساب ته داخل شوي وو چې وروسته دا پیسې ترکیې هېواد ته لېږدول شوې وې، چې دا د سما په اړه مشکوکه کړنه وګڼل شوه. همدارنګه د سما، د هغې د خاوند او مور ترمنځ د بانکي انتقالاتو ډول هغوی د پیسو د وینځلو له ترو سره مخ کړل.

ولید شوه چې په پورته قضیه کې د سما او د هغه مرسته کوونکو پېژندنه د پیسو د وینځلو جرم د مرتکبینو په توګه، «د پېژندګلوۍ د تشخیص بېلابېلې اجزاوې» کارول شوې ده.

پوښتنه: مهرباني وکړئ بیان یې کړئ چې په پورته قضیه کې له څلورو طریقو څخه «د پېژندګلوۍ د تشخیص بېلابېلې اجزاوې» هر یو څنګه د پیسو د وینځلو مرتکب په پېژندلو کې ګټوره او مؤثره تمامېدلای شي.

## اووم مطلب: پر خطر ډکو معاملو څارنه او راپور ورکول:

کله چې د خطر میزان لوړ وي، یوازې د پېربېدونکي پېژندنه بسنه نه کوي، بلکه رپوټ ورکوونکې مراجع مکلفې دي ترڅو له دې معاملو څخه څارنه وکړي او د هغوی په اړه د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز ته راپور ورکړي. دا راپورونه نوموړې ادارې توانوي ترڅو ترسره شوې معاملې تحلیل او و ارزوي او په هغه صورت کې چې د پیسو د وینځلو جرم واقع شوې وي، هغه کشف کړي. له څارنې او د راپور ورکوونکې مراجعو ته د راپور ورکولو پرته نوموړې اداره د پیسو د وینځلو جرمونو په کشف نه شي توانېدلای. نو څارنه او راپور ورکونه د پیسو د وینځلو مخنیوي مهمو تدبیرونو څخه یو دی.

هغه معاملې چې د هغه په اړه باید راپور ورکړل شي، ډېرې دي. مهمې هغه یې عبارت دي له:

۱. سترې معاملې او له خطر ډکو هېوادونو سره معاملې (د پیسو وینځلو مخنیوي قانون ۱۴مه ماده)

۳. مشکوکې معاملې او یا مؤیدې معاملې یا د هغه اړوند (د پیسو وینځلو مخنیوي قانون ۱۸مه ماده)

٤. له حد زیات د نغدو پیسو د معاملو په اړه راپور (د پیسو وینځلو مخنیوي قانون ۱۷مه ماده)

د ۱۳۹۳ کال د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون د سترو معاملو معیار مشخص کړی نه دی[۱]. بلکه هغه یې مقرراتو ته پرېښې دي. د صرافانو او د پیسو د خدمتونو وړاندې کوونکو د فعالیت د تنظیم مقررې د ٦مه مادې ۲٦ بند سترې معاملې داسې تعریف کړې دي:«سترې نغدي معاملې له هغه معاملې څخه عبارت دي چې هغه حواله، انتقال یا د اسعارو تبادله چې تر پنځوس زره افغانیو (۵۰۰،۰۰۰) یا له هغه څخه زیات وي او یا په بهرنیو اسعارو د هغه برابر وي، د هغه له لارې ترسره شي».

د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مسؤولیتونو او اقداماتو مقررې د ۴مې مادې د ٦ فقرې (۲۰۱٦) پر بنسټ، هره معامله چې له ټاکلې اندازې څخه زیات وي، د همدې مقررې په چوکاټ کې ستره معامله ګڼل کېږي. دا په دې معنی دی چې د معاملې د ستروالي لپاره واحدي معیار د مادي ارزښت له پلوه شتون نه لري، بلکه په هره برخه کې لیدل کېږي چې اړوندې مقررې کوم حد تعیین کړی دی. که معامله له نوموړي حد څخه زیاته وي، ستره ګڼل کېږي.

[۱] - قانون مبارزه علیه تطهیرپول وعواید ناشی از جرایم سال ۱۳۸۳ یک ملیون افغانی را به حیث معیار معاملات بزرگ تعیین نموده بود.

د صرافانو او د مالي خدمتونو وړاندې کوونکو لخوا د صرافۍ، انتقال او د پېرودونکي د پیسو حواله لکه څرنگه چې لیدل کېږي، که د معاملې ارزښت په پنځه سوه زره افغانۍ او د هغه برابر ته ورسېږي او یا له هغه څخه زیاته وي، ستره معامله گڼل کېږي او لزوماً د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز ته راپور ورکول کېږي[1] ولو که معامله مشکوکه نه وي، ولو که د پیسو د وینځلو شک شتون ونه لري. احیاناً پېرودونکي د دې لپاره چې جدي څارنه ترې نه وي شوي، واحده معامله ټوټې ټوټې کوي ترڅو د هغه مجموعي ارزښت له پنځه سوه زرو افغانیو څخه کم شي، په همدې خاطر د مالي خدمتونو وړاندې کوونکي او صرافان مکلف دي چې جدي څارنه وکړي او دا ډول معاملې واحد معامله وگڼل شي[2].

د ام پیسه، ام حواله او یا مای مني له لارې د پیسو الکترونیکي لېږد د فعالیتونو په برخه کې سترې معاملې دا دي چې اندازه یې لس زره افغانۍ او یا له هغه څخه زیات وي[3]. د بانکونو او مالي مؤسسو لخوا له هېواده دباندې د پیسو د الکترونیکي لېږد په برخه کې درې ډوله معاملې تنظیم شوي دي: له یوې څخه تر پنځوس زرو افغانیو چې د هغه په برخه کې عادي تدبیرونه ترسره کېږي او له پنځوس زرو تر یو میلیون افغانیو او یا د هغه برابر په برخه کې جدي تدبیرونه ترسره کېږي[4]. په دې معنی چې په دې برخه کې ستره معامله دا معامله ده چې ارزښت یې یو میلیون افغانۍ او یا له هغه څخه زیات وي او په بهرنیو اسعارو د هغه برابر. د هېواد دباندې د پیسو فزیکي لېږد په برخه کې وړاندې مو ولیدل چې د شتمنۍ د انتقال مجاز حد له ۱۸ کلنۍ څخه پورته اشخاصو لپاره تر شلو زرو امریکایي ډالرو پورې دی.

که چېرې معامله ستره او یا پېچلې وي، د پیسو وینځلو مخنیوي قانون په څوارلسمه ماده کې درج او د هغه د تعدیل تدبیرونه د هغه په برخه کې ترسره کېږي. نوموړې ماده داسې صراحت لري:

---

[1] - د مالي خدمتونو وړاندې کوونکو او صرافانو د فعالیت د تنظیم مقررې د ۳۳مې مادې ۱ فقره.

[2] - د مالي خدمتونو وړاندې کوونکو او صرافانو د فعالیت د تنظیم مقررې د ۳۳مې مادې ۲ فقره.

[3] - د مالي الکترونیکو مؤسسو د مقررې د ۳مې ماد ۳۱ بند (۲۰۱۶).

[4] - د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مانع مسؤولیتونو او اقداماتو مقررې ۱۸مه ماده.

**«(۱) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د پېچلو او سترو غیر معمولو معاملو او د معاملو د غیر معمولو د ټولو ډولونو په هکله چې څرګنده قانوني یا اقتصادي موخه نه لري، د پېرېدونکو د پېژندګلوۍ د تشخیصېدو او تثبتېدو شدید تدبیرونه تطبیق کړي.**

**(۲) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو معاملو پس منظر او موخه تر ممکنه حده پورې، تر کتنې (مطالعې) لاندې ونیسي او لاسته راغلې پایلې یې په لیکلي توګه ترتیب او واکمنو مقاماتو او پلټونکو ته وړاندې کړي.**

**(۳) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د مالي مؤسسو او د غیر مالي تشبثاتو او حرفو او هغو اشخاصو په هکله، چې د هغوی اړوند هېوادونه د پیسو د وینځلو پر خلاف د مبارزې او د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې تدبیرونه نه عملي کوي یا یې په نا کافي ډول عملي کوي، د پېرېدونکو د پېژندګلوۍ د تشخیصېدو او تثبیتېدو شدید تدبیرونه د نړیوالو التزاماتو یا د څارنیزو مراجعو له خوا د صادر شوو لارښودونو مطابق تطبیق کړي.**

**(٤) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، له هغو هېوادونو سره د سوداګریزو په ټولو اړیکو او مالي معاملو کې د پېرېدونکي د پېژندګلوۍ لپاره د څارنیزو واکمنو مراجعو په واسطه د وضع شوو التزاماتو مطابق چې د مالي اقداماتو د کاري ډلې (F.A.T.F)[1] سپارښتنو او د پیسو د وینځلو او د تروریزم له تمویل سره د مبارزې نړیوال نور معیارونه نه اجراء کوي یا یې په نا کافي ډول اجراء کوي، داسې جدي تدبیرونه ونیسي او عملي یې کړي چې اغېزمن او له خطرونو سره متناسب وي.**

---

[1] - د مالي اقداماتو ځانګړې ځواک (د پیسو د وینځلو په برخه کې) (په انګلیسي ژبه: Financial Action Task Force) یا د ایف ای تي ایف (FATF) اختصار سره، همدانرګه په Groupe d'action financière (GAFI), هم پېژندل کېږي چې دا یو بین الدولتي سازمان دی چې په ۱۹۸۹ کال کې د جي ۷ په نوښت سره د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې لپاره د پراختیا سیاستونو په لیکلو سره رامنځته شوی دی. دا سازمان په ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې د تروریزم مالي تأمین پر وړاندې په مبارزې پیل وکړ. د ایف ای تي ایف دارلانشاء په پاریس کې د اقتصادي او پراختیا همکارۍ په سازمان کې موقعیت لري. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د پیسو وینځلو او د (FATF)د تاریخچې کلیاتو ته مراجعه وکړئ.

**(۵) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، په دې قانون کې د درج شوو شکمنو معاملو په هکله، د دې مادې د (۱، ۲ او ۳) [1] فقرو د حکمونو له په پام کې نیولو سره، د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز[2] ته رپوټ وړاندې کړي.**

**(٦) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، هغه رپوټونه چې د دې مادې د (۱، ۲ او ۴) فقرو د درج شوو حکمونو مطابق ترتیب او وړاندې کېږي، د دې قانون په شپاړسمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق وساتي».**

د یادونې وړ ده چې د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د سترو معاملو په اړه د راپور ورکولو لپاره ځانګړې فورمې رامنځته کړي دي ترڅو د هغوی له لارې د راپور ورکول صورت ونیسي.

## شپږم مطلب: پر ځانګړو اشخاصو او سیاسي څېرو څارنه:

له دې ډول اشخاصو څخه منظور هغه کسان دي چې د رهبرۍ په بستونو کې قرار لري یا تمه کېږي چې ژر تر ژر په دې بستونو کې قرار ونیسي، د بېلګې په ډول، د دولت یا حکومت مشران، لوړ پوړي عمومي چارواکي، قضایي یا نظامي چارواکي، د مهمو سیاسي حزبونو چارواکي یا د نړیوالو یا سیمه ییزو سازمانونو چارواکي.

البته پورته تعریف کې د منځنۍ درجې چارواکي یا د ټیټې رتبې چارواکي نه شاملېږي.

د پیسو وینځلو د مخنیوي قانون ۱۵مه ماده د سیاسي متبارزو اشخاصو لپاره د څارنیزو (مراقبتي) تدبیرونو په اړه داسې صراحت لري:

**«(۱) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، په دې قانون کې د درج شوو څارنیزو عامو تدبیرونو پر نیولو برسېره، د سیاسي متبارزو اشخاصو په هکله، لاندې تدبیرونه هم ونیسي:**

---

[1] - د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د (۱۴) مادې په تعدیل کې (۴) ګڼه اضافه شوې ده. د ۱۳۹۵ کال د وري د میاشتې په (۳۰) نېټه په (۱۲۱۰) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی.

[2] - د (مالي استخباراتو واحد) عنوان د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د ۱۳۹٦ کال په (۱۲٦۹) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د تعدیل په دویمه ماده کې د (مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز) عنوان باندې بدل شوی دی.

**۱ - د خطر د ادارې او کنټرول له سیستمونو څخه ګټه اخیستنه، د دې تشخیص په منظور چې پېرېدونکی یا حقیقي مالک، سیاسي متبارز شخص دی.**

**۲- له سیاسي متبارزو اشخاصو سره د سوداګریزو مناسباتو د رامنځته کولو یا دوام لپاره د واکمن مقام د منظورۍ اخیستل.**

**۳- د سیاسي متبارزو اشخاصو د وجوهو او شتمنیو د تشخیصولو په منظور، د مناسبو تدبیرونو نیول.**

**٤- په دوامداره او جدي توګه د سیاسي متبارزو اشخاصو له سوداګریزو اړیکو څخه څارنه.**

**(۲) د هغه سیاسي متبارز شخص په اړه چې په یوه نړیوال سازمان کې د مهمې دندې لرونکی دی، د دې مادې په (۱) فقرې کې درج شوی حکم په هغه حالت کې تطبیقېږي چې رپوټ ورکوونکې مرجع تشخیص کړي چې نوموړی له خطر ډکه سوداګریزه اړیکه لري».**

البته دا هم امکان لري چې ځانګړي اشخاص او سیاسي څېرې له خپل موقف څخه ناوړه ګټه پورته کړي او په غیر قانوني ډول د مالونو په راټولولو لاس پورې کړي یا دا چې د جرم له لارې ترلاسه شوي مالونه د خپلو خپلوانو په نوم ثبت کړي.

## نهم مطلب: د سندونو ساتنه:

بانکونه او صرافان باید د ټولو بانکي معاملو او پولي مبادلاتو سندونه په آرشیف کې وساتي. دا کار د لوړ پوړو مدیرانو، مالي څېړوونکو او نورو چارواکو لخوا د راټلونکي چیک کولو او کنټرول لپاره خورا ګټور دي. نوموړي سندونه باید تر وروستۍ بریده بشپړ او صحت لرونکي وي ترڅو وکولای شي د هر ډول راټلونکي اختلاف د حل یا مالي څېړنې یا د پیسو د وینځلو محاکمې لپاره د استناد وړ وي.

د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون شپاړلسمه ماده په دې اړه داسې صراحت لري:

**«(۱) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، په ترسره شوو یا نهایي شوو داخلي او نړیوالو معاملو پورې اړوند اړین ټول سندونه د اجراء یا یې د اجراء د پیل له نېټې څخه، لږ تر لږه د پنځو کلونو مودې لپاره وساتي.**

**(۲) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د پېرېدونکي په پېژندګلوۍ پورې اړوند اطلاعات او اړوند مصدقه سندونه، د حسابونو سندونه او سوداګریزې لیکنې چې د پېرېدونکو د څارنې په بهیر کې د دې قانون په دویم فصل کې د درج شوو حکمونو مطابق لاسته راغلي دي، په داسې ډول واکمنو کورنیو مقاماتو لپاره د لاس رسي وړ وي، لږ تر لږه د پنځو کلونو مودې یا د اړتیا یا د واکمنو مقاماتو د تجویز په صورت کې د سوداګریزو مناسباتو یا د معاملې د ترسره کولو له پای ته رسېدو څخه وروسته، له پنځو کلونو څخه زیات وساتي.**

**(۳) واکمنه څارنیزه مرجع کولای شي، د پېرېدونکي، مؤکل، ګټه اخیستونکي، استازي، حقیقي مالک د پېژندګلوۍ د تشخیصولو او د شکمنو معاملو د تشخیصولو په منظور، رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه کړي، ترڅو د اړوندو کړنلارو مطابق، سراسري (ډېټابیس) معلوماتي مرکز په مرکزي دفتر، اړوندو نمایندګیو او هغو تابعه شرکتونو کې چې د عمده برخې مالکیت یې په واک کې لري، جوړ کړي.**

**(٤)رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د دې مادې په (۱، ۲ او ۳) فقرو کې درج شوي سندونه وساتي او داډ ترلاسه کړي چې لومړني (مقدماتي) سندونه او معلومات په اسانۍ سره د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز[1] او نورو واکمنو مراجعو په واک کې قرار لري او د معاملو د څېړنې لپاره بسنه کوي».**

## لسم مطلب: د شکمنو معاملو رپوټ:

د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل جرم د کشفولو او د هغوی پر وړاندې د مبارزې په منظور، د مالي مؤسسو له وجایبو څخه یو پر خپل وخت د شکمنو معاملو په اړه پر خپل وخت رپوټ ورکول دي ولو که ارزښت یې د سترو معاملو حد ته نه وي رسیدلی. د پیسو وینځلو د مخنیوي قانون اتلسمه ماده شکمنې معاملې معرفي او هغه تدبیرونه چې باید ترسره شي، داسې تعریف کړي دي:

**«(۱) معامله په لاندې حالاتو کې شکمنه وي، رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، زیات نه زیات د دریو ورځو مودې په ترڅ کې د هغې په هکله، د مالي رپوټونو او د شننې مرکز ته رپوټ ورکړي:**

---

[1] - د (مالي استخباراتو واحد) عنوان د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د ۱۳۹٦ کال په (۱۲٦۹) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د تعدیل په دویمه ماده کې د (مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز) عنوان باندې بدل شوی دی.

**۱- د شک یا د دلایلو د موجودیت په صورت کې شک لرل چې ګواکې معامله یا د هغې په اجراء باندې اقدام کول له جرمونو څخه په را پیدا شوو عوایدو پورې اړه لري یا له هغې څخه موخه د پیسو وینځلو یا د تروریزم تمویلول دي یا له اصلي جرمونو سره اړیکه لري.**

**۲- د شک یا د دلایلو د موجودیت په صورت کې شک لرل چې ګواکې وجوه په تروریست شخص یا تروریستي سازمان پورې اړه لري یا د تروریستي اعمالو د اجراء په قصد کارول شوې یا د تروریستي سازمانونو په واسطه تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.**

**(۲) هغه رپوټونه چې د دې قانون د حکمونو مطابق، د رپوټ ورکوونکې مرجع لخوا ترتیبېږي، له هغه ډول او لارې چارې سره په مطابقت کې صورت مومي چې په اړونده مقرره کې د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز[۱] ته د استولو او را استولو لپاره په پام کې نیول شوي دي.**

**(۳) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د اجراء شوو شکمنو معاملو په هکله هم رپوټ وړاندې کړي، که څه هم چې د معاملې له بشپړېدو وروسته، د هغه د شکمنتوب دلایل ښکاره شي».**

**دویمه وینا: د پیسو وینځلو څخه د مخنیوي څارنیز تدبیرونه:**

وقایوي تدبیرونه چې په لومړۍ وینا کې یې تر ټولو مهم هغه وڅېړل شول هغه وخت په سمه توګه د کار وړ دي چې په په غوره کیفیت سره عملي شي. باید یادونه وشي چې هغه وخت دا تدبیرونه په غوره توګه اجرا کېږي چې له هغه څخه څارنه وشي. په همدې توګه د پیسو وینځلو څخه د مخنیوي قانون او د هغه اړوند مقررات ځینې ادارې د «څارونکو مراجعو» په نوم معرفي کړي دي او هغه یې مکلفې کړې چې د رپوټ ورکوونکې مراجعو څخه څارنه وکړي ترڅو د پیسو وینځلو څخه د مخنیوي تدبیرونه په غوره توګه عملي شي. دا ادارې ځانګړي صلاحیتونه لري. نو څارنیز تدبیرونه په خپله د وقایوي تدبیرونو برخه ده، خو د پیسو وینځلو څخه په مخنیوي کې په جلا شکل څېړل کېږي. تر دې وینا لاندې لومړی

---

[۱] - د (مالي استخباراتو واحد) عنوان د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون د ۱۳۹٦ کال په (۱۲٦۹) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د تعدیل په دویمه ماده کې د (مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز) عنوان باندې بدل شوی دی.

څارونکې مراجع معرفي کېږي (لومړی مطلب) او د هغه په تعقیب سره د نوموړو مواجعو صلاحیتونه چې څارنیز تدبیرونه هم دي، مشخص کېږي (دویم مطلب).

## لومړی مطلب: څارونکې مراجع:

د پیسو وینځلو څخه د مخنیوي قانون د ۳مې مادې ۴ فقرې څارونکې مراجع داسې تعریف کړي دي:

**« څارونکې واکمنې مراجع: د دې قانون د درج شوو حکمونو د رعایتولو د څارنې مسؤلې مراجع دي چې په کې د افغانستان بانک، وزارتونو یا دولتي ادارو او په اړوندې مقررې کې مندرج نور اشخاص شامل دي.»**

د مالي مؤسسو او بانکونو پر فعالیتونو د څارونکو مراجعو په سر کې د افغانستان بانک قرار لري. خو تر ټولو مهم څارونکې اداره د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز (FinTRACA) څخه عبارت ده چې د افغانستان د مالي استخباراتو واحد په توګه دنده ترسره کوي. د دې دوو ادارو ترڅنګ ځینې نور وزارتونه هم د څارونکې مراجعو په توګه عمل ترسره کوي، لکه د مالیې وزارت د ګمرکونو ریاست د هغو شتمنیو په برخه کې چې د افغانستان له پولو څخه دباندې او یا افغانستان ته راننوځي. د یادونې وړ ده چې رپوټ ورکوونکې مراجع چې د پیسو وینځلو د مخنیوي قانون په پنځمه ماده کې له هغو څخه یادونه شوې ده، سربېره پردې چې پر خپلو پېرېدونکو څارنه کوي، خو د څارونکو مرجعو برخه نه ګڼل کېږي. بلکه په خپله د څارونکو مراجعو لخوا څارل کېږي[1].

د (۱۹۹۳) کال د تروریزم تمویل څخه د مخنیوي اجراآتو مقررې د ۱۸مې مادې له ۱ فقرې سره سم څارونکې مراجع مکلفې دي لږ تر لږه په کال کې یو ځل د ټولو رپوټ ورکوونکو مراجعو له کارونو او فعالیت څخه څارنه وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د هغوی قانوني مکلفیتونه عملي کوي. د کلنۍ څارنې ترڅنګ، موردي څارنه هم د هغوی له لورې د ګډوډۍ د تشخیص او یا د رپوټ موندلو پرمهال ترسره کېږي. د نوموړې مقررې ۱۹مه ماده داسې صراحت لري: « **که چېرې څارونکې مراجع تشخیص**

[1] - د پیسو وینځلو څخه د مخنیوي قانون د ۱۴مې مادې ۳ فقرې څخه لیدنه دې وشي.

**کړي چې شخص د دې مقررې له رعایتولو څخه ډډه کړې وي یا د هغه په تطبیق کې یې ځنډ کړی وي، کولای شي د هغې څارنې د اقدام په مورد کې چې د هغه د صلاحیت په حدودو کې دی، ترسره کړي».**

## دویم مطلب: د څارونکې مراجعو واکونه:

د پیسو وینځلو د مخنیوي قانون ۲۲مه ماده د څارونکې مراجعو واکونه داسې بیان کړي دي:

**« (۱)څارنیزې واکمنې مرجع د دې قانون په دویم فصل، د تروریزم له تمویل څخه د مخنیوي قانون، مقررو، کړنلارو او د نوموړو قوانینو د حکمونو پر بنسټ، د راپوټ ورکوونکو مراجعو په واسطه په صادره لارښودونو کې د درج شوو مکلفیتونو له په پام کې نیولو څخه په تنظیم، څېړنې او څارنې مکلفه ده او لاندې دندې او واکونه لري:**

**۱- د راپوټ ورکوونکې مرجع او اړوند سکتور په کچه د شته خطرونو د تشخیصولو، ارزولو او څارلو لپاره د اړتیا له مخې یه په دوره یي توګه د خطرونو د ارزونې ترسره کول او د خطرونو د اغېزناکه کنټرول او اداره کولو په خاطر د کافي تدبیرونو نیول.**

**۲-د دې مادې د لومړۍ فقرې په لومړي جزء کې د درج شوي حکم اجراء کولو ته د راپوټ ورکوونکو مراجعو مکلف کول.**

**۳-د راپوټ ورکوونکو مراجعو د فعالیتونو د څارلو او مراقبت په منظور له دې مراجعو څخه د اړوند معلوماتو او نورو اطلاعاتو راټولول او د هغوی له خوا د دې قانون د حکمونو له پام کې نیولو څخه څارنه.**

**٤-د دې قانون او د تروریزم له تمویل څخه د مخنیوي د قانون د حکمونو له په پام کې نیولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور د ساحوي څېړنو او له ساحې څخه بهر د مراقبتونو ترسره کول.**

**٥-د اړتیا وړ معلوماتو وړاندې کولو ته د راپوټ ورکوونکو مراجعو مکلف کول او د هغوی له سندونو، سوابقو او دوسیو څخه د کاپۍ اخیستل که څه هم چې د هغوی له دفترونو څخه بهر وي.**

**٦-د دې قانون له حکمونو څخه د درغلۍ په صورت کې پر راپوټ ورکوونکو مراجعو باندې د تدبیرونو تطبیق کول او د مؤیداتو وضع کول او د معاملو او مالي راپوټونو د شننې مرکز ته د راپوټ وړاندې کول.**

**۷- د راپوټ ورکوونکو مراجعو د مکلفیتونو د رعایتولو د ښه عملي کولو لپاره د کړنلارو، لارښودونو، پالیسیو او متحدالمالونو صادرول.**

۸-له کورنیو او بهرنیو واکمنو مراجعو، د پیسو د وینځلو، د تروریزم د تمویلولو یا له اصلي جرمونو سره د مبارزې له مسؤل سره همکاري او د معلوماتو شریکول.
۹- په مالي مؤسسو او غیر مالي او مسلکي تشبثاتو کې مېشتو او غیر مېشتو تابع شرکتونو او فروعو په واسطه د پیسو د وینځلو او د تروریزم له تمویل سره د مبارزې په برخه کې د دې قانون د حکمونو له په پام کې نیولو څخه د ډاډ ترلاسه کول. په دې جزء کې درج شوي تدبیرونه تر هغو حدودو پورې تطبیق کېږي چې د کوربه هېواد د قوانینو له مخې جواز ولري.
۱۰-د مالي استخباراتو واحد ته د هغو معاملو یا کړه معلوماتو په اړه بیړني خبر ورکول چې د پیسو د وینځلو او د تروریزم د تمیول یا اصلي جرمونو سره اړیکه ولري.
۱۱-د مالي مؤسسو د مدیره د هیئت، د عامل هیئت او د څارنې د هیئت د غړو په تجربې او اهلیت پورې اړوندو معیارونو د کیفیت د څېړنې د پروسو رامنځته کول او تطبیقول.
۱۲- د رپوټ ورکونکو مراجعو ته د جواز یا اجازه لیک د ثبت او صادرولو په وخت او د مالکیت د کسبولو د منظورۍ په وخت، په تأسیس کې د مستقیم یا غیر مستقیم ګډون یا کنټرول، د رپوټ ورکوونکو مراجعو د سهام د انتفاعي مالکیت په ګډون د رپوټ ورکوونکې مرجع د سوداګریزو فعالیتونو اداره کولو او عملیاتو یا د دې اقداماتو د ترسره کولو لپاره له بلې واکمنې مرجع څخه د غوښتنې په برخه کې د وړ او مناسب معیارونو ترتیب او تطبیق کول.
۱۳-د څارنیزو مراجعو له تجویز سره سم د نیول شوو تدبیرونو او وضع شوو تعزیراتو په تړاو د احصائیو ساتل.
۱۴- د پېرېدونکو د پېژنګلوۍ د تثبیتولو د اتخاذ وړ تدابیر او د پېرېدونکو د پېژندګلوۍ د تثبیتولو د شدیدو تدابیرو د ډول او حدودو ټاکل چې باید د دې قانون په دوه یم فصل کې د درج شوو حکمونو له مخې د پیسو د وینځلو یا د تروریزم د تمویل د خطر له اندازې سره متناسب او د تشبث له لوی والي سره برابر د رپوټ ورکوونکو مراجعو لخوا اتخاذ شي.
۱۵- د معلوماتو او د مالي رپوټونو د شننې مرکز کولای شي چې د معلوماتو په مشکوک والي یا څېړنې پورې د اړه لرنې پر بنسټ د منلو وړ دلیلونو د شتونتیا په صورت کې، د دې قانون د حکمونو د نه تطبیق کېدو یا د پیسو د وینځلو یا د تروریزم د تمویل د جرم د ارتکاب هر ډول مستقیم معلومات یا هغه معلومات چې د دې قانون د درج شوو حکمونو له مخې د کتنو او څېړنو په پایله کې ترلاسه شوې وي،

**د دې قانون په یو دېرشمه ماده کې له درج شوي حکم سره په مطابقت کې د داخلي او بهرني واکمنو مراجعو ته دې، وړاندې کړي».**

رپوټ ورکوونکې مراجع مکلفې دي ترڅو له څارونکې مراجعو سره همکاري وکړي، پرته له دې د هغوی عمل جرم ګڼل کېږي او نوموړې مراجع به د جزا کود له ۵۰۴مې مادې سره سم د عدلي تعقیب وړ وي. د جزا کود ۵۰۴مه ماده په دې اړه داسې صراحت لري: « **هغه شخص چې د پیسو د سپینولو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي له قانون سره سم، له نظارتي واکمنو مراجعو سره په همکارۍ مکلف وي، د نظارتي واکمنو مراجعو په وړاندې د خپلو قانوني مکلفیتونو له اجراء څخه عمداً ډډه وکړي، په قصیر حبس او له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي».**

## دویم مبحث: د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې جزایي تدبیرونه:

د پیسو وینځلو جرم پر وړاندې د مناسب برخورد له مهمو مسایلو څخه یو د پیسو وینځلو جرم او هغو کړنو سره متناسب جزایي غبرګون دی چې د دې جرم زمینه برابروي. له همدې کبله، د پیسو وینځلو د جرم انګارۍ او د هغه مرتکبینو ته د مجازاتو ټاکلو ترڅنګ، یو شمېر کړنې یې چې د ماهیت له پلوه د پیسو وینځل نه ګڼل کېږي، د پیسو وینځلو جرم په فصل کې جرم انګاري کړي دي، ځکه چې دا کړنې د پیسو وینځلو جرم ته زمینه برابروي. په دې مبحث کې دواړه ډول جزایي تدبیرونه څېړل کېږي: لومړۍ وینا: د پیسو وینځلو جرم ته پېشبیني شوي جزایي تدبیرونه، او دویمه وینا: د پیسو وینځلو جرم پورې اړوند جرمونو ته پېشبیني شوي جزایي تدبیرونه.

باید وویل شي چې په ۱۳۹۳ کال کې په (۱۱۴۲) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون له پنځوسمې تر څلور پنځوسمې مادو پورې چې د مجازاتو وړ جرمونو حکمونه، د حکمي او حقیقي اشخاصو مجازات، د جنایت کوونکي سازمان د غړي مجازات او د پیسو د وینځلو جرم مشدده او مخففه احوال په بر کې نیسي، د ۱۳۹۶ کال د جزا کود په انفاذ سره لغوه شوی دی او د جزا کود د دویم کتاب د شپږم باب په دویم فصل کې په ۴۹۸ تر ۵۰۹ مادو کې د پیسو د وینځلو جرم او د هغه اړوند جرمونه او د هغه د مرتکبینو مجازات که هغه حقیقي او حکمي اشخاص وي، پېشبیني کړي دي چې هر یو یې لاندې په جلا ډول تر بحث لاندې نیسو.

## لومړی وینا: د پیسو د وینځلو جرم مجازات:

د پيسو د وينځلو جرم جزا د هغه د مرتکب شخص له نوعيت سره سم که حقيقي او يا حکمي وي، توپير لري.

## لومړی مطلب: د حقيقي شخص مجازات:

د جزا کود په ۴۹۹مه ماده کې د حقيقي شخص لخوا د وينځل شوو پيسو اندازه، د هغه د مجازاتو لپاره معيار په نظر کې نيول شوی دی؛ يعنې هر څومره چې د جرم موضوع د وجوه يا شتمنۍ اندازه لوړه وي، په هماغه اندازه د هغه د مرتکب جزا هم لوړيږي.

د حقيقي شخص د پيسو د وينځلو جرم جزا د جزا کود په ۴۹۹مه ماده کې په دريو ډلو وېشل شوې ده: لومړۍ: يوازې نغدي جزا، دويمه: نغدي جزا يا حبس، درېيمه، يوازې حبس. له دې مواردو څخه هر يو يې په جلا ډول توضيح کېږي.

### لومړۍ ډله: د حقيقي شخص د پيسو د وينځلو جرم نغدي جزا:

د جزا کود د ۴۹۹مې مادې ۱ جزء ته په کتو، په هغه صورت کې چې د جرم د موضوع د وجوه يا شتمنۍ اندازه له يوې افغانۍ تر سلو زرو افغانيو وي، مرتکب تر سلو زرو افغانيو په نغدي جزا مجازات کېږي. يعنې له پنځوسو زرو تر سلو زرو افغانيو چې د نغدي مجازاتو اقل حد د جزا کود د ۱۴۰مې مادې د ۲ فقرې پر بنسټ پنځوس زره افغانۍ دی. د ۴۹۹مې مادې ۱ جزء داسې صراحت لري: «**۱- په هغه صورت کې چې د وجوهو يا شتمنۍ اندازه تر سلو زرو افغانيو پورې وي، تر سلو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا** ».

### دويمه ډله: د حقيقي شخص د پيسو د وينځلو جرم نغدي جزا يا حبس:

د جزا کود د ۴۹۹مې مادې ۲ جزء ته په کتو، په هغه صورت کې چې د جرم د موضوع وجوه يا شتمني له سلو زرو څخه زياته تر يو ميليون افغانيو پورې وي، مرتکب د قصير حبس په اقل حد يا له سلو زرو څخه زيات تر يو ميليون افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

قانون جوړوونکي د حبس د جزا او د نغدي جزا ترمنځ د ټاکلو واک قاضي ته ورکړی دی، قاضي سره د د ټاکلو معیار باید داسې وي چې له دې دواړو جزاګانو څخه هره یوه چې تر ډېره بریده د محکوم علیه په اصلاح کې مرسته کوي، هغه وټاکي. په دې معنی چې د جرم او مجرم اړوند اوضاع او احوال د دواړو جزاګانو څخه د یوې د ټاکنې پرمهال په نظر کې ونیول شي. معمولاً د پیسو د وینځلو جرم مرتکبینو لپاره نغدي جزا داسې مؤثره نه برېښي، ځکه چې هغوی پیسې لري او په راحتۍ سره د نغدي جزا له عهدې څخه وتلای شي، نو د حبس جزا به د هغوی لپاره مناسبه وي.

**(۱۴) څوارلسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د نغدي جزا په اړه، تاسو د جزا کود د ۴۹۹مې مادې په ۲ جزء کې د درج شوي عبارت په رڼا کې: «.. یا له سلو څخه زیاته تر یو میلیون افغانیو پورې نغدي جزا»، لاندې پوښتنې ته ځواب ورکړئ:

**پوښتنه:** (x) شخص د یو سلو لس زره افغانیو (۱۱۰,۰۰۰) د پیسو د وینځلو په جرم مرتکب شوی او (y) شخص د یو میلیون افغانیو (۱,۰۰۰,۰۰۰) د پیسو د وینځلو په جرم مرتکب شوی دی. د هر یو جزا د جزا کود د ۴۹۹مې مادې په ۲ جزء کې د درج شوي حکم سره سم مشخصه کړئ؟

**درېيمه ډله: د حقیقي شخص د پیسو د وینځلو جرم لپاره د حبس جزا:**

د جزا کود د ۴۹۹مې مادې ۴، ۴ او ۵ جزؤنو ته په کتو، که د شتمنۍ اندازه له یو میلیون افغانیو او یا د هغه معادل څخه ډېره وي، د جرم مرتکب په لاندې ډول مجازات کیږي:

- په هغه صورت کې چې د جرم د موضوع وجوهو یا شتمنۍ اندازه له یو میلیون څخه زیاته تر پنځو میلیونو افغانیو پورې وي، مرتکب تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس محکومیږي (د جزا کود د ۴۹۹مې مادې ۳ جزء).
- په هغه صورت کې چې د جرم د موضوع وجوهو یا شتمنۍ اندازه له پنځو میلیونو څخه زیاته تر لس میلیونو افغانیو پورې وي، له دریو کلونو څخه زیات په متوسط حبس (د جزا کود د ۴۹۹مې مادې ۴ جزء).

- په هغه صورت کې چې د جرم د موضوع وجوهو یا شتمنۍ اندازه له لسو میلیونو څخه زیاته وي، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس محکومېږي (د جزا کود د ۴۹۹مې مادې ۵ جزء).

که چېرې حقیقي شخص د سازمان موندلې ډلې د رئیس او یا غړي په توګه د پیسو د وینځلو جرم مرتکب شي، نو د جزا کود د ۵۰۸مې مادې له ۱ جزء سره سم په طویل حبس او له پنځه سوو زرو څخه تر دوه میلیونو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

د پورته ذکر شوو مجازاتو سربېره، محکوم علیه که جرم یې تام وي او یا د پیسو د وینځلو په جرم پیل او حتی هغه شخص چې په اصلي جرم محکوم شوی وي، د جزا کود په ۵۰۹مې مادې کې د درج شوو حکمونو سره سم په مصادره هم محکومېږي. د جزا کود د ۵۰۷مې مادې سره سم، په هغه صورت کې چې د فعالیت جواز ولري او د پیسو د وینځلو په فصل کې په درج شوو جرمونو له یو ځل څخه زیات مرتکب شوی وي، له یو څخه تر پنځو کلونو پورې د فعالیت د جواز په سلبولو سره هم محکومېږي. ظاهراً د فعالیت له جواز څخه مراد د تجارتي فعالیت جواز دی. په پای کې دا چې که شرایط بشپړ شي، پر محکوم علیه تبعي او تکمیلي مجازات هم تطبیق کېدلای شي.

## دویم مطلب: د حکمي شخص مجازات:

حکمي شخص په لاندې شرطونو سره د پیسو د وینځلو په جرم محکومېدلای شي:

۱. جرم د حکمي شخص د رئیس، ممثل او قانوني استازي لخوا ترسره شوی وي؛

۲. جرم د حکمي شخص په نوم، په حساب او یا د هغه په ګټه ارتکاب شوی وي.

له همدې کبله، که د حکمي شخص نور کارکوونکي د پیسو د تطهیر جرم مرتکب کېږي، حکمي شخص د هغوی مسؤولیت نه لري چې په دې صورت کې د ۵۰۰مې مادې له ۳ فقرې سره سم حکمي شخصیت مسؤولیت لري.

همدارنګه که د حکمي شخص رئیس، ممثل او یا قانوني استازی شخصاً د پیسو د وینځلو جرم مرتکب کېږي او د هغوی جرم له حکمي شخص سره هیڅ اړیکه ونه لري، حکمي شخص مسؤولیت نه لري، ځکه چې جرم یو شخصي عمل دی. یوازې هغه وخت حکمي شخص د هغوی د اعمال مسؤولیت ترلاسه کوي چې جرم د حکمي شخص په نوم او یا د هغه په حساب او یا ګټه ترسره شوی وي.

د جزا کود ۵۰۰مې مادې د حکمي شخص د پیسو د وینځلو جرم جزا په دوو ډلو وېشلې ده؛ نغدي جزا او غیر نغدي جزا)، د موضوع تفصیل په لاندې ډول دی:

**لومړۍ ډله: د حکمي شخص د پیسو د وینځلو جرم نغدي جزا:**

د حکمي شخص نغدي جزا د پیسو د وینځلو جرم د موضوع شتمنۍ له معادل اندازې څخه عبارت ده. یعنې که چېرې د جرم د موضوع د وجوهو یا شتمنۍ اندازه پنځوس زره افغانۍ وي، حکمي شخص د پنځوس زرو افغانیو په نغدي جزا محکومېږي او که چېرې اندازه یې سل زره وي، په سل زره افغانیو او په همدې ترتیب. د جزا کود د ۵۰۰مې مادې (۱) فقره داسې صراحت لري: «**که چېرې د پیسو سپینولو جرم د حکمي شخص د رئیس، ممثل یا قانوني نماینده په واسطه د حکمي شخص په نوم، حساب یا منفعت ارتکاب شوی وي، حکمي شخص د وجوهو یا شتمنۍ د اندازې معادل، په نغدي جزا محکومېږي**».

| (۱۵) پنځلسم فعالیت |
| --- |
| **مباحثوي پوښتنه:**<br>د جزا کود د ۵۰۰مې مادې ۱ فقره چې پورته ذکر شوې ده، مطالعه کړئ او ووایاست چې آیا د ممثل او قانوني استازي ترمنځ توپیر شتون لري یا نه؟<br>**احتمالي ځواب:**<br>- د یو نظر له مخې، قانوني استازی او ممثل له یو بل سره توپیر لري؛ په دې توضیح سره چې قانوني استازی هغه شخص دی چې د حکمي شخص له ټولو چارو څخه استازیتوب کوي، خو ممثل هغه شخص چې له حکمي شخص څخه له اړوندو چارو څخه په یوه کې تمثیل کوي، نو د قانوني استازي واکونه له ممثل څخه زیات کېدلای شي، خو هر ممثل قانوني استازی نه شي کېدلای.<br>- بله نظر دا دی چې قانوني استازی او ممثل په ماهیت کې له یو بل سره توپیر نه لري، هغه څه چې توپیر لري، د اصلاحاتو کارول دي، دا دوه اصطلاحات د واحد شخصیت لپاره اطلاق کېږي.<br><br>**په دې اړه ستاسو نظر څه دی؟** |

**(۱٦) شپاړلسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

آیا د حکمي شخص رئیس یا قانوني استازی چې د پیسو د وینځلو په جرم د شرکت په نوم، حساب یا منفعت مرتکب شوی وي، جزايي مسؤولیت لري یا نه؟

که جزايي مسؤولیت لري، نو جزا يې څه او څومره ده؟

**فرعي پوښتنې:**

۱- د (x) شرکت رئیس د دې شرکت په نوم، نږدې اته میلیونه افغانۍ سپینې کړې دي. د قانون په استناد د هغه جزا مشخص کړئ؟

۲- د (z) شرکت قانوني استازي د دې شرکت په حساب دولس میلیونه افغانۍ سپینې کړې دي. د هغه جزا د قانون په استناد سره مشخص کړئ؟

**دویمه ډله: د حکمي شخص د پیسو د وینځلو جرم غیر نغدي جزا:**

د جزا کود د ۵۰۰مې مادې (۲) فقرې د حکمي شخص د پیسو د وینځلو جرم غیر نغدي جزا له لاندې جزاگانو څخه **یوه** پېشبیني کړې ده:

۱- تر پنځو کلونو پورې په جرم پورې د مرتبط تجارتي (سوداگریز) فعالیت د **ځینو** برخو له پرمخبېولو څخه ممنوعیت. په دې معنی چې د هغه فعالیت په بشپړ ډول نه ودرېږي، بلکه محدودېږي. البته که پر هماغه فعالیت محدودیت رامنځته کېږي چې په هغه کې د پیسو د وینځلو تکرار متصور دی؛ **یا**

۲- د حکمي شخص انحلال، په هغه صورت کې چې له لاندې دوو شرطونو څخه یو:

- حکمي شخصیت د پیسو د وینځلو جرم د ارتکاب په منظور رامنځته شوی وي؛ **یا**
- حکمي شخصیت ورته اجازه ورکړې وي چې د هغه له امکانانو او شتمنیو څخه د پیسو د وینځلو په جرم کې گټه واخلي؛

۳- د ټولنیزو رسنیو له لارې د حکم خپرول.

قاضي له پورته ذکر شوو جزاګانو څخه د یوې د ټاکلو صلاحیت لري او په هیڅ صورت حکمي شخص په دوو یا دریو پورته ذکر شوو جزاګانو نه محکومېږي. خو د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې د قاضي پر وړاندې د غیر نغدي جزاګانونو څخه د یوې د ټاکلو معیار څخه دی؟ په دې کې هیڅ شک نشته چې د حکمي شخص د انحلال جزا نسبت نورو دوو جزاګانو ته شدیده وي، نو آیا قاضي له هغوی څخه تر ټولو شدیده هغه ټاکي؟ دا به غوره وي چې قاضي د مجازاتو موخه او د جرم او مرتکب اړوند اوضاع او احوال په نظر کې ونیسي او مناسبه جزا وټاکي په داسې ډول چې عدالت د هغه په غوره وجهې سره تأمین شي.

اوسمهال له پورته ذکر شوو جزاګانونو څخه د یوې په اړه (د جزا کود د ۵۰۰مې مادې په (۲) فقره کې درج شوي ۱، ۲ او ۳ جزؤنه) لنډ وضاحت وړاندې کېږي:

**۱- په جرم پورې د مرتبط تجارتي (سوداګریز) فعالیت د ځینو برخو له پرمخبېولو څخه ممنوعیت:** د "ځینو" کلمه ګونګه ده او قانون جوړوونکي د هغه قصد او موخه مشخص کړې نه ده، بکله هغه یې د قاضي صلاحیت ته سپارې ده ترڅو قاضي په جرم پورې اړوند سوداګریز فعالیتونه وڅېړي او هغه فعالیت ممنوع کړي چې د پیسو د وینځلو جرم له هغه سره ډېره اړیکه درلودلې وي.

| (۱۷) اوولسم فعالیت |
| --- |
| **مباحثوي پوښتنه:**<br>د طرحې وړ پوښتنه دا ده چې آیا قاضي واک لري د جرم اړوند یو تجارتي فعالیت څخه زیات یا د جرم اړوند ټول تجارتي فعالیتونه ممنوع کړي؟<br><br>**احتمالي ځواب:**<br>د "ځینو" کلمه د جزا کود د ۵۰۰مې مادې د (۲) فقرې په ۱ جزء کې داسې درک کېږي چې قاضي د جرم اړوند ټول تجارتي فعالیتونه نه ممنوع ګرځوي، ځکه چې د "ځینو" کلمه د یوې برخې نه د ټولو معنی وړاندې کوي.<br>خو په دې اړه چې آیا قاضي کولای شي له یو فعالیت څخه زیات ممنوع کړي؟<br>ځواب هو دی، ځکه چې څو فعالیتونو ته ځیني ویل کېږي خو په دې شرط چې له یو فعالیت څخه د زیاتو ممنوعیت ټول فعالیتونه په بر کې ونه نیسي. |

**کتنه:** تاسو د پورته پوښتنې او د هغه د احتمالي ځواب په اړه څه نظر لرئ؟ خپل نظر مطرح کړئ او له یو بل سره د هغه په اړه خبرې وکړئ.

**۲- د حکمي شخص انحلال:** د حکمي شخص انحلال د قاضي پر وړاندې له ټاکنو څخه یو د جزا کود د ۵۰۰مې مادې په (۲) فقره کې پېشبیني شوی دی، خو زموږ په نظر دا یوه ټاکنه د دوو نورو ټاکنو ("د جرم اړوند تجارتي فعالیت ممنوعیت" او "د حکم خپرول") ترمنځ نه دی، بلکه یو جلا حالت دی او خپل ځانګړي شرطونه لري. تاسو د جزا کود د ۵۰۰مې مادې د (۲) فقرې د ۲ جزء متن ته چې د انحلال حالت یې ذکر کړی دی، دقت وکړئ، په دې متن کې راغلي دي: «د حکمي شخص انحلال، په هغه صورت کې چې د پیسو د سپینولو د جرم د ارتکاب په منظور رامنځته شوی وي یا د پیسو د سپینولو جرم د ارتکاب لپاره له امکاناتو او اړوندو شتمنۍ څخه د ګټې اخیستنې اجازه ورکړي.» نوموړی متن داسې معنی لري چې که حکمي شخص په همدې منظور چې په متن کې ذکر شوی دی، رامنځته شوی وي، په هغه صورت کې حکمي شخص باید منحل شي. له همدې کبله، د حکمي شخص انحلال په داسې مورد کې یو حتمي امر دی، نه یوه ټاکنه، چې قاضي له دوو نورو ټاکنو څخه هغه وټاکي، دقت وکړئ.

په هغه صورت کې چې حکمي شخص د پیسو د وینځلو جرم او یا د پیسو د وینځلو جرم د فصل له جرمونو څخه د یو له یو ځل څخه زیات مرتکب شوی وي، تر پنځو کلونو پورې د فعالیت جواز په سلبولو سره محکومېږي. او همدارنګه په ۵۰۹مه ماده کې د درج شوې مصادرې حکمونه هم تطبیقېږي. او په پای کې دا چې که حکمي شخص د جرمي سازمان موندلې ډلې پورې تړلی وي، د جزا کود د ۵۰۸مې مادې له ۲ جزء سره سم منحل کېږي او د هغه ټولې شتمنۍ مصادره کېږي.

## دویمه وینا: د پیسو د وینځلو جرم اړوند جرمونو مجازات:

د پیسو د وینځلو جرم اړوند جرمونو څخه مراد هغه جرمونه دي چې د پیسو د وینځلو تر تعریف لاندې نه راځي او قانون جوړوونکي هغه د پیسو وینځل نه دي ګڼلي، خو د هغې اړیکې په سبب چې د پیسو د وینځلو له جرم سره یې لري، قانوني جوړوونکي هغه د پیسو د وینځلو جرم په فصل کې راوړي دي. دا

جرمونه د پیسو د وینځلو ځخه د مخنیوي په قانون کې خورا زیات وو. خو جزا کود د هغه له مواردو ځخه یوازې په ځو په خپل ځان کې رانغاړلي دي. دا جرمونه عبارت دي له:

## لومړی مطلب: د مشکوکې معاملې د رپوټ نه اطلاع ورکول:

شکمنې معاملې د پیسو د وینځلو ځخه د مخنیوي قانون په ۱۸مه ماده کې تعریف شوې دي. وړاندې د دې برخې د لومړي مبحث په لسم مطلب کې د هغه په اړه په تفصیل سره بحث وشو او واضح کړل شوه چې رپوټ ورکوونکې مراجع مکلفې دي، د دې معاملو په اړه د معاملو او مالي راپورونو د شننې مرکز ته رپوټ ورکړي. د جزا کود ۵۰۱مه ماده په دې اړه داسې صراحت لري:

**«(۱) که چیرې د رپوټ ورکونې د مرجع مؤظف، د مشکوکې معاملې رپوټ اړوندو مراجعو ته اطلاع نه کړي، تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس یا له شپېتو زرو ځخه تر یو سلو شلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا یا په دواړو جزاګانو محکومېږي.**

**(۲) رپوټ ورکوونکې مرجع د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې له یو سلو شلو زرو ځخه تر پنځه سوو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي».**

لاندې د دې جرم عناصر او مجازات بیانېږي:

### لومړۍ فرعه: د مشکوکې معاملې د رپوټ نه اطلاع ورکولو جرم عناصر:

**الف: مادي عنصر:**

دا جرم له مطلق امتناعي جرمونو ځخه دی. نو د هغه مادي عنصر د فعل د ترک، د جرم موضوع، د مرتکب صفت او هغه اړخ چې فعل ښایي ورته ترسره شي، عبارت دی چې هر یو یې په لاندې ډول بیانېږي.

**د فعل ترک:** د اطلاع نه ورکونې ځخه عبارت دی.

**د جرم موضوع:** له مشکوکو معاملو څخه عبارت ده. نو د اطلاع نه ورکونه هغه وخت دا جرم رامنځته کوي چې موضوع یې مشکوکې معاملې تشکیل کړي. د اطلاع نه ورکونه د دې جرم نور موضوعات نه رامنځته کوي بلکه له احوالو سره سم ښایي هیڅ جرم نه وي او یا ښآیي بل جرم رامنځته کړي.

**د مرتکب صفت:** دا جرم هغه وخت رامنځته کېږي چې د فعل د ترک عامل د رپوټ ورکوونکو مراجعو څخه د یوې د رپوټ ورکونې مسؤول مؤظف وي. د یادونې وړ ده چې د رپوټ نه ورکونه همغه ډول چې د مؤظف لپاره مسؤولیت رامنځته کوي، په خپله رپوټ ورکوونکې مرجع ته هم جزایي مسؤولیت رامنځته کوي.

**هغه خوا چې ښایي رپوټ ورته وړاندې شي:** د معاملو او مالي راپورونو د شننې له مرکز (FinTRACA) څخه عبارت ده. په دې اساس که مسؤول مؤظف بل اړخ ته پرته له دې ادارې څخه رپوټ ورکړي، د هغه مسؤولیت نه نفي کېږي.

له کومه ځایه چې دا جرم له مطلق ډول څخه دی، نو په دې کې پایله او د سببیت اړیکه د تصور وړ نه دي.

**ب: معنوي عنصر:**

د دې جرم په معنوي عنصر کې عمد او خطا شاملېږي. نو له همدې کبله، د رپوټ نه ورکول که عامدانه او آگاهانه وي او یا له خطا څخه را ولاړه شوې وي، بیا هم دا جرم رامنځته کېږي.

**دویمه فرعه: د مشکوکو معاملو د رپوټ نه اطلاع ورکولو جرم مجازات:**
د اطلاع نه ورکول د دوو اشخاصو لپاره جزایي مسؤولیت رامنځته کوي:

**الف: حقیقي شخص:** مسؤولي مؤظف چې باید رپوټ یې ورکړی وای، خو ورکړی یې نه دی، د قاضي د لزوم دید سره سم له لاندې درې جزاگانو څخه په یوې مجازات کېږي:

- متوسط حبس؛ یا
- له شپېتو زرو څخه تر یو سلو شل زرو افغانیو پورې نغدي جزا؛ یا

- دواړه پورته جزاګانې.

**ب: رپوټ ورکوونکې مرجع:** په خپله رپوټ ورکوونکې مرجع له یو سلو شلو زرو څخه تر پنځه سوه زرو افغانیو پورې په نغدي جزا مجازات کېږي.

د جرم د تکرار په صورت کې، جواز لرونکي حقیقي او حکمي اشخاص له ۵۰۷مې مادې سره سم تر پنځو کلونو پورې د فعالیت جواز په سلبولو سره هم محکومېږي.

## دویم مطب: د پیسو د وینځلو په جرم کې د سندونو له منځه وړلو یا تزویر جرم:

د رسمي سندونو له منځه وړلو جرم او تزویر جرم، دوه هغه جرمونه دي چې په بېلابېلو برخو کې د هغوی رامنځته کېدل د تصور وړ دي. له دې برخو څخه یوه یې د پیسو د وینځلو برخه ده. که چېرې دا دوه جرمونه په نورو بخشونو کې واقع شي، نو د جزا کود له ۴۵۸ څخه تر ۴۶۰ مادو (د رسمي سندونو د له منځه وړلو په برخه کې) او له ۴۳۶ څخه تر ۴۴۴ مادو (د تزویر په برخه کې) سره سم ورته رسیده ګي کېږي. خو که نوموړي جرمونه د پیسو د وینځلو په برخه کې واقع شي، نو د نوموړو مادو سربېره د جزا کود ۵۰۲مه ماده چې په کې د مجازاتو اکثر حد پېشبیني شوی دی، هم تطبیقېږي.

د جزا کود ۵۰۲مه ماده په دې اړه داسې صراحت لري:

**« (۱) هغه شخص چې د پیسو د سپینولو د جرم په اړوند له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي، په دې قانون کې د رسمي سندونو د اتلاف د جرم او یا د تزویر د جرم د پېشبیني شوو مجازاتو په اکثر حد محکومېږي:**
**۱- د سندونو او سوابقو د ثبت او راجستر دفترونه چې د پیسو د سپینولو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي د قانون له حکمونو سره سم د ساتلو وړ وي، عمداً ناقص یا له منځه یوسي.**
**۲- قبالې یا سندونه د هغو له تزویرتوب څخه په خبرتیا سره اړوندو مراجعو ته وړاندې کړي.**
**(۲) که چېرې د دې مادې په ۱ او ۲ اجزاوو کې درج شوي جرمونه د پیسو سپینولو او له جرمونو څخه د را پیدا شوو عوایدو د مخنیوي په قانون کې د درج رپوټ ورکوونکو مراجعو په واسطه ارتکاب شي، مرتکب له یو میلیون څخه تر پنځو میلیونو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي».**
لیدل کېږي چې د پورته مادې په لومړۍ فقره کې دوه ډوله جرمي کړنې ذکر شوي دي:

لومړی: د ځانګړو سندونو اتلافول (د سندونو او سوابقو د ثبتولو او راجسټرولو دفترونه).

دویم: مزور سند کارول (قبالې یا سندونه).

خو په مجازاتو کې، د دې پرځای چې د لومړی کړنې لپاره د سندونو د اتلاف اکثر حد مجازات او دویم حالت لپاره د مزور سند کارولو د مجازاتو اکثر حد پېشبیني کړي، نو په مطلق ډول ذکر شوي دي چې د نوموړو کړنو مرتکب « **د رسمي سندونو د اتلاف د جرم او یا د تزویر د جرم د پېشبیني شوو مجازاتو په اکثر حد محکومېږي**». سربېره پردې، لیدل کېږي چې د قانون جوړوونکي هدف دا نه دی چې له دې دوو جزاګانو څخه هر یو د ذکر شوو کړنو څخه د هر یو لپاره د تطبیق وړ دي. بلکه د قانون جوړوونکي هدف دا دی چې د سندونو د تلف کوونکي لپاره د رسمي سندونو د اتلاف د مجازاتو اکثر حد او د مزور سند وړاندې کوونکي ته د تزویر د جرم د مجازاتو اکثر حد په نظر کې نیول کېږي.

**انتقادي فکر/نیوکه**

د تزویر جرم د جزا کود په ۴۳٦ څخه تر ۴۴۴ مادو کې او د رسمي سندونو د اتلاف جرم د جزا کود په ۴۵۸ څخه تر ۴٦۰ مادو کې تنظیم شوي دي. نوموړو مادو ته په کتو سره لیدل کېږي چې له دوی څخه هر یو واحد مجازات نه لري ترڅو د هغوی اکثر حد په دې ځای کې تطبیق شي، بلکه د هغوی بېلابېلو حالاتو لپاره بېلابېل مجازات پېشبیني شوي دي. نو هغه پوښتنه چې مطرح کېږي، دا ده چې په دې ځای کې د کوم حالت اکثر حد تطبیقېږي؟ د قانون جوړوونې له فنونو سره سم عموماً دا ډول احاله (رجوع کول) هغه وخت صورت نیسي چې د جرم مصداق د تغییر وړ وي، او قانون جوړوونکی وغواړي پېشبیني کړي چې د سندونو د تزویر یا اتلاف له حالاتو څخه هر هغه حالت چې د پیسو د وینځلو په جرم کې واقع کېږي، د هماغه حالت اکثر حد په نظر کې ونیول شي. خو په دې ځای کې قضیه داسې نه ده. ځکه چې د جزا کود په ۵۰۲ ماده کې د درج جرم حالات خورا مشخص دي او غوره به وای چې قانون جوړوونکي جزا مشخص کړې وای او احالې ته اړتیا نه وه. د سندونو د اتلاف په برخه کې یوازې د ۴۵۸مې مادې ۵ فقره د تطبیق وړ ده او د تزویر په برخه کې ۴۴۳ مه ماده د تطبیق وړ ده، ځکه چې ۵۰۲ ماده د مزور سند له وړاندې کولو څخه بحث کوي، نه د سند له تزویرتوب څخه.

لاندې د جزا کود په ۵۰۲ مه ماده کې له درج شوو جرمونو څخه د هر یو عناصر او مجازات څېړل کېږي.

**لومړۍ فرعه: د سندونو او سوابقو د ثبت او راجستر دفترونو له منځه وړل او یا ناقصول:**
لاندې د دې کړنې عناصر او مجازات څېړل کېږي.

**الف: د سندونو او سوابقو د ثبت او راجستر دفترونو د له منځه وړلو او یا ناقصولو جرم عناصر:**
**مادي عنصر:**

دا جرم له پایله لرونکي جرمونو څخه دی. نو د هغه مادي عنصر له مادي کړنې، د جرم موضوع، پایلې او د سببیت اړیکې څخه عبارت دی.

**مادي کړنه:** د له منځه وړلو او یا ناقصولو څخه عبارت دي.

**د جرم موضوع:** د سندونو او سوابقو د ثبت او راجستر دفترونه چې د پیسو د وینځلو څخه د مخنیوي قانون له حکمونو سره سم د ساتنې وړ دي. له همدې کبله، دا ماده یوازې هغه وخت تطبیقېږي چې دا سندونه تلف او یا ناقص شي، که نور رسمي سندونه اتلاف شي، نو د جزا کود له ۴۵۸ څخه تر ۴۶۰ مادو پورې تطبیقېږي. دا سندونه د پیسو د وینځلو څخه د مخنیوي قانون په ۱۶مه ماده کې داسې بیان شوي دي:

**«(۱) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، په ترسره شوو یا نهایي شوو داخلي او نړیوالو معاملو پورې اړوند اړین ټول سندونه د اجراء یا یې د اجراء د پیل له نېټې څخه، لږ تر لږه د پنځو کلونو مودې لپاره وساتي.**

**(۲) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د پېرېدونکي په پېژندګلوۍ پورې اړوند اطلاعات او اړوند مصدقه سندونه، د حسابونو سندونه او سوداګریزې لیکنې چې د پېرېدونکو د څارنې په بهیر کې د دې قانون په دوه یم فصل کې د درج شوو حکمونو مطابق لاسته راغلي دي، په داسې ډول چې واکمنو کورنیو مقاماتو لپاره د لاس رسي وړ وي، لږ تر لږه د پنځو کلونو مودې یا د اړتیا یا د واکمنو مقاماتو د تجویز په صورت کې د سوداګریزو مناسباتو یا د معاملې د ترسره کولو له پای ته رسېدو څخه وروسته، له پنځو کلونو څخه زیات وساتي.**

**(۳) واکمنه څارنیزه مرجع کولای شي، د پېرېدونکي، مؤکل، ګټه اخیستونکي، استازي، حقیقي مالک د پېژندګلوۍ د تشخیصولو او د شکمنو معاملو د تشخیصولو په منظور، رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه کړي، ترڅو د اړوندو کړنلارو مطابق، سراسري (ډېټابیس) معلوماتي مرکز په مرکزي دفتر، اړوندو نمایندګیو او هغو تابعه شرکتونو کې چې د عمده برخې مالکیت یې په واک کې لري، جوړ کړي.**

**(٤) رپوټ ورکوونکې مرجع مکلفه ده، د دې مادې په (۱، ۲ او ۳) فقرو کې درج شوي سندونه وساتي او داډ ترلاسه کړي چې لومړني (مقدماتي) سندونه او معلومات په آسانۍ سره د مالي استخباراتو د واحد او نورو واکمنو مراجعو په واک کې قرار لري او د معاملو د څېړنې لپاره بسنه کوي».**

**پایله او د سببیت اړیکه:** د جرم د مرتکب د کړنې په پایله کې په پورته سندونو کې له منځه تلل او یا د نقص واردېدل.

**(۱۹) نولسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د ۵۰۲مې مادې لومړۍ فقرې د «**د سندونو او سوابقو د ثبت او راجستر د هغو دفترونو چې د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو څخه د مخنیوي قانون له حکمونو سره سم د ساتنې وړ وي**» له منځه وړل او یا ناقصول جرم ګڼلی دی. نوموړې فقرې له ډیټابیس څخه بحث نه دی کړی. په داسې حال کې چې د پیسو د وینځلو څخه د مخنیوي قانون د ۱٦مې مادې د ۳ او ۴ فقرو پر بنسټ رپوټ ورکوونکې مراجع د ډیټابیس په ساتنې هم مکلفې ګرځي. ستاسو له نظره، د ډیټابیس اتلاف او یا د هغه ناقصول دا جرم رامنځته کوي یا نه؟

**معنوي عنصر:**

دا جرم له عمدي جرمونو څخه دی، ځکه چې د ۵۰۲مې مادې لومړۍ فقرې صراحتاً ویلي دي چې «**عمداً ناقص یا له منځه یوسي**». او د هغه جرمي قصد د عام قصد له ډول څخه دی. له همدې کبله، دا ماده هغه وخت تطبیقېږي چې شخص عامدانه او آګاهانه نوموړي دفترونه ناقص او له منځه یوسي. خو که د هغه د غفلت او اهمال په پایله کې له منځه ولاړ شي، نو دا ماده د تطبیق وړ نه ده، خو د ۴۵۸مې مادې ۵ فقره په دې برخه کې د تطبیق وړ ده چې داسې صراحت لري:

**« (۵) که چېرې د بهرني دولت یا بین المللي یا بین الحکومتي سازمان یا غیر دولتي مؤسسې یا خصوصي برخې د هغه مؤظف چې د سندونو یا معلوماتو په ساتنه مکلف وي، د غفلت یا اهمال له امله، سندونه یا معلومات غلا یا پټ یا تلف شي، مرتکب له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي».**

په هغه صورت کې چې له مرتکب سره ځانګړی قصد شتون ولري، د اصلي جرم د مظنون په تېښته کې د مرستې او یا «د وجوه او شتمنۍ د واقعي ماهیت، سرچینې، موقعیت، د تصرف څرنګوالي، انتقال یا د مالکیت حق پټولو» له ډول څخه د هغه جرمي ځانګړنه په پیسو وینځلو بدلېږي[۱].

**ب: د سندونو او سوابقو د ثبت او راجستر دفترونو د له منځه وړلو او یا ناقصولو جرم مجازات:**

**د عادي شخص مجازات:** که دا جرم په غیر عمدي ډول د رپوټ ورکوونکې مرجع د مؤظف او یا د رپوټ ورکوونکې مرجع پرته د بل شخص لخوا واقع شي، نوموړی شخص د جزا کود د ۴۵۸مې مادې له ۵ فقرې سره سم له دېرشو زرو تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي. خو که په عامدانه ډول عمل ترسره شوی وي، نو د جزا کود د ۵۰۲مې مادې ۱ فقرې سره سم او د جزا کود د ۴۵۸مې مادې د ۵ فقرې په پام کې نیولو کې سره په شپېتو زرو افغانیو نغدي جزا محکومېږي.

**د رپوټ ورکوونکې مرجع مجازات:** که پورته جرم په خپله د رپوټ ورکوونکې مرجع لخوا ارتکاب ومومي، په خطا حالت کې د جزا کود د ۴۵۸مې مادې له ۵ فقرې سره سم داسې چې فوقاً تشریح شوې، مجازات کېږي؛ خو په عمد حالت کې د جزا کود د ۵۰۲مې مادې له ۲ فقرې سره سم له یو میلیون تر پنځه میلیونو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**ملاحظه:**

که چېرې دا جرم د اصلي جزم د مظنون په تېښته کې د مرستې او یا د نامشروع شتمنیو د سرچینې پټولو او د پیسو وینځلو په جرم کې د مرستې په منظور ترسره شوی وي، نو د جزا کود د ۴۹۸مې مادې د ۱

---

[۱] - د جزا کود د ۴۹۸مې مادې د ۱ فقرې ۲ او ۳ جزونو ته دې مراجعه وشي.

فقرې له ۲ او ۳ اجزاؤ سره سم دا عمل د پیسو وینځل ګڼل کېږي او مرتکبین یې د جزا کود د **۴۹۹**مې او **۵۰۰**مې مادو سره سم د پیسو وینځلو جرم په جزا سره به محکوم شي.

**دویمه فرعه: اړوندو مراجعو ته د تزویر شوو قبالو یا سندونو وړاندې کول:**

لاندې د دې جرمي کړنې عناصر او مجازات څېړل کېږي.

**الف: اړوندو مراجعو ته د تزویر شوو قبالو او سندونو د وړاندې کولو جرم عناصر:**

**مادي عنصر:**

دا جرم له مطلق جرمونو څخه دی. نو د هغه مادي عناصر عبارت دي له؛ مادي کړنې، د جرم موضوع، د هغه ښکېله مرجع چې باید هغه ته سندونه وړاندې شي، خو په دې پایلې سره چې د سند وړاندې کوونکی د هغه د تحقق په لټه کې دی، د عناصرو له جملې څخه نه ګڼل کېږي.

**مادي کړنه:** د تزویر شوو قبالو په ګډون د تزویر شوو سندونو له وړاندې کولو څخه عبارت ده. نو دا جرم د تزویر شوي سند له کارولو څخه بحث کوي، نه د سند نه تزویرولو څخه. که مرتکب سند تزویر کړي، نو ۴۳٦ تر ۴۴۲ مادو تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

**د جرم موضوع:** د جرم موضوع د تزویر شوو قبالو په ګډون له تزویر شوو سندونو څخه عبارت ده.

**(۲۰) شلم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د جزا کود د ۵۰۲مې مادې د ۱ فقرې په ۲ جزء کې له درج سندونو څخه مراد کوم سندونه دي؟ آیا مطلق سندونه یا که هغه سندونه چې د پیسو د وینځلو جرم او د هغه پر وړاندې د مبارزې په اړه د کارولو وړ او ساتل کېږي؟

**احتمالي ځواب:**

له سندونو څخه مراد په دې ځای کې مطلق سندونه نه دي. ځکه چې د دې مادې په لومړیو کې تصریح شوي دي «**هغه شخص چې د پیسو د سپینولو د جرم په اړوند له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي...**». سربېره پردې، د دې مادې

سیاق او سباق هم غوښتنه لري چې په دې ځای کې سندونه د هغه په عام مفهوم سره تفسیر نه کړو، بلکه هغه د پیسو وینځلو جرم پورې ځانګړي کړو. په همدې اساس، له سندونو څخه مراد هغه سندونه دي چې رپوټ ورکوونکې مراجع د پیسو وینځلو جرم په برخه کې د هغه په ساتلو مکلف دي او ترځنګ یې د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې «**اړوندو مراجعو**» ته په وړاندې کولو مکلف دي. نو له همدې کبله، که رپوټ ورکوونکې مرجع او یا د هغه له مؤظفینو څخه یو تحصیلي سند تزویر کړي ترڅو د تحصیلاتو په ادامه کې له هغه څخه ګټه پورته کړي، نو دا ماده د تطبیق وړ نه ده، بلکه د تزویل د فصل مادې چې وړاندې ورته اشاره وشوه، تطبیقېږي.

که تاسو کوم بل نظر لرې، په ټولګي کې یې مطرح کړئ.

**هغه ښکېله مرجع چې باید هغه ته سندونه برابر کړل شي:** دا ماده هغه وخت تطبیقېږي چې نوموړی سند د هغه اړوندې مرجع ته وړاندې شي. له اړوندې مرجع څخه مراد ټولې هغه ادارې دي چې د پیسو د وینځلو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې فعالیت کوي، لکه د معاملو او مالي راپورونو د شننې مرکز (فنترکا)، د افغانستان بانک، د مالیې وزارت د ګمرکونو ریاست، څارنوالی، محکمې او داسې نور. خو که تزویر شوی سند له اړوندې مرجع پرته بلې ته وړاندې شي، او یا تزویر شوی سند د پیسو د وینځلو موضوع اړوند نه وي، نو دا ماده نه تطبیقېږي.

**معنوي عنصر:**

دا جرم له عمدي جرمونو څخه دی، ځکه چې قانون په صراحت سره ویلي دي «قبالې یا سندونه **د هغو له تزویرتوب حخه په خبرتیا سره....**». له همدې کبله، که د سند د تزویرتوب په اړه خبر نه وي، د هغه کړنه جرم نه دی.

**ب: د تزویر شوو قبالو یا سندونو د جرم مجازات:**

**د عادي شخص مجازات:** که عادي شخص په دې جرم مرتکب شي، نو د جزا کود د ۵۰۲مې مادې له ۱ فقرې سره سم او د جزا کود د ۴۴۳مې مادې د ۱ فقرې په پام کې نیولو سره د قصیر حبس په اکثر حد یا د شپېتو زرو افغانیو په نغدي جزا محکومېږي.

**د رپوټ ورکوونکې مرجع مجازات:** که پورته کړنه د رپوټ ورکوونکې مرجع لخوا ترسره شي، نو د جزا کود د ۵۰۲مې مادې له ۲ فقرې سره سم موصوف له یو میلیون تر پنځو میلیونو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**درېیم مطلب: د معلوماتو، رپوټونو یا محرمو ثبت شوو سندونو غیر قانوني افشاء:**

د معلوماتو د غیر قانوني افشاء په بېلابېلو برخو کې جرم انګاري شوې ده. د هغه د عمومي حالت حکم د جزا کود په ٦٢٧مه ماده کې بیان شوی دی[1]. خو د پیسو د وینځلو جرم په برخه کې د جزا کود ۵۰۳مه ماده تطبیقېږي. نوموړې مادې په دې اړه داسې صراحت لري:

**« (۱) که چېرې د رپوټ ورکوونکې مرجع مؤظف له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي، تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تر یو سلو شلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا یا په دواړو جزاګانو محکومېږي:**

**۱- په یوه رپوټ پورې د اړوندو معلوماتو عمدي افشاء کول هغه شخص یا مرجع ته چې د هغو د ترلاسه کولو حق نه لري.**

**۲- په هغه صورت کې چې د خپلو کاري یا تجارتي چارو په بهیر کې په یوه ډول نه یو ډول د پیسو د سپینولو د یوې قضیې په اړه د واکمنو مراجعو له تر نظر لاندې اقداماتو یا د قانون د تنفیذ د مراجعو له بررسیو یا تحقیقاتو څخه اطلاع ومومي او د هغو له قانوني علني کېدو د مخه، موضوع عمداً هغه شخص یا اشخاصو ته چې د هغوی په هکله تحقیق روان دی او یا هر بل شخص ته چې د هغو د ترلاسه کولو حق نه لري، افشاء کړي.**

**۳- د هغو سندونو افشاء چې د پیسو د سپینولو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي د قانون له حکمونو سره سم، په محرمه توګه ساتل کېږي، هغه شخص ته چې د ترلاسه کولو حق یې نه لري.**

---

[1] - د جزا کود ٦٢٧مه ماده « هغه شخص چې د دندې، کسب، پیشې، صنعت، فن په حکم یا د خپل کار د طبیعت په لحاظ په یوه سر له اسرارو څخه، علم حاصل کړي او هغه د قانوني مصرحه حالاتو په غیر کې افشاء کړي یا هغه د ځان یا بل شخص په منفعت استعمال کړي، د اسرارو د افشاء د جرم مرتکب پېژندل کېږي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي».

**(۲) په هغه صورت کې چې د دې مادې د (۱) فقرې په ۱، ۲ او ۳ اجزاوو کې درج شوي جرمونه د حکمي شخص په واسطه ارتکاب شي، مرتکب له یو سلو شلو زرو څخه تر دوه سوه څلوېښتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي».**

لاندې د دې جرم عناصر او مجازات په مختصر ډول بیانېږي.

**لومړۍ فرعه: د معلوماتو، رپوټونو یا محرمو ثبت شوو سندونو د غیر قانوني افشاء جرم عناصر:**

**مادي عنصر:**

د دې جرم مادي عنصر له جرمي کړنې، د جرم موضوع، د جرم د مرتکب صفت، هغه لور/جهت څخه عبارت دي چې هغه ته افشاء کول صورت نیسي.

**جرمي کړنه:** جرمي کړنه له افشاء کولو څخه عبارت ده.

**د جرم موضوع:** د جرم موضوع له لاندې درې مواردو څخه یوه ده:

۱. له هغو **محرمو** رپوټونو څخه د یو رپوټ په اړه معلومات چې د پیسو د وینځلو قضیو په اړه چمتو کې.ي. د ۵۰۳مې مادې د ۱ فقرې په ۱ جزء کې د "**محرم**" قید د "**رپوټ**" ترڅنګ راوړل شوی دی. خو د "**افشاء**" کلمې ته په پام چې په نوموړي متن کې شتون لري، دا قید د رعایت وړ نه دی، ځکه چې له نورو سره د غیر محرمو رپوټونو شریکول "افشاء" نه ګڼل کېږي. د دې مسئلې اهمیت هغه وخت مطرح کېږي چې د معاملو او مالي رپوټونو د شننې مرکز د خپلو لاسته راوړنو او فعالیتونو په اړه عمومي رپوټونه خپروي. د دې رپوټونو او یا هغه ته د ورته رپوټونو د محتویاتو شریکول له شک پرته دا جرم نه رامنځته کوي.

محرم رپوټونه هغه رپوټونه دي چې د هغه افشاء کول د کشف، تحقیق او د پیسو د وینځلو جرمونو محاکمې پر بهیر منفي اغېزه غورځوي. دا رپوټونه بېلابېل ډولونه لري او له بېلابېلو مراجعو څخه صادرېږي. تر ټولو مهم هغه یې عبارت دي له:

- **رپوټونه چې د رپوټ ورکوونکې مراجعو لخوا چمتو کېږي:** لکه له حده زیاتو نغدي معاملو رپوټ (۱۷ ماده)، د مشکوکو معاملو په اړه رپوټ (۱۸ ماده او د ۱۴ مادې ۵ فقره)، د مالي استخباراتو واحد ته د هغوی د غوښتنو پر بنسټ معلومات وړاندې کول (۲۸ ماده).

- **رپوټه چې د څارنیزو مراجعو لخوا وړاندې کېږي:** لکه د رپوټ ورکوونکې مراجعو د کار د نواقصو او د مؤیداتو د تطبیق او د هغوی پر وړاندې د تدبیرونو د وضع کولو په اړه رپوټ (د ۲۲مې مادې د ۱ فقرې

٦ جزء)، په ځانګړي ډول د پیسو په لېږد کې د واقع شوو تخطیو په اړه د ګمرکونو د مامور رپوټ (د پیسو د لېږد کنټرول او رپوټ ورکولو مقررې د ۸ مادې ۳ فقره).

۲. دویمه موضوع عبارت ده له «د پیسو د وینځلو یوې قضیې په اړه د ښکېلو مراجعو د پام وړ اقدامات یا د قانون د تنفیذ مراجعو څېړنې یا تحقیقات».

۳. درېیمه موضوع عبارت ده له « هغه سندونه چې د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون له حکمونو سره سم په محرم ډول ساتل کېږي». دا سندونه په هارډ یا سافټ بڼه شتون درلودلای شي. د پیسو د مخینوي قانون د ۲۸مې مادې ۴ فقره د معاملو او مالي رپوټونو د شننې مرکز د واصله رپوټونو په اړه د معلوماتو درلودونکي معلوماتي بانک (ډیټابیس) په جوړولو او ساتلو مکلف کړی دی.

**د مرتکب صفت:** دا جرم هغه وخت رامنځته کېږي چې د رپوټ ورکوونکې مراجعو یا د هغوی د مؤظفینو لخوا د افشاء عمل ارتکاب ومومي. ځکه چې د جزا کوډ تصریح کړې ده « **که چېرې د رپوټ ورکوونکې مرجع مؤظف له لاندې اعمالو څخه په یو مرتکب شي...**».

د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون د افشاء کولو جرم د رپوټ ورکوونکې مراجعو په کړنې پورې منحصر کول نه غوښتل. د نوموړي قانون ۵۱مه ماده داسې صراحت لري: « (۱) **حقیقي یا حکمي شخص** چې له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي، د دې مادې په (۲) فقره کې له درج حکمونو سره سم مجازات کېږي: ...».

**(۲۱) یوویشتم فعالیت**

**ګروپي کار:**

ګډونوال دې د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون مطالعه کړي او د رپوټ ورکوونکې مراجعو پرته د بل او د هغوی د مؤظفینو له لورې د محرمیت ساتلو مکلفیتونه دې مشخص کړي. بیا دې توضیح کړي چې که احیاناً نوموړي اشخاص د خپلو مکلفیتونو بر خلاف چې د محرمیت ساتل دي، د معلوماتو په افشاء کولو لاس پورې کړي، د هغوی کړنې د عدلي تعقیب وړ دي یا نه؟ که وړ دي، نو د قانون له کومې مادې سره سم؟ د بېلګې په ډول؛ د معلوماتو او مالي رپوټونو د شننې مرکز د کارکوونکو لخوا د معلوماتو د افشاء کولو د ممنوعیت په اړه د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون ۲٦مه ماده ته پام وکړئ:

**«(۱) د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز کارکوونکي مکلف دي، د خپلې دندې پرمهال او یا له هغه وروسته ټول ترلاسه شوي معلومات پټ او محرم وساتي او پرته له اړتیا او څو حالتونو چې په دې قانون کې تصریح شوي دي، افشاء نه کړي.**
**(۲) د مالي رپوټونو او معاملو د شننې مرکز اوسني یا پخواني کارکوونکي یا مؤظفین چې د دې مادې د (۱) فقرې درج شوي معلومات په قصدي توګه افشاء کړي، د جزاء قانون د حکمونو له مخې مجازات کېږي.»**

همدارنګه ګډونوال دې د جزا کود دا طریقه چې د افشاء کولو جرم یې رپوټ ورکوونکي مراجعو پورې منحصر کړی دی، و ارزوي او پرې نیوکه دې وکړي.

**هغه اړخ چې معلومات ورته افشاء کېږي:** د ۵۰۳مې مادې په ۱ فقره کې د درج شوو درې ګونو موضوعاتو افشاء کول هغه وخت جرم ګڼل کېږي چې له اړوندو مراجعو پرته صورت ونیسي.

**معنوي عنصر:**

دا جرم له عمدي جرمونو څخه دی، ځکه چې قانون د ۵۰۳مې مادې د ۱ فقرې په ۱ او ۲ جزؤنو کې د عمدیت په اړه تصریح کړې ده. نو د هغه په معنوي عنصر کې علم او اراده شامل دي. یعنې جرم هغه وخت واقع کېږي چې رپوټ ورکوونکې مراجع او یا یې مؤظفین په عمدي ډول او آګاهانه د ۵۰۳ مادې د ۱ فقرې مندرجات له اړوندو مراجعو څخه پرته له بلې سره شریک کړي.

**دویمه فرعه: د معلوماتو، رپوټونو یا محرمو ثبت شوو سندونو د غیر قانوني افشاء جرم مجازات:**

**الف: د حقیقي شخص مجازات:**

که چېرې د رپوټ ورکوونکي مراجعو مؤظف په دې جرم مرتکب شي، له لاندې درې جزاګانو څخه په یوې محکومېږي:

- تر دوو کلونو پورې متوسط حبس؛ یا
- له شپېتو زرو څخه تر یو سلو او شلو زرو افغانیو پورې نغدي جزا؛ یا
- دواړه پورته جزاګانې.

**ب: د حکمي شخص مجازات:**

که چېرې رپوټ ورکوونکې مرجع حکمي شخص وي، په دې جرم مرتکب شي، نو له یو سلو شلو زو څخه تر دوه سوو څلوېښتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي. (د جزا کود د ۵۰۳مې مادې ۲ فقره). د جرم د تکرار په صورت کې د هغه جواز تر ۵ کلونو پورې اخیستل کېږي

## ځلورم مطلب: له نظارتي واکمنو مراجعو سره نه همکاري:

د جزا کود ۵۰۴مه ماده په دې اړه داسې صراحت لري:

**« هغه شخص چې د پیسو د سپینولو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي له قانون سره سم، له نظارتي واکمنو مراجعو سره په همکارۍ مکلف وي، د نظارتي واکمنو مراجعو په وړاندې د خپلو قانوني مکلفیتونو له اجراء څخه عمداً ډډه وکړي، په قصیر حبس او له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي».**

دا جرم د پیسو د وینځلو له جرم سره له اړوندو جرمونو څخه یو دی چې د امتناع شکل لري. لاندې د دې جرم عناصر او مجازات په مختصر ډول بیانېږي.

**لومړۍ فرعه: له نظارتي واکمنو مراجعو سره د نه همکارۍ جرم عناصر:**

**الف: مادي عنصر:**

دا جرم له مطلق جرمونو څخه دی. د هغه مادي عناصر عبارت دي له: له نظارتي واکمنو مراجعو سره د همکارۍ د مکلفیت درلودل او له همکارۍ څخه ډډه.

د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون بېلابېلې مراجع په همکارۍ مکلفې کړې دي چې لاندې بیانېږي:

د پیسو وینځلو څخه د مخنیوي قانون ۲۳مه ماده داسې صراحت لري:

**«د دې قانون د حکمونو تابع اشخاص مکلف دي د مالي استخباراتو له واحد او څارنیزو نورو واکمنو مراجعو سره همکاري وکړي او د هغوی په دندو او قانوني واکونو کې له خنډ یا اخلال څخه ډډه وکړي، که نه نو د دې قانون د دوه پنځوسمې مادې د (۳) فقرې د درج شوي حکم له مخې مجازات کېږي».**

**(۲۲) دوه ویشتم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**
لیدل کېږي چې د جزا کود ۵۰۴ مه ماده او همدارنګه د پیسو د مخنیوي قانون پورته ذکر شوې ماده له څـارنیزو ادارو سره نه همکاري جرم ګڼلی دی. خو په خپله دا څارنیزې ادارې هم د پیسو وینځلو څخه د مخنیوي په قانون کې له نـورو مـلي او نړیوالو ادارو سره په همکارۍ مکلفي دي، که دا ادارې همکاري ونه کړي، آیا د هغوی کړنې په دې جرم کې شاملېږي یا نه؟
د پیسو د وینځلو مخنیوي قانون د ۲۲مې مادې د ۱ فقرې ۸ جزء د څارنیزو ادارو مکلفیتونه د «۸- لـه واکمنـو داخـلي او خارجي مراجعو، د پیسو د وینځلو، د تروریزم د تمویل یا اصلي جرمونو پر وړاندې د مبارزې له مسؤول سره همکـاري او د معلوماتو شریکول» له جملې څخه ګڼي.

**ب: معنوي عنصر:**
دا جرم له عمدي جرمونو څخه دی، ځکه چـې قـانون تصریـح کـړې ده چـې «... **پـه عمـدي ډول ډډه وکړي...**». نو د هغه په معنوي عنصر کې علم او اراده شامل دي. په دې معنی چې شخص په عمدي او آګاهانه توګه له همکارۍ څخه ډډه وکړي.

## دویمه فرعه: له نظارتي واکمنو مراجعو سره د نه همکارۍ مجازات:
د دې جرم جزا له «قصیر حبس او له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې له نغـدي جـزا» څخـه عبارت دي. لیدل کېږي چې قانون له "واو" توري څخه ګټه پورته کړې ده نـه لـه "یـا" تـوري څخـه. لـه همدې کبله، د دې جرم مجازات د حبس او د نعدي جزا مجموعه ده نه له دوی څخه یو.

## پنځم مطلب: د پیسو نا قانونه دننه کول یا بهر کول:
دا جرم د پیسو د ناقانونه دننه کولو یا بهر کولو په اړه بحث کوي، نه دا د ناقانونه پیسو د دننه کولو یا بهـر کولو په اړه بحث کوي. په بل عبارت، قانوني پیسې دي، خو د هغه دننه کول یا بهر کول قانوني نـه دي؛ ځکه چې که پیسې نا قانونه وي (له جرم څخه راپیدا شوي وي)، د هغه دننه کول یا بهـر کـول د پیسـو د وینځلو له جرم څخه ګڼل کېږي، نه دا جرم. لاندې د جزا کود د ۵۰۵مې مادې متن لومړی ذکر کېږي او بیا د هغه عناصر او مجازات بیانېږي. د جزا کود د ۵۰۵مې مادې متن په دې اړه داسې صراحت لري:

**« هغه شخص چې په اړوند تقنيني سند كې له ټاكل شوي حد څخه زيات مبلغ په نغدې يا د بې نومه معاملې وړ سند په شكل له ځان سره په نا قانوني توګه هېواد ته دننه يا بهر كړي يا د پستي استونې، قاصد، د كاليو او بار د حمل او نقل د شركتونو په ذريعه او په نورو ډولونو يې وارد يا صادر كړي، او د پيسو د انتقال يا د بې نومه معاملې وړ سند د مقدار منشاء، موخه يا استفادې په هكله سند وړاندې نه كړاى شي، مرتكب د نوموړي مبلغ پر مصادرې برسېره په لاندې مجازاتو هم محكومېږي:**

**۱- حقيقي شخص په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا.**
**۲- حكمي شخص له شپېتو زرو څخه تر دوه سوه او څلوېښتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا»**.

**فرع اول: د پيسو ناقانونه دننه كولو او بهر كولو جرم عناصر:**
**الف: مادي عنصر:**
دا جرم له پايله لرونكي جرمونو څخه دى. نو د هغه په مادي عنصر كې فعل، د جرم موضوع، د ثبوت كوونكي سند نه وړاندې كول، پايله او د سببيت اړيكه شاملېږي.
**فعل**: فعل له دننه كولو يا بهر كولو څخه عبارت دى.
**د فعل موضوع**: له دې دوو موضوع ګانو څخه يوه عبارت ده: ۱) په اړوند تقنيني سند كې له ټاكل شوي حد څخه زيات نغدي مبلغ؛ او يا ۲) په اړوند تقنيني سند كې له ټاكل شوي حد څخه زيات د معاملې وړ سند.
د معاملې وړ سندونه عبارت دي له «**د برات، حجت (سفته) او چک په ګډون مالي بهار لرونكي سندونه**[1]». له بې نومه والي څخه مراد په سند كې د ګټه اخيستونكي (د پيسو د ترلاسه كوونكي) د نوم نشتوالى، نه د سند د صادروونكي او يا مخاطب نوم، ځكه چې «**د معاملې د اړخ معين والى**»[2] د دې سندونو له اساسي شرطونو څخه يو دى. د تأديې ترلاسه كوونكى «**هغه شخص دى چې نوم يې د معاملې وړ سند كې درج شوى او په سند كې د درج تأديه امر هغه ته يا د هغه په امر د بل شخص په وجه كې صادر شوې وي**»[3]. كه د هغه نوم په سند كې درج وي، سند يوازې هغه ته او يا هغه كس ته چې هغه

---

[1] - جزء ۱ مادۀ ۳ قانون اسناد قابل معامله(۱۳۸۷). تعریف و احکام تفصیلی این اسناد در قانون متذکره به تفصیل شرح شده است.
[2] - د معاملې وړ سندونو قانون د ٦مې مادې د ۱ فقرې ۳ جزء (۱۳۸۷).
[3] - د معاملې وړ سندونو د قانون د ۳مې مادې ۲۸ جزء (۱۳۸۷).

ورته ظهر لیکلی وي، د تأدیې وړ دی. خو که د هغه نوم په سند کې درج نه وي، د سند لېږدوونکي (د سند درلودونکي) ته د تأدیې وړ نه دی. بې نومه سندونه د بانکنوټونو په څېر دي، ځکه چې په بانکنوټونو کې هم د ګټه اخیستونکي (د تأدیې ترلاسه کوونکي) نوم درج نه دی. بلکه د افغانستان بانک په بانکنوټونو باندې په صراحت سره لیکلي دي چې ژمن دي ترڅو د سند لېږدوونکي (د سند درلودونکي) ته د هغه معادل وجه د غوښتنې پر وخت ورکړل شي «د افغانستان بانک د دې سند لرونکي ته وعده ورکوي چې د غوښتنې په وخت کښې.... افغانی ورکړي». له همدې کبله، له دواړو سره یو شان برخورد صورت موندلی دی.

یوازې مشخصه نه ده چې ولې د جزا کود دا جرم د نغدو پیسو او یا له بې نومه معاملې وړ سندونو پورې منحصر کړی دی. ځکه چې د اړوندو تقنیني سندونو سره سم د کریمه ډبره لکه طلا، الماس او داسې نورو انتقال که ارزښت یې له ټاکل شوي حد څخه زیات وي، جایز نه دي[1].

هېواد ته د پیسو د دننه کولو او بهر کولو په اړه د همدې برخې د لومړي مبحث په لومړۍ وینا کې په تفصیل سره بحث شوی دی[2].

د لېږد وسیله د دې جرم له عناصرو څخه نه ده. نو دا جرم واقع کېږي، که شخص د دې جرم موضوع له ځان سره انتقالوله، او یا د پستي خدمتونو او داسې نورو له لارې یا حتی له الکترونیکي لارې.

**د سند نه وړاندې کول:** قانون شرط ایښی دی چې دا جرم هغه وخت رامنځته کېږي چې لېږدوونکی « **... د پیسو د لېږد یا د بې نومه معاملې وړ سند د مقدار، منشاء، هدف یا استفادې په اړه ونه شي کولای سند وړاندې کړي**». د هغه عکس ښیي چې که سند یې وړاندې کړلای شو، له حد څخه زیات لېږد جرم نه دی. نو په دې ځای کې درې حالتونه متصور دي:

۱- که ثابت شي چې نوموړې پیسې له جرم څخه راپیدا شوې دي. دا حالت د پیسو د وینځلو جرم ګڼل کېږي او دا ماده د هغه په اړه نه تطبیقېږي، بلکه د پیسو د وینځلو جرم مادې تطبیقېږي (......).

۲- که ثابت نه شي چې نوموړې اندازه پیسې له جرم څخه راپیدا شوې نه دي. خو په ورته وخت کې لېږدوونکی « **د پیسو د لېږد یا د بې نومه معاملې وړ سند د مقدار، منشاء، هدف یا استفادې په اړه ونه شي**

---

[1] - په (۱۲۰۳) ګڼه رسمي جریده کې د خپور شوي، د پیسو د لېږد کنټرول او راپور ورکولو مقررې د ۵مې مادې تعدیل ته دې مراجعه وشي.

[2] - د همدې کتاب ۷۸ – ۸۳ پاڼو ته دې مراجعه وشي.

**کولای سند وړاندې کړي»**. د جرم دا کړنه د پیسو د وینځلو جرم اړوند ده او همدا ماده (د جزا کود **۵۰۵** ماده) د هغه په برخه کې تطبیقېږي.

۳- لېږدوونکی وکولای شي د پیسو د لېږد یا د بې نومه معاملې وړ سند د مقدار، منشاء، هدف یا استفادې په اړه سند وړاندې کړلای شي. دا کړنه جرم نه دی. خو له هغه ځآیه چې لېږدوونکی له حد څخه زیاته اندازه پیسې لېږدوي، د مقرراتو مخالف عمل کړی دی «**د لېږد وړ اندازه پیسو د ۱۵ سلنې برابر جریمې په ورکړې مکلف کېږي**»[۱]. د نوموړې جریمې د تکرار په صورت کې ۳۰٪ سلنې ته پورته کېږي[۲].

**پایله او د سببیت اړیکه:** پایله د هېواد دننه یا له هېواد څخه بهر کولو څخه عبارت ده. دا پایله باید د مرتکب له فعل سره د سببیت اړیکه ولري.

**ب: معنوي عنصر:**

دا جرم له عمدي جرمونو څخه دی. نو هغه وخت رامنځته کېږي چې شخص په عامدانه او آگانه توګه د جرم د مادي رکن مرتکب شي. که علم او واک ونه لري، نو دا جرم نه رامنځته کېږي. د بېلګې په ډول؛ مال بل شخص د هغه په بکس کې د هغه له آګاهۍ پرته ننباسلی وي او دا موضوع ثابته شي، او یا بل څوک هغه نوموړي عمل ته مجبوره کړی وي او ثابته شي.

**دویمه فرعه: د پیسو ناقانونه دننه کولو او بهر کولو جرم مجازات:**

د دې جرم مجازات د مرتکب د شخصیت له ډول سره سم توپیر لري:

الف: د حقیقي شخص مجازات:

۱. د هغه مبلغ مصادره چې غواړي انتقال یې کړي.

۲. له لاندې جزاګانو څخه یوه:

- د قصیر حبس؛ یا
- له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې نغدي جزا.

---

[۱] - په (۱۲۰۳) ګڼه رسمي جریده کې د خپور شي د پیسو د لیږد کنټرول او راپور ورکولو مقررې د تعدیل د ۸مې مادې ۵ فقره.

[۲] - په (۱۲۰۳) ګڼه رسمي جریده کې د خپور شي د پیسو د لیږد کنټرول او راپور ورکولو مقررې د تعدیل د ۸مې مادې ٦ فقره.

ب: د حکمي شخص مجازات:

۱. د هغه مبلغ مصادره چې غواړي انتقال يې کړي.

۲. له شپېتو زرو څخه تر دوه سوه او څلوېښت زرو افغانيو پورې نغدي جزا.

د يادونې وړ ده چې د پيسو د لېږد کنټرول او مقررې د تعديل د ۸مې مادې ۵ فقره (۱۳۹۴) د هغه شخص په اړه چې له حده زياته شتمني له خبرولو پرته بهر کړي او يا غلط معلومات وړاندې کړي، ۱۵٪ سلنه نغدي جريمه د تطبيق وړ ګڼل کيږي او د تکرا په صورت کې ۳۰٪ سلنه نغدي جريمه.

| |
|---|
| **(۲۳) درويشتم فعاليت** |
| **مباحثوي پوښتنه:** |
| ستاسو له نظره، آيا په ۵۰۵ ماده کې درج جزاوې له نغدي جريمې سره يوځای تطبيقيږي او يا يوازې له دوی څخه يو؟ |

## شپږم مطلب: پټول، انتقال يا د حقيقت خلاف بر ملا کول (ښکاره کول):

د جزا کود ۵۰۶مه ماده په دې اړه داسې صراحت لري:

**« هغه شخص چې پيسې، بې نومه بها لرونکي سندونه يا قيمتي فلزات يا احجار چې د پيسو سپينولو له جرم، د تروريزم د تمويل له جرم يا له اصلي جرمونو سره مرتبط وي او اړوند تقنيني سند د هغو د ضبط، انجماد يا مصادرې په اړه حکم کړی وي، هغه پټ يا د حقيقت خلاف برملا يا انتقال کړي، په لاندې توګه مجازات کيږي:**

**۱- حقيقي شخص په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا يا په دواړو جزاګانو.**

**۲- حکمي شخص له شپېتو زرو څخه تر دوه سوه او څلوېښت زرو افغانيو پورې په نغدي جزا او د يوه کال مودې لپاره د فعاليت د جواز تعليق يا سلب».**

دا جرم له هغه حالت څخه بحث کوي چې **لومړی**: د پيسو جرم، يا د تروريزم د تمويل جرم او يا اصلي جرم رامنځته شوی وي. **دويم**: له دې جرمونو څخه شتمنۍ سرچينه اخيستې وي او يا د هغه په ارتکاب کې کارول شوې وي، او **دريم**: بيا شخص د دې شتمنيو په برخه کې له لاندې کړنو څخه يوه ترسره کړي:

- د شتمنۍ پټول - د حقیقت خلاف د شتمنۍ ښکاره کول - د شتمنۍ انتقالول

یوازې دا جرم د پیسو وینځلو جرم سره تداخل لري، مشخصه نه ده چې ولې قانون جوړوونکی هغه د یو جلا جرم په توګه له خفیفې جزا سره بیان کړی دی. ځکه چې له تعریف سره سم چې د پیسو وینځلو په اړه شوی دی، له جرم څخه د راپید شوې شتمنۍ پټول، یا د حقیقت خلاف برملا کول او یا د هغه انتقالول د پیسو وینځلو جرم ګڼل کېږي. خو دلته د جلا جرم په توګه له خفیفې جزا سره د پیسو د وینځلو جرم پېشبیني شوی دی. دا ستونزه په جزا کود کې زیاته لیدل کېږي، یعنې یو واحد عمل تر څو جرمي ځانګړنو لاندې قرار نیسي چې هره یوه یې جلا جزا لري. نو اوس کومه جزا باید تطبیق شي؟ په دا ډول مواردو کې د جرمونو د معنوي تعدد قاعده تطبیقېږي. که واحد عمل څو جرمي ځانګړنې رامنځته کړي، هماغه جرم چې جزا یې شدیده وي، پر مرتکب تنفیذېږي. له کومه ځیه چې شدید جرم د پیسو وینځلو جرم دی او وړاندې د هغه په اه په تفصیل سره مو بحث وکړ، د دې جرم د عناصرو او مجازاتو له تشریح څخه تېرېږو، ځکه چې په اوسني وضعیت کې دا ماده د تطبیق وړ نه ده.

**د روزونکي لپاره نوټ:** روزونکی دې دا مسأله له ګډونوالو سره شریک کړئ. که هغوی کوم بل نظر ولري، په اړه یې بحث وکړئ.

**د درېيمې برخې پايليزه:**

په دې برخه کې دوه موضوعات وڅېړل شول: د پيسو له وينځلو څخه د مخنيوي وقايوي تدبيرونه او جزايي تدبيرونه. د دې برخې تر ټولو مهمې پايلې عبارت دي له:

۱- قانون جوړوونکي د دې لپاره چې د پيسو د وينځلو جرم واقع نه شي، لاندې تدبيرونه پېشبيني کړي دي:

أ. د شتمنيو په لېږد کې روڼتيا: هغه اشخاص چې په فزيکي ډول شتمنۍ بهر ته لېږدوي، تر لسو زرو امريکايي ډالرو پورې ستونزه نه لري. له لسو زرو تر شلو زرو امريکايي ډالرو پورې بايد د گمرک مامورينو ته اظهار وکړي. له دې څخه زياته شتمنۍ يوازې د جواز لرونکي مالي مؤسسو لخوا انتقال مومي. د پيسو الکترونيکي لېږد يوازې د هغو بانکونو او الکترونيکي پولي مؤسسو له لارې چې د د افغانستان بانک څخه جواز لري، ترسره کېږي او پروسيجر او محدوديتونه لري.

ب. د محرميت رفع کول: که د پيسو د وينځلو قانون حکمونه د نورو قوانينو له حکمونو سره چې په هغه کې د معلوماتو محرميت ضروري گڼل شوی وي، په تعارض کې قرار ونيسي، د پيسو د وينځلو حکمونه مرجح دي او رپوټ ورکوونکې مراجع مکلفې دي ترڅو واکمنو مراجعو سره معلومات شريک کړي.

ج. د مجازي بانکونو له فعاليت منع

د.د خطرونو ارزول: رپوټ ورکوونکې مراجع مکلفې دي ترڅو د خطر اندازه او د پيسو د وينځلو جرم د رامنځته کېدو احتمال و ارزوي او له هغه سره سم د پېرودونکي د پېژندلو لپاره د مخنيوي طرز العمل او تدبيرونه په پام کې ونيسي. د شديد خطر په حالت کې شديد تدبيرونه اجراء کېږي او په عادي حالت کې لومړني او يا ساده تدبيرونه.

ه. رپوټ ورکوونکې مراجع مکلفې دي ترڅو خپل پېرودونکي وپېژني چې څوک په مستعار نوم او يا د جرم مرتکبين د دوی له لارې د پيسو د وينځلو په جرم مرتکب نه شي. د خطر د اندازې او د معاملې له ډول سره سم د پېرودونکو پېژندل توپير لري.

و. سترې او پېچلې معاملې بايد په جدي توگه وڅارل شي او د هغوی په اړه د مالي استخباراتو واحد ته راپور ورکړل شي.

ز. د هغو پېرودونکو معاملې چې سیاسي متبارز اشخاص وي او همدارنګه ممثلین او د هغوی نږدې خپلوان هم باید په جدي توګه وڅارل شي.

ح. د سوداګریزو او اقتصادي معاملو سندونه باید لږ تر لږه تر پنځو کلونو پورې وساتل شي.

ط. د مشکوکو معاملو په اړه باید د مالي استخباراتو واحد ته راپور ورکړل شي.

۲. که چېرې د پیسو د وینځلو جرم واقع شي، د هغه مرتکبینو ته د هغوی له شخصیت سره سم که حقیقي او یا حکمي اشخاص وي، د هغوی له حال سره مناسب مجازات په پام کې نیول شوي دي.

۳. حقیقي اشخاص د جرم د موضوع شتمنۍ له اندازې سره سم له دې درې جزاګانو څخه په یوې محکومېږي: یوازې نغدي جزا، نغدي جزا یا حبس، یوازې د حبس جزا.

٤. قانون جوړوونکی د حبس جزا او نغدي جزا ترمنځ د ټاکلو واک او صلاحیت قاضي ته ورکړی دی، له قاضي سره د ټاکلو معیار باید داسې وي چې له دې دوو جزاګانو څخه هره یو یې چې د محکوم علیه په اصلاح کې زیاته مرسته کوي، هغه وټاکي.

۵. حکمي اشخاص په دې شرط د مجازاتو وړ دي چې جرم د رئیس، ممثل او د هغوی د قانوني استازي لخوا ترسره شوی وي، او دویم دا چې جرم د هغوی په نوم، حساب او د هغوی په ګټه ترسره شوی وي. د حکمي شخصیت د کارکوونکو لخوا د جرم ارتکاب د حکمي شخصیت لپاره مسؤولیت نه رامنځته کوي، خو دا چې په محدودو مواردو کې چې حکمي شخصیت له هغوی څخه په څارنه کې تقصیر کړی وي او له جرم څخه یې ګټه پورته ترلاسه کړې وي.

٦. د جزا کود ۵۰۰مه مادې د حکمي شخص د پیسو د وینځلو جرم جزا په دوو ډلو وېشلې ده، نغدي جزا او غیر نغدي جزا.

۷. پر حکمي شخص په ۵۰۰مه ماده کې د درج شوو مجازاتو تطبیق پر حقیقي اشخاصو د مجازاتو د تطبیق مانع نه ګرځي؛ د حکمي شخص رئیس یا قانوني استازی چې د شرکت په نوم، حساب یا د هغه په ګټه د پیسو د وینځلو په جرم مرتکب شوی وي، د جزا کود د ۴۹۹مې مادې په درج شوو جزاګانو محکومېږي.

۸. قانون جوړوونکي ځینې هغه کړنې چې د پیسو وینځل نه ګڼل کېږي، خو د پیسو د وینځلو له جرم سره په یو ډول نه یو ډول اړیکه ولري، جرم انګاري شوی دی. دغه کړنې د پیسو د وینځلو جرم اړوندو جرمونو تر نوم لاندې پېژندل کېږي.

۹. د پیسو د وینځلو جرم اړوندو جرمونو کې لاندې جرمونه شامل دي چې په دې برخه کې تشریح شوي دي: د مشکوکو معاملو په اړه د نه اطلاع ورکولو جرم، د سندونو د له منځه وړلو یا د تزویر شوو سندونو د وړاندې کولو جرم، د معلوماتو غیر قانوني افشاء کولو جرم، له څارنیزو مراجعو سره د نه همکارۍ جرم، د پیسو د غیر قانوني دننه کولو یا بهر کولو جرم او د پټولو، انتقالولو او د حقیقت خلاف برملا کولو (ښکاره کولو) جرم.

**آخځلیکونه:**

**الف) قوانین او تړونلیکونه:**

۱. د جزا کود ۱۳۹٦ کال.

۲. د پیسو د وینځلو او له هغه څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي قانون، ۱۳۹۳ کال.

۳. د پیسو د وینځلو په اړه د ملګرو ملتونو نمونه یي قانون.

٤. د ویانا کنوانسیون، ۱۳٦۷ کال.

٥. د ویانا تړونلیک، ۱۹۸۸ کال.

٦. د ستراسبورګ تړونلیک، ۱۹۹۰ کال.

**ب) فارسي آخځلیکونه:**

۷. لیلی کمالی، آشنایی با جرم پول شویی، نسخهٔ الکترونیک.

۸. سعیده شفیعی و محمد حسن صبوری دیلمی، بررسی شیوه های مبارزه با پدیده پول شویی با تأکید بر راهکارهای مالیاتی، فصلنامه تخصصی مالیات/دوره جدید/شماره پنجم (مسلسل ۵۳)، تابستان ۱۳۸۸، ، PDF، http://taxjournal.ir/article-۱٤۳-۱-fa.pdf

۹. عبدالرضا ملک و محبوبه اصفهانی، پول شویی و راه های مبارزه با آن. www.IrPDF.com

۱۰. خانم مهجوریان، کلیات مبارزه با پول شویی، اداره مبارزه با پول شویی بانک مرکزی ایران.

۱۱. نصیر الله خالد، جرایم تطهیر پول در نظام حقوقی افغانستان، کتاب آموزشی مؤسسۀ عدالت افغانستان.

**ج) عربي آخځلیکونه:**

۱۲. محمد محیی الدین عوض، جرایم غسل الأموال، جامعة نایف، چاپ۱، ریاض، ۲۰۰۴.
۱۳. ناصر بن محمد البقمی، جریمة غسل الأموال، سیمینار ارایه شده در کلیة ملک الفهد الأمنیة.
۱۴. کبیر فتحی أحمد، جریمة تبییض الأموال، دار النهضة، چاپ ۲، مصر.
۱۵. غسیل الأموال فی ضوء الإجرام المنظم

**د) انټرنیټي سرچینې:**

١٤. The acquisition, possession or use of property, knowing, at the time of receipt, that such property was derived from an offence or offences established in accordance with subparagraph (a) of this paragraph or from an act of participation in such offence or offences;"

١٥. http://www.moqatel.com/openshare/Behoth/Ektesad٨/GhaslAmwal/index.htm

١٦. https://www.banksepah.ir/upload/modules/articles/pdfs/

١٧. https://www.didestan.com/video/d٨Dxp٣B٨

١٨, http://dab.gov.af/fa/page/about-the-bank/departments/financial-intelligence-unit